# تاریخِ افغانستان

منشیِ احمد جان

دا خواهش په شرعَ ناروا نهٔ شهٔ ګنړلَی. ځکه ئې دَ محمود په لښکرو کښې څه کسر پرې نهٔ ښود. نورو ځېرو کښې هر رنګ چه وهٔ خو په دې کار کښې ډېر مضبوط وهٔ. دَ فتح خان دَ وزیرئ په برکت محمود عیش عشرت ته وزګار وهٔ. په سپکو طبیعتونو کښې چه څومره ناکاره ځېرې وې هغه ټولې په کښې پرتې وې. په نفس خوشحالولو چرې موړ شوَی نهٔ وهٔ. دَ بادشاهئ په کارونو کښې دَ فکرونو تکلیف ئې نهٔ کاوهٔ. که چرې به له عیش عشرت نه وزګار شهٔ او دې طرف ته به ئې خیال وکړ نو بادشاهي به ئې آباده او رعیت به ئې خوشحالَ لیدهٔ او دا ټوله دَ فتح خان تر سره پورې وَه. چه چرې به ئې دَ بادشاهئ ورښې زمانه رایاده کړه چه په جګړو او فسادونو کښې دَ دهٔ تر سترګو ویستو پورې خبره رارسیدلې وَه او بیا دَ هغه سړي په سفارش خلاص شوَي وهٔ چه چا ته دهٔ نقصان رسولَی وهٔ. او چه په دې اوسنئ چپه چُپیا او امن امان بانډې به ئې غور کاوهٔ نو دَ فتح خان په احسان بانډې به خواه مخواه قایلَ کیدهٔ. چه هغهٔ ټولې جګړې دفعَ کړې. دَی ئې عیش عشرت ته وزګار کړ. ځکه دهٔ دَ خپل زوی کامران پوهولو ته څه خیال وُ نهٔ کړ. کامران له خپل مطلب نه لاس وښخلي وُو. خو چه فیروزالدین دَ محمود سکه ورور کابل ته راغئ نو دَ دهٔ داؤ سر شهٔ. دا خبره رایادَ ول بکار دِي چه فتح خان له فیروز نه دَ هرات حکومت واخستی دَی ئې په حیا عزت کښې کابل ته راولیږهٔ نو دوست محمد خان دَ دهٔ حرم سراي لوُټ کړه او دَ دهٔ خزانه ئې تر وُویسته. دې کښې شک نِشته چه په داسې کار دَ حرم دَ بیبیانو پرده لاړه. فیروزالدین

چه په دي کار ډير سوَي وهٔ دَ بدل ترَي وهٔ- دَ محمودشاه دلبار کښې پيښ شهٔ- مسلمانانو ته بل په هيڅ خبره داسي جوش نهٔ راځي لکه دَ خپلو ښځو په بي‌آبروئۍ چه له خوَ ووزي.

هر کله چه محمود دا حال صفا صفا واوريد چه دَ فيروزالدين حرم بانډ ډير ظلم شوَي دَي نو هغهٔ هم ډير په غصه شهٔ او دَ دي غضي زياتولو دپاره کامران دُوِ چه دَ فتح‌خان ورور په خپل لاس دَ بادشاه دَ لُور له سرَ لوُپټه کوُزه کړي وَه چه هغي په کښې خيل بدن دَ دوي له نظر نه پټ کړَي وهٔ- او په دي خبره ئې ډير زور ورکړ چه دا له بادشاه نه دَ تخت اختو وړنګي کار دَي- دَ محمودشاه دا لُور دَ فيروز زوي ته وادهٔ شوي وَه- دي دَ سپک طبيعت بادشاه في‌الحال دا حکم وکړ چه دَ فتح‌خان سترګي وباسئ- او دَ دي حکم تعميل دَ کامران په خواهش کامران ته حواله شهٔ- کامران ترخپله وسَ دا حکم پټ وساتهٔ او هرات ته لاړ- هلته فتح‌خان دَ دهٔ ډير عزت وکړ- فتح‌خان دَ پښتنو بادشاهي داسي آسمان ته رسولي وَه چه احمدشاه تر مرګ پوري هم داسي نهٔ وَه جوړه کړي- دَ دهٔ دَ خيل عزت زياتولو څه حرص نهٔ وهٔ- دَي تش يو وزير نهٔ وهٔ بلکه په اصل کښې بادشاه وهٔ څکه دَ دهٔ نيت بالکل په خير وهٔ- چه دهٔ کامران ته وُوِ چه ما سره شريک شه او دَ سَ وزو حکومت محکم کړَه او دَ پښتنو مرتبه او دبدبه په ځاي وساته- نو کامران خيل داؤ ډير په صفائۍ وچلاوهٔ او دا خوَږه ئې ورته ورکړَه چه ځما په تا بانډ ښهٔ اعتبار دَي او په هره معامله کښې به درسره مصلحت کوم- که فتح‌خان وړنبي کښې څه شکمن شوَي وِي هم به دي مکر ئې شک

دفع شهٔ-کوم ورځي نه چه کامران راغلئ وهٔ وزیر په هره ورځ دَ دهٔ ځاي ته بادشاهي باغ کښې له ښهر بهر تهٔ-او هلته به ئې دهٔ سره دار مدار کاوهٔ-یوه ورځ سحر چه دَي هلته ورسید او دهٔ سره تش شل سړي وُو نو یو دم ئې ونیول او وسلي ئې تر نه واخستي، او سترګي ئې وُ وِیستي-په ۱۸۱۸ء کښې محموشاه هغه سړي ته دا انعام ورکړ چه اتهٔ کالَ ورښي ئې دي بادشاه کړي وهٔ او دَ پښتو بادشاهي دهٔ بنا کړي وَه-دا سړي ډیر لایق او زړهٔ ور وهٔ او قدرتي خبره وَه چه په بني آدمو باندِ دَ بادشاهئ چل ورتهٔ-دَ دهٔ په نقصان کښې دَ ټولي بادشاهئ نقصان وهٔ-دهٔ کښې چه کوم صفتونه وُو هغه هم په دهٔ کښې وُو-لیکن دَ دښمنانو زړهٔ لا ېخ نهٔ شهٔ دَ بدل اخستو انتظام ئې وکړ-دَ روند وزیر دري ورونړه چه په هرات کښې موجود وُو-یو پُردل خان تر نه قید شهٔ او دوه شیردل خان او کوهان دل خان ځانونه بچ کړل دَ نادعلي مضبوطي کړئ ته وتښتیدل-چه له غرشک نه دري میلَ لري پرته وَه-دلته دوئ دَ بارکزو قام لښکر وهٔ-چه پُردل خان هم ورته راورسید-بس بیا ځهٔ وُو ټوله صوبه باغي شوه محمداعظم خان ورور ئې په کشمیر کښې دَ بغاوت جنډه پورته کړه او په کابل ئې لاس وتړهٔ-دوست محمد خان یو فوځ واخست کابل ته راروان شهٔ. دا ځلئ سردار فتح خان په دي ګناه قید کړي وهٔ چه دهٔ دَ فیروزالدین کور تالا کړي وهٔ-ځو چه دَ مشر ورور سره ئې ناکړدي وشوي نو دَ دهٔ خطا معاف شوه او له قیدخاني نه ورونړو راوویست دَ فوځ کمان افسر ئې کړ-دَي نیغ کابل ته راروان شهٔ-محمود له ځیلو

زناکانو ته اِیله اوس په خود شهٔ او غزني ته وتښتېد او د کندې خاي ې
خپـل کرو سپي او کامران زوي ته پرېښود. لیکن د محمود کروسي د
فتح خان په ځان چړته وهٔ نو ځونو ې شکست وخوړ او په کابل باند د
بارکزو قبضه وشوه. یو څو ورځي پس دوست محمد خان هم محمد اعظم خان
ته راورسید. په دي مُدة کښي کامران هم له هرات نه راروان شوی
وهٔ. له هرات او له قلات نه ې دولس زر فوځ راواخست د کندې خاي
ته رانهٔ. محمد اعظم خان او دوست محمد خان سره چه هغوې غزني ته تلل
او د دهٔ به درېمه برخه فوځ ورسره وهٔ په لاره کښي مخامخ شهٔ. هغوې د دهٔ
د وړاند تلو منع کولو بند وبست کاوهٔ مګر په هغه شپه د کامران ټول
فوځ بارکزو سره شامل شهٔ. له بدي ورځي کامران غزني ته ورسید
او خپل زناکار پلار ې قلا خالي کولو ته ولمسوهٔ او خزانه او څه نوکر
چاکر او قیدي ې ځان سره واخست وتښتېد. دا قیدي هغه بهادر
فتح خان وهٔ چه دوې ې سترګي ویستلي وي. نز دي وخت پوري دي
اصیل سړي بي جواب او بي خفګان ملامته ځان ته ویله او دوې
به ورته هر وخت زورنه ورکوله. په دي معامله کښي د سـدوزو
شهزادګانو ډیر بد وکړل. دهٔ چه د دوې خدمتونه په ډیري وفاداري
کړي وُو که دا وخت ې هرڅه کولې خو دومره ظلم به ې پر نهٔ کاوهٔ
لیکن په دي بدل لا مارهٔ شوي نهٔ وُو. دوې چه ولیدل چه کومه
لویه ابادي فتح خان کړي وَه او د هغې مضبوطیا د هغهٔ تر سره وَه
اوس راباند راپرېوزي چیغري کوي مو. څکه چه فتح خان بي اختیار او
معذور دي. نو دوې په خپله کړي ګناه باند یو مکروه ظلم بل

هم وکړ- له قندهار نه په تېښته کښې چه ورپسې پړاو دوئ وکړ
او چه هلته ئې ځان څه قدر بچ ګاڼه نو دې سپک پلار او عزتمنه
زوي دا قيدي ځان ته راوغوښت او ورته ئې وُوِ چه په خپل
کوشش داسې وکړه چه ستا ورونړه مونږ پسې نه راځي او دا شر ئې
چه پورته کړې دَې دا دفع کړي- فتح‌خان چه ډېرې مُدې راسې چپ
وه- دا وخت ئې ژبه پرانسته او وُوئې وِ چه دَ دې دنيا معاملو سره زما
څه کار نشته- کوم تاريخ نه چه زما سترګې ووتې دي نو ورونړه م هم
له لاسَ ووتل- بدنصيب کامران ترِ نه په تُوره خټ غوڅ کړ، بد
بخت خوشامند کړ چه تر اوسَ ورسره وُو پرِ راونښتل او لا ساه ترِ
نهٔ وَه ختلې چه څرمن ئې ترِ ووېسته او لاس ښپې ئې ترِ پرېکړل
او مانه ګډه درنګه ئې بوځئ کښې واچوله درې ورځې پس ئې غزنې
کښې ښخ کړ- او څه مُدې پورې بادشاه سره دَ زامنو ورونړه دَر
په دَر ګرزېده- ټول ملګرې ترِ نه جُدا شول او په دې ډيکو کښې
ئې په چا اعتبار نهٔ کاوهٔ- آخر هرات ته ورسېدل- ځکه چه دَ پښتنو په
ټوله علاقه کښې بس دا يو ځاې وهٔ چه دَ سدوزو برخلاف په کښې
بغاوت نهٔ وهٔ شوې- او دَ ځان ساتنې دپاره دلته دَ ايران دَ بادشاه
طاعت منلو ته راضي شول- اګرکه په دوئ بده ورځ وَه خو دَ دې
درې وارو بادشاهانو (محمود، کامران، فيروز) په څه خبره اتفاق
نهٔ وهٔ- آخر فيروزالدين ترِ نه مشهد ته لاړ او په دې ټوټه زمکه
باندِ دَ پلار زوي تل تکرار وهٔ- دَ ښهر خلق تنګ شول- دا بې شميرَ
جګړې او سازشونه او دَ خراسان او دَ غرونو دَ سردارانو

پله ییي تکرارونه په سنه ۱۸۲۹ع کښې هله خلاص شول چه محمود مړ شهٔ - دَي هم کامران مړ کړي وه - دَ دهٔ ټوله قصه راته ضروري نهٔ ښکارِي - خو کامران پس له هغې دَ ایران دَ بادشاه قلنګ ومنهٔ دَ دهٔ دَ بد قسمتئ حال به چرته مناسب ځاي کښې ولیکم - دلته دومره خبره ډیره دَه چه دَ سدوزو دَ تباهئ او بربادئ به خدائي فتوي باندِ دستخط وشهٔ او مُهر پرِ ولګیں.

# (۹) نهم باب

## دَ بارکزو زمانه

دَ سدوزو تبر لکه چه یو دم بادشاه شهٔ دغسي دَ سترګو په رپ کښې فنا شهٔ - دَ دي بادشاهئ په هره ټوټه دَ بغاوت سیلئ الوتي وَه او څه مُدي پورِي داسي سرِي پیدا نهٔ شهٔ چه دا تار په تار ټوټي ئې یوځاي کړي وَي - دَ فتح خان کشر ورور محمدعظیم خان په کابل قبضه وکړه - دوست محمد خان غزنئ سنبال کړ - پُردل خان دَ قندهار مالک شهٔ - جبار خان په کشمیر کښې او یار محمد خان په پېښور کښې وَه - دَ مړ وزیر باقي دیارلس ورونړو دَ ملک په نورو حصو کښې دَ امن امان قایمولو کوشش کاوهٔ - لیکن دَ ټولو منشاء په یوه خبره باندې مضبوطه نهٔ وَه - دَ دي خلقو دا وخت هم دَ سدوزو دَ تباه کولو څه خیال نهٔ وهٔ دَ دوئ عزت تر اوسه پورِي دَ یو بادشاهي تبر په شان کیدَي شهٔ - دَ

بارکزو دي وروڼو ته ډیر ځلي ښتیادا ضرورت پېښ شوي وُه چه
دَ سدوزو له ټبر بیا څوک په تخت کښېنوي هر یو ورور په خپله خپله
علاقه کښ څوک نه څوک سدوزي دَ تخت حق دار منلئ وُه لیکن هغو
ټولو کښ یو هم داسي مضبوط سړي پیدا نهٔ شهٔ چه دا لویه مرتبه
یٔ سنباله کړي وَي. ځکه هر یو دَ بادشاه کېدو سره له تخت
کوُزیدهٔ. په داسي صورت کښ دَ ملک حال ډیر اَوَل کیدهٔ. دَ یو قام
مشر چه په نورو به زورور وُه دَ یو بلَ به جُدا کیدهٔ. ملکونه به یٔ
لاندِ کول لیکن چه داسي کارونه به بي سردارُ او بي مطلبْ وُو نو دَ هغه
قام حال به ډیر خرابیدهٔ. آخر پړدل خان دَ دي ورانی مشوري سهولو
نیت وکړ. دَ زمان شاه ورور شجاع لا تر اوسَ ژوندَي وُه او هغهٔ په
کابل باندِ بادشاهِي کړي وَه. دَ ټبر په پاتي سړو کښ دَ دهٔ نه څوک زیات
لایق نهٔ وهٔ. هر کله چه دَ حکومت حرص یٔ په زړهٔ کښ لرهٔ نو ځکه دا
خیال کیدَي شهٔ چه له نورو نه به دَي په ښه شان دا ټولي ښتوتي
راغونډي کړي شي. په دي خیال پُردل خان خپل ورور کوهان دلخان
ورپسي شکارپور ته ولیږهٔ او شجاع ته یٔ وُوِ که تهٔ تخت غواړي نو
موږ دِ مددګار یُو. شجاع دَ محمود دَ تباهيْ قصه اوریدلي وَه په دي
طمعَ شکارپور ته راغليَ وُه که چري موقعه بیاموي نو تخت کښ وراندِ
شي. هغهٔ دَ کوهان دل خان دار مدار په خوشحالي وکړ او دَ دي
خبري یٔ ښهٔ پوخ اقرار تړِ واخست چه دَ بارکزو ټول قام به ځما مدد
کوي. چه دَ زړهٔ غونډي یٔ په ځاي شهٔ نو سمدستي یٔ دَ هغه
شهزادګانو په شان خوبونه خړګند کړل چه دَ مصیبت په وخت هم

عقل نهٔ زده کوي او په بادشاهۍ رانلو بانډ هم به عادتونه نهٔ هيرَوي
هغهٔ له خپل عادت نه بارکزو وروڼو ته دا خبره څرګنده کړه چه څما
نيت دَ خپل مطلب کولو دَي بيا به تاسو ته جواب درکوم - محمد عظيم خان
دَي ډير پوه کړ چه کومه لار تا نيولي دَه دا ښه نهٔ دَه خو هغه پرِهيځ پوه
نهٔ شهٔ او دَ بادشاهي تېر په شان يې ځان يو لوي شَي ګڼړه - هغهٔ دَ
حکومت او دَ فوځ دواړه بند وبستونه په خپل لاس کښ اخستل ځکه
بارکزو دَي په ډډه کړ - دَ څه لږ ډير دَز دُوز نه پس شجاع بيا لدهيانې
ته وتښتيد - دي نه پس بارکزو بيا دَ تيمور يو بل زوي سره چه ايوب
يې نوم وهٔ او په تېر کښ څوارلسم وهٔ خبر ونيو - دي شهزاده دَ خپل
درور شجاع نه بالکل په عکس کار وکړ - دهٔ محمد عظيم خان ته وُوِ چه تهٔ
ما تش بادشاه کړه او څما ضرب وخطبه ما له دومره کافي دِي باقي
ټول اختيار دِ ستا وِي - دا شرطونه قبول شول او ايوب خان بادشاه شهٔ
خو دَ شرارت او سازش په وَجه دَ دهٔ زمانه يو څو ورځي وَه - هغهٔ دا ويلي
وُو چه زهٔ به حکومت نهٔ کوم مګر دا يې نهٔ وُو ويلي چه زهٔ به څه سازش
نهٔ کوم - کومي مصلحتي چيتيَ چه دهٔ دَ عظيم خان وروڼو ته ليږلي وي
هغه ونيوي شوي نو دَي يې له تخت کُوز کړ او کابل نه يې وشړه - په
دي زمانه کښ دَ تيمورشاه يو بل زوي سلطان علي په کابل کښ ووژلي
شهٔ - او دريم زوي محمد مراد په قندهار کښ قتل شهٔ - دي دري واړو
شهزادګانو يو سازش کړي وهٔ ځکه دا سزا ورکړي شوه - دا وخت دَ ټولي
بادشاهۍ انتظام دَ محمد عظيم خان په لاس وُه - ليکن دَي پخپله نهٔ بادشاه
وهٔ او نهٔ امير - ځکه دَ نورو پيښتنو قامونو او دَ خپلو وروڼو بِه شهٔ

دَ فتح خان په مرګ ملک ډیر کمزوري شوي وه ځکه چه له پښتني بادشاهۍ نه یواځي هرات نه وه جلا شوي بلکه ترکستان او بدخشان هم تر تلي وو. او بیا داسي حال وه چه دَ پنجاب زورور حاکم رنجیت سنګه دَ پښتنو په سرحد باندِ پله پسي حملي کولي. هغهٔ کشمیر، ملتان، ډیره غازي خان او اټک هم اخستيَ وهٔ او دَ پېښور په فکر کښ وهٔ. محمد عظیم خان په دي خیال چه دا زورور جنګیالي م جر کړي نو ځما حکومت به نور هم مضبوط شي پوځ جمع کړ او خپل ورور دوست محمد خان يي ځان سره کړ او په جلال آباد او کړیه باندِ پېښور ته راغيَ. دي نه پس هر څه چه وشوُ دَ هغي بیانونه دَ هغه زماني دَ تاریخ لیکونکو دَ لیک نه مخالف دِي. ځکه رښتیا او صحیح خبره معلومول ګران دِي. یوه خبره یقیني دَه. هغه دا چه پښتنو دَ رنجیت سنګه له لاس په نوښهر شکست وخوړ. ځني تاریخ لیکونکي وايُ چه دَ دي ماتي سبب دَ بارکزو ورونړو تکي وَه او له قصدَ يُ سترګي پټي کړيَ وي. او ځني وايُ چه دَ محمد عظیم په جرنیلۍ کښ نقصان وهٔ. مګر ځما په خیال کښ دَ دي دوارو خبرو نه یوه نتیجه خیژِي. دا رښتیا دِي چه په نوښهر جنګ شوَي وهٔ او دا هم څرګنده خبره دَه چه دَ پښتنو دَ پوځ انتظام ښهٔ نهٔ وهٔ نو بیا دَ څه بل پټ سبب لټول هسي سر خوږَي دَي. دَ دي جنګ دوه زورَوري نتيجي وختي. یوه دا وَه چه دَ اباسیند په ښي اړخ دَ رنجیت سنګه قبضه وشوَه او پېښور دَ هغهٔ په ملک کښ شامل شهٔ. دَ محمد عظیم یو ورور سلطان محمد په دي شرط دَ پېښور حاکم پاتي شهٔ چه رنجیت سنګه نه به کال په کال تلنګ ورکوِي. او بله خرابه نتیجه دَ محمد عظیم مرګ وهٔ. دَ دهٔ طبیعت ورښي نه ناروغه وهٔ او په دي ماتي يُ زړهٔ نور هم مات شهٔ. دَ فتوح

کمان يې دوست محمد ته ورکړ او کابل ته لاړ. ليکن ټټابند کښې ورته طاقت جواب ورکړ او خپل دولت او مرتبه يې خپل زوي حبيب الله خان ته پرېښول. او په سنه ۱۸۲۳ع کښې مړ شه. حبيب الله خان کښې عيبونه لا څه کوي چه د پلار په شان يو صفت هم نه وه. د بادشاهۍ واکې د هغه په کمزورو لاسونو کې له قانوني کروړي نه چرته ټينګېدې شوې. ده ته پلار وصيت کړې وه چه سکهانو سره خواه مخواه جنګ وکړه خو ده دا وصيت هېر کړ او په شراب خوړلو اخته شه. د ده بادشاهي تر هغې وخت وه چه د پلار دولت يې خلاص کړې نه وه. د احمد شاه دا جوړه کړې بادشاهي هيچرې داسې په وېره کښې نه وه راغلې لکه چه دا وخت وه. دا څرګنده خبره ده چه حکومت آخر د هغه لاس ته راغې چه په بارکزو ورونړو کښې له ټولو نه زيات هوښيار او زوروَر وه. ليکن دا خبره معلومه نه شوه چه داسې سړې څوک وه. او نه په څه بله وسيله يې تحقيق وشه. ستر اوس پورې دوست محمد خان په غزني کښې، سلطان محمد په پېښور کښې، پُردل خان او د هغه دوه ورونړه په قندهار کښې وُو او دې دواړو يو بل ته کتې نه شول. د حبيب الله تباهۍ ته يې سترګې خلور کړې وې او هر يو په خپل ځان کښې ويريده. چه له زړه ورانه شم نو شر شد ت به جوړ شي. دوست محمد پر له ټولو نه وړمبې شه په کابل يې حمله وکړه ښهر يې واخست او قلا ته چاپيره شه. حبيب الله د دوست محمد د راتلو نه وړمبې درې دارۀ ورونړه خبر کړي وُو. د ټولو نه مشر ورور يو فوځ خپل کشر ورور شيردل خان ته ورکړ او کابل ته يې وليږه. دوست محمد شکست وخوړ جلال آباد ته واپس شه او له هغه ځای نه کوهستان ته لاړ. شيردل خان په

کابل قبضه وکړه. هغه سردار ئې له تخت کوز کړ چه د ده مداد ئې غوښتې وه
پس په بارکزو ورونړو کښې کورنۍ جنګونه شروع شول. د هغو ټول
حال لیکل څه ضروري نه دي. تش دومره وینا ډېره ده چه د تورې
په زور دا معامله خلاصه نه شوه نو آخر یوه راضي نامه ولیکلې شوه چه د
هغې په وجه قندهار هم بیا هغو ورونړو څخه پاتې شه چا څخه چه ورېښي
وه. سلطان محمد ته کابل او دوست محمد ته غزني او کوهستان ورکړې
شه. دا تقسیم دوست محمد خان بالکل خوښ نه کړ او له ټولو نه ورېښي
هغه د بدلولو دپاره ملا وتړله. یو زورور فوځ ئې راواخست ناګمانه په
کابل راغې او ورور ته ئې ووې چه د دې ځای بادشاهي پرېږده او پېښور
ته ځه. سلطان محمد له بدې ورځې راضي شه. دوست محمد دا وخت د
غزني او د کابل حاکم وه. د دې نه پس ئې جلال آباد هم خپله قبضه
کښې راوست. له هغه وخت نه تر سنه ۱۸۳۴ع پورې د معمولي بغاوتونو
نه سوا هیڅ جنګ ونه شه. لیکن هم په دغه کال یوه واقعه پېښه شوه
چه د هغې ځرګند اثر د ده په مخکښې قسمت باندې وشه. دا واقعه د
شاه شجاع په میدان کښې ښکاره کېدل وُو. دا شهزاده د دې دپاره
نه وه راغلې چه دا ورونړه کمزوري شوي دي او د دوئ په بې اتفاقۍ
به ما ته تخت په لاس راشي. بلکه ده دا خبره لیدلې وه چه په دوئ
کښې یو ورور ډېر لائق او هوښیار دي. هغه رو رو یوې لوئې
مرتبې ته رسیدلې دي. په دې کښې د ده یا د ده د یارانو ډېر نقصان
دي. دوست محمد ترقي ضرور کړې وه خو لا پورته پوړۍ ته نه وه
رسیدلې. که هغه درجې ته رسیدلې وې نو بیا د چا پلار هم پرې حمله

نهٔ شوه کولَي (دَدي ترقئ دَ بندش دپاره دي شپني دَ موړِي په زور توپونه وهل) قندهار او دَ نوَرپرواتهٔ افغانستان دَ دهٔ دَ مشر ورور په لاس کښ وهٔ-دَي په عمر کښ څومشروهٔ خو په عقل ډیرکشر وهٔ-اودَ دوست محمد په لسمه حصه هم نهٔ وهٔ څکه دَ سدوزو دَ تېر بادشاه خپله بهبودِي په دي کښ لیدله چه دَ دهٔ بل ورور چري دَ دهٔ په حکومت بانډِ لاس رانهٔ کاږِي او زهٔ له هغهٔ نه ورسپي شم او یا ئ په خپله ډیره کرم یا ئ وُوهم-دهٔ دا دواړه کارونه شروع کړل-یو ورور جبارخان څو ئ دَ څان په طرف کړ، نورو وروڼړو سره ئ چل وَل راواخست-څو لکه څنګه چه دَ دهٔ امید وهٔ هغه سي تکړه جواب هغوئ دَ دهٔ دَ درخواست ورنهٔ کړ-شاه شجاع له لدهیانِي نه په جنوري سنهٔ ۱۸۳۴ء کښ روان شهٔ او لږ غوندِ فوځ ئ جمع کړ او اهٔ اسیند نه پورېوت-شکارپور کښ ئ دَ درانو دَ بادشاهئ یو جاګیر په زور واخست او دَ خپل فوځ شمیر ئ دلته شلو زرو ته ورساوهٔ-دَدي فوځ هندوستاني څوانانو ته په انګریزِي طریقه بانډِ قواعد وښولَي شهٔ-په دي کښ لږ غوندِ پښتانهٔ هم وُو-هغوئ اول په روړِي کښ دَ سند ه ایرانو سره مقابله وکړه او هغو ته ئ شکست ورکړ-بیا له نورَپرواتهٔ ددی نه راتاوُ شهٔ او افغانستان کښ ننوت-دَ قندهار دري واړه وروڼړه دَ شاه شجاع له تیارَي نه بي خبرَ نهٔ وُو-هغوئ هم فوځ جمعَ کړَي وهٔ-او چه خبر شول چه شاه شجاع له شکارپور نه راروان شهٔ نو دَ خپل ورور کوهان دلخان دَ لانډِ ئ یو فوځ راولیږهٔ چه شاه شجاع دَ خوجک کوتل په دره بانډِ منع کړي-دا دره ډیره مضبوطه وَه چه په دي کښ یوه

تاوُشوي لار وَه ـ داسي ښکارېږي چه شاه شجاع ته رَو ګُډر ښهٔ معلوم وهٔ لږ عونډ فوځ يې هغو ته مخامخ کړ ـ او په نور يې په هغه تاوکړي لاره له ورستو نه دښمن راګیر کړ ـ دا خبره یقیني دَه چه دَ کوهان دلخان دَ واپسۍ بله هيڅ وجه نهٔ وَه ـ هغه دير زر قندهار ته واپس شهٔ ـ شجاع همُ ورپسي وهٔ ـ دَ ښهر قلابندي يې وکړه ـ دَ قندهار بارکزو کابل ته کښړي ورور څخه پله پسي اَستازي ولیږل او تاکید يې وکړ چه څمونږ مدد ته زر راورسه ـ دوست محمد خان په شاه شجاع باندِ دَ حملي خپل رَو ليدلي وهٔ ليکن دهٔ اول دا معلومول چه دَ شجاع په مدد پيرنګيان ولاړ دِي که نه ؟ څکه يې خپل اَستازي لُدهياني ته دَ پيرنګيانو پولتيکل ايجنټ څخه ولیږهٔ ـ له هغه ځاي نه ورته يو کمزورَي او دوه کُنيَ جواب ورکړَي شهٔ ـ چه دَ هغي مطلب دا وهُ چه "دَ هندوستان بادشاهي په ځان پچپله خو په دي لام کښې شريکه نهٔ دَه ليکن شاه شجاع دَ دي په خوشحالۍ او رضا دا کار کوِي" دَ ايشيا خلق دَ دورنګو خبرو مطلب له خپل ځانَ وباسِي ـ دوست محمد دا خيال وکړ چه شاه شجاع ته به پيرنګيان مدد ورنهٔ کړِي ـ څکه زر قندهار ته راورسيد او حمله يې پرِ وکړه ـ کوم جنګ چه شروع شهُ دَ دي په باب دا خيال وهُ چه دا به ډير سخت شي ـ دَ شجاع په فوځ کښې دَ هندوستاني رسالو افسر يو کيمپبل نوم انګريز وهُ چه هره حمله به يې لکه دَ زمرو په شان منځ کوله او دښمن به يې لکه دَ ګيدړ زغلاوهٔ ـ خو شجاع بيا هم دَ آس په شا جرنيلي وُ نه کړه او په هاتي سور شهُ تماشه يې کوله ـ دَ دښمن دَ هري حملي جواب خو پوره ورکيدَي شهُ خو چه دهٔ وليدل چه دوست محمد خان به دي

دومره حملو وارخطا نهٔ شهٔ او بیا سَر دوباره تیارَي کوِي نو زرهٔ ئي مات شهٔ - دا فکر ئي وُ نهٔ کړ چه په دي آخره حمله کښ هغهٔ دَ خپل خاص فوځ یَو خیرَي کُوتَیلیَ راجع کړي دَي - که هغهٔ دا خبره معلومه کړي وَي نو طبیعت به ئي خوشحال شوَي وهٔ - لیکن لرِي غونډِ بي فکرَيْ باندِ دَ دهٔ ټول زکونه سست شول - که دَ کیمپبل په خبره ئي یقین کړي وَي او جګړه ئي دَ هغهٔ سر ته پرېښي وَي نو هُم به مطلب شوَي وهٔ - خو دَ هغهٔ زرهٔ پریوت - دا تش یو نوَي آزمېښت وهٔ - دا خو ورښَيْ معلومه وَه چه په دهٔ کښ دَ حکومت لیاقت نِشته - ولي اوس ښه معلومه شوَه چه په دهٔ کښ دَ فوځ دَ انتظام لیاقت هم بالکل نِشته - کیمپبل پیرنګي چه ټول بدن ئي ژوبل شوَي وهٔ او نرمرګَ ئي له جنګ نه اړولَي نهٔ وهٔ هم دَ جنګ په ځاي قید شهٔ - بي همت بادشاه ورښَي خو قرا ته وتښتېد او بیائي دَ هرات حاکم کامران سره رازباز شروع کړ - لیکن چه کامران ورته تک ښکاره شهٔ نو دَ جواین او قلات په لاره شکارپور ته راوتښتېد او دَ دي ځاي نه نیغ لدهیاني ته لاړ او دَ انګریزانو خیرخواهيُ هم ورته څه فایده وُنهٔ رسوله -

څه وخت چه دوست محمد قندهار کښ په دي جنګ نښتَي وهٔ نو دَ پنجاب رنجیت سنګه په پېښور حمله وکړه وائي خست او دَ سکهانو دَ بادشاهيُ سرحد ئي مقرر کړ - دَ پېښور پښتون حاکم سلطان محمد چه رنجیت سنګه لرِي کړ نو جلال آباد ته وتښتېد - او چه خبر شهٔ چه دوست محمد په داسي جنګ کښ اخته دَي چه کټه ئي کرانه دَه نو دوه ورونړه ئي خان سره مصلحتیان کړل او په کابل ئي دَ حملي نیت

وکړ. لیکن دا تیاري لا سر ته نهٔ وهٔ رسیدلې چه دَ درورد ګڼي خبر ورته راغئ. نو دوئ هغه ټوله خبره پرېښوه او دَ دوست محمد سره یوځاي کیدو بانډي خوشحالي وکړه. لیکن دوست محمد دَ دوئ له ښکو ښورو نه وړمبي خبر شوي وهٔ. دَ قندهار له فتح نه دَ دهٔ په وړندو باندِ دَ غلبي یقین پیدا شوي وهٔ او هم له دي نه شجاع وڅرید دَ دُرانو دَ بادشاهۍ ډیري ښوښي دهٔ یو ځاي ته راغونډي کړي وي خو یوه وړه غونډ مضبوطه ښوښه لا پاتي وَه. دَ بادشاهۍ خاصي ښوښي کابل، غزنئ، جلال آباد او قندهار وي. قندهار کښې اګر که دَ دهٔ دَ وروڼو بادشاهي وَهَ خو دَ خفګان په وجه دَ ناچاري ورځي ورسره شریک وُو. دوست محمد غوښتل چه پښتنو او ټولي دنیا ما ته بادشاه وُوئیلئ. ځکه چه دُرانو ته خلقو بادشاهان ویل خو هغو څخه اوس بادشاهي نهٔ وَه. دوست محمد خان یو دَ کار سړي وهٔ دَ خوشو خطابونو نه هغهٔ ډیره کرکه کوله. یو ځل قوم هغهٔ ته دَ دي خبري زور ورکړ چه ځان ته بادشاه وُوایه خو هغهٔ په جواب کښې وُوِ چه زهٔ ځنګه ځان ته بادشاه ووایم چه زهٔ دَ یو لوي سردار مرتبه هم نهٔ شم ټینګولئ. دا خطاب في الحال ځما دپاره یوه دَ وازدو پوسکۍ ده. خو آخر دَ دغي یوي خبري په وجه چه پاس لیکلئ شوي ده دَ ډیر غور او فکر نه پس ئې دَ خپلو مددګارانو سردارانو په مصلحت اِیله دَ "امیرالمؤمنین" خطاب منظور کړ. دا خطاب ورته په ۱۸۳۵ع کښې دَ کابل امام په یو لوي دلبار کښې چه ټول امیران په کښې ناست وُو ورکړ. دَ هغهٔ زوي شیرعلي هم دا خطاب حاصل کړي وهٔ. دوست محمد بي له پیرنګیانو

او سکهانو نه دَ سرحد په نورو ټولو رياستونو کښې دَ چلي اميرئ ډنډوره وغږوله - دي امير ورپسي دا کار وکړ چه هغه ټول حاکمان او عهده داران ئې موقوف کړل چه دَ چا په وفادارۍ کښې ئې شک وۀ او خپل زامن ئې دَ هغو په ځاي کښېنول - هغۀ دا حکم هم وکړ چه ضرب دِ ځما په نوم وچلیږي - دپاره دَ دي چه دَ هغۀ حکومت قايم شي هغۀ دَ خلقو نه محصولونه اخستل شروع کړل دپاره دَ دي چه دَ پېښور اخستو دپاره کوم فوځ چه بهرتي شوي دي دَ هغۀ خرڅونه پوره شي - په پېښور حمله وشوه - رنجيت سِنګه خو وېرېدلي وۀ لېکن دَ دي موقعي دپاره کمزوري نۀ وۀ - هغه دَ امير دَ فوځ له لياقت نه خبر وۀ او پوهېدۀ چه دَ جنګ نتيجه يقيني نۀ ده - هغۀ ځنې روپئ وي - دَ امير کيمپ ته ئې په ظاهره دَ روغې او په مېنځ کښې دَ بډي ورکولو دپاره معتبران ولېږل - په دي چل دَ هغۀ ټول مراد ترسره شۀ - يو څو ورځو کښې دَ امير ټول فوځ تار په تار شۀ او په ناچارۍ دوست محمد خپل کيمپ او خېمه نيکنايي بايله او کابل ته واپس شۀ - دَ پښتنو دا حال دَي - دَ امير يو ورور چه رنجيت سِنګه ورته بډي ورکړي وي او خان ته ئې اړولي وۀ دَ رهتاس په قلا ئې حاکم کړ -

دَ پېښور دَ بايللو اثر دَ امير په زړۀ کښې ځوکه کېدۀ - وائي چه ايران او روس سره ئې هم دَ پېښور دَ اخستو رازباز کړي وۀ - لېکن اګر که بارکزو دي دواړو بادشاهو ته درخواستونه کړي ؤو خو هغه دَ دي مطلب دپاره نۀ ؤو او نۀ امير دَ دي خبري موتازه وۀ - دَ دي خبري اصل تاريخ دا دَي :-

په سنه ۱۸۳۶ء کښې ایران او امیر دواړو دَ جنګونو تیاري کاوه - ایران دَ هرات دپاره او امیر دَ پېښور دپاره - امیر ورسره تیار شه او دَ سنه ۱۸۳۷ء په سپرلي کښې هغه دَ خپل زوي اکبرخان دَ لاندې یو فوځ رادلیږه او ورته يې وُوې چه دَ پېښور میدان ته دَ خیبر په دره ورکوز شه - دي چه راغئ او په جمرود يې دَ سکهانو قبضه ولیدله نو تر چاپېره شه - دَ پېښور کماندر هري سنګه دَ خپلو سکهانو مدد دپاره سمدستي جمرود ته روان شه او اکبرخان ته يې دَ جنګ خبر ورکړ - اکبر منظور کړ - دَ دښمنانو جرنېل يې مړ کړ او هغو ته يې شکست ورکړ - هغوئ دَ جمرود په قلا کښې پټ شول - څه وخت چه دَ سکهانو دَ مدد دپاره یو بل تازه دم فوځ راغئ نو اکبرخان له ناچارئ کابل ته واپس شه - پېښور بیا هم لکه دَ ورسبي څل لاس ته رانه غئ - مخي کال ته ایرانیان دَ هرات په علاقه کښې رانوتل او غوریان يې واخستل له هرات نه چاپېره شول - افغانستان په داسي حال کښې وه چه امیر خبر شه چه یو نوي ګورنر لارډ آکلینډ هندوستان ته راغئ - هغه دا موقعه صحیح کړه چه دَ پېرنګیانو په ملګیرتیا ایرانیان منع کېدي شي او پېښور واپس اخستي شي - نو لارډ آکلینډ ته يې دَ دوستۍ یو کاغذ ولیږه چه په کښې دَ دعا او ثنا صفت نه پس دَ سکهانو له لاسه ژړا وه - لیکن کومه ملګیرتیا چه ده دَ خپل ځان دپاره غوښتله هغه دَ ده قندهارو ورونړو ځان دپاره تباهي ګڼله - په دي خیال چه په دي ملګیرتیا به څمونږ دَ ورور طاقت زیات شي - څه چل يې بکار دي - یوه جرګه يې دَ ایران دلبار ته ولیږله او مدد يې تري نه وغوښت - او دَ طهران دَ روسي سفیر په معرفت هم هغوئ یو کاغذ زارِ روس ته

ولیږهٔ-دَ دوارو جواب دَ دوئ دَ زړهٔ دَ خوږيدو راغئ. کپتان ویکوېچ روس له خپل طرف نه قندهار ته سفیر راولیږهٔ-دَ امیر صاحب دَ دوستانه خط په جواب کښ لارډ آکلینډ داولیکل چه دَ پیرنګیانو داقاعده نهٔ دَه چه دَ بل خوداختیار ریاست په معاملو کښ لاس واچوي-او دا ئې هُم ورته څرګنده کړه چه دَ هندوستان دَ حکومت دا نیت دَي چه ډیر زر یو څو کسَ دَ سوداګرئ په معاملو کښ دَ بحث کولو دپاره کابل ته درولیږي. یو څو ورځې پس دا سړي په جرګه کښ لاړل- کپتان الیګزنډر برنز لوي افسر دَ بمبئ انفنټري-چه یو زړهٔور او لائق سفیر وُه-لفټنټ لیچ دَ بمبئ انجنیر-لفټنټ وُډ دَ دریائي صیغې نوکر-ډاکټر پرسیوال لارډ آي-ایم-الیس-په دې موقعه زهٔ دَ کپتان برنز حال حال لیکم-څنګه چه لیچ قندهار ته او وُډ او لارډ کندوز ته تلي وُو په ۲۰ اګست ۱۸۳۷ء برنز دَ خیبر په دَره ننوت او په قلار او آرام سره ۲۰ ستمبر کابل ته ورسید-هغه لیکي چه دَ پښتنو دَ رسالي سوارهٔ په لوي شان و شوکت او عزت سره څما خېمې ته راغلل چه دَ امیر صاحب دَ زوي اکبرخان په حکم کښ وُو-هغهٔ څما دَ عزت زیاتولو دپاره زهٔ په هغه هاتي کښينولم په کوم چه پخپله سور وهٔ او دَ پلار دلبار ته ئې بوتلم-هلته څمونږ عزت دَ زړهٔ له اخلاصَ وشهٔ-بله ورځ امیر خاص خلوت ته وغوښتم او څما ډیر دارمدارئ وکړ-دري ورځې پس په یو بیټ مصلحت کښي امیر دَ خپل زړهٔ حال مستر برنز ته ښکاره کړ-دَ هغهٔ دَ درخواست اصلي مُدعا ډیرو خبرو کښ پټه وَه-دَ رنجیت سنګه برخلاف ئې دَ انګریزانو نه مدد غوښتهٔ-هغهٔ وُو چه زهٔ دَ شاه شجاع په جنګ کښ نښتيَ وم

نو رنجیت سنگه رانه پېښور واخست چه دَ هغهٔ پر هیڅ حق نهٔ وهٔ - برنز
ته دَ مدد ورکولو څه اختیار نهٔ وهٔ ورکړي شوَی. ځکه چه دا لوظ یې هم نهٔ
شهٔ کولَی چه انګریزان به دِ خیرخواه وِي - هغهٔ تش دومره طمعَ ورکړه
چه که رنجیت سنگه امیر صاحب ته پېښور ورنهٔ کړي نو دَ امیر صاحب
ورور سلطان محمد ته خو به یې خواه مخواه ورکړي خو دَ لاهور تابع
به وِي - پس له دي امیر صاحب ډیر وس وکړ - کله به یې عاجزي کوله
او کله به یې وِ چه رنجیت سنگه به خما په کارونو پښیمانَ شِي - لیکن
له چیري دهٔ پېښور واپس کړ نو زهٔ به دَ یو خپل تابعدار په شان
مستر برنز او دَ هندوستان حکومت پرِ بانِ دَ مهربان کولو وَس وکړم
برنز دَ دي خبرو څه جواب ورنهٔ کړ او حکومت ته یې ولیکل - دَ جواب
راتلو ته کښیناست - لیکن دَ جواب دَ راتلو نه وړنبي دَ روس ایجنټ
کپتان ویکوېچ کابل ته راورسید - دَی وړنبي قندهار ته تلَی وهٔ - لیکن
چه پوه شهٔ چه دا ښهر دَ پښتنو په علاقه کښې یو اندام دَی او کابل
یې زړهٔ دَی نو له زار نه یې یو کاغذ راوغوښت او هلته ورسید - په
دي کاغذ کښې چه دَ امیر صاحب په نُوم وهٔ تش دَ سوداګرَۍ خبري
وي لیکن په دي کښې نوري ډیري ښتي خبري هم وي - دَ ویکوېچ لا
ډیري ورځي نهٔ وي شوي چه برنز ته دَ هغهٔ دَ وړنبَي چیټَۍ جواب
راغئَ چه په هغي کښې لارډ آکلینډ لیکلي وُو چه "زهٔ تا ته سفارش
کوم چه تهٔ خپلي دعوي پرېږدَه - او سلطان محمد سره چه دَ رنجیت سنگه
څه اقرارنامه وشي په هغي راضي شَه." دَ امیر صاحب دَ بیا سوال جواب
مدعا دا وَه چه زهٔ له خپل ورور نه په سِکهانو خوښ یم چه په پېښور

کښې وي (یعني که پېښور ما ته په لاس نه راځي نو ځما درور ته دِ هم نه ورځي) زه د انګریزانو د خیرخواهۍ نه ښه خبر یم لیکن په دي ښهر باندِ خپله دعوۍ نه شم پرېښوي - دا وخت چه ۲۶ جولائي وه او له دي نه پس تر پوي میاشتي پوري د امیر صاحب دا امید وه چه د مستر برنز د چیټۍ جواب به ځما د زړه د تسلۍ راشي - او په دي وجه يې د روس سفیر ډېر ځان ته نه پرېښود - او نه يې هغه سره د ځلي بهترۍ څه مصلحت کاده - او هسي په زړه ماتي بـه يې ورسره کله کله خبري کولي - لیکن په ۲۱ فروري برنز ته یوه چیټۍ راغله چه په کښې ډېر صاف د امیر له مدعا نه انکار شوي وه - د دي نه پس چه څهٔ وشول د هغي په دي فیصلې څه اثر پرې نه وت - او امیر ډېر نااميد شهٔ دُ يې وِ چه ما انګریزي حکومت ته ډېر ځله ولیکل خو جواب د خپل مطلب راکوِي - ده به ډېر شوق د ملګیرتیا درخواست کړي وهٔ - او په ۲۸ اپریل چه برنز له کابل نه رارواندهٔ نو د لارډ آکلینډ په نوم يې له امیر نه یوه چیټۍ راوړه چه په هغي کښې به ډېر درد سره د پېښتو د تکلیفونو علاج او هغو ته د څه اختیار ورکول لیکلي وُو - د ۲۱ فروري نه کوم وخت چه د لارډ آکلینډ انکاري جواب راغلی وهٔ د روس سفیر سره ملاقاتونه بدل شوي وُو او هر کله چه هغهٔ د روپو او د مدد ورکولو څه ډېري وعدي کړي وي نو هغهٔ د کابل مالک ګنړلی شهٔ - هغهٔ لوظ وکړ چه زهٔ به له خپل بادشاه نه د امیر دپاره روپۍ واخلم او د رنجیت سنګه په معامله کښې به ورسره سوال جواب وکړم - بیا د

امیر صاحب په رضا هرات او قندهار ته واپس لاړ. دَ قندهار و بارکزو ورونړو او دَ ایران په تجویزي ملکیرتیا بوره پخه کړه چه دَ هغي په وجه پښتونه په جنګي ضرورتونو کښي مدد ورکولو دپاره ایران رضا شۀ. په کومه اقرار نامه چه دَ کجکلاه (دَ ایران دَ بادشاه) دستخط وۀ هغه دَ امیر دَ راضي کولو دپاره کابل ته واستولي شوه. دَ دي نوي ملکیرتیا ورستۍ نتیجي زر څرګندي شوي. چه دَ ایران بادشاه ته په افغانستان باندِ دَ شهنشاهۍ اختیار حاصل شۀ نو هغۀ دَ هرات کامران او بارکزو ورونړو ته دَ خپل خپل انتظام حکم ورکړ. دَ افغانستان او دَ ایران دَ دي نزدي تعلق پیدا کیدو په وجه چه ورپسي دَ روس لاس هم وۀ، او دَ امیر صاحب دَ دي نوۀ مدګارانو په زور په پیښور باندِ دَ قبضي کولو دَ نیت په وجه، دَ برنز په نامرادۍ او دَ ویکویچ په مرادمندۍ دَ امیر صاحب په دوستۍ کښي دَ خلل رانلو په سبب پیرنګیانو دا اراده وکړه چه په هغه چلونو چه تر اوسَ مونږ امیر صاحب سره کول بیا غور وکړو. دلته دا خبره څرګندَ ول پکار دي چه په داسي حال کښي دَ انګریزي حکومت دپاره کومي ویري وي او په کومه لار هغه ویري دفع کیدَي شوي. پیرنګیان ډیر له روس نه ویریدل. روس دَ شطرنج دَ لوبي په شان ایران او افغانستان لکه پیاده جنګول. او دَ دوۍ په وسیله ئي دَ انګریزانو ملکونو ته لاس اچوۀ. دا خیال څکه یقین ته رسیدلَي وۀ چه دَ روس د سفیر کابل کښي ډیر عزت وۀ او دَ هغۀ په چل ول اقرار نامه شوي وَه چه دَ هغي په وجه بارکزي ورونړه دَ

روس تابع شوي دُو.

اوس دا ویره څنګه لري کیدَي شوه-له ورنښي تدبیر نه برخلاف څه حکمت خواه مخواه پکار وهٔ-دا یقیني خبره دَه چه دَ کُل ولو مزَي ئ دَ روس په لاس کښ وهٔ.لیکن هغه مخپله دَ واردات له ځاي دومره لري وهٔ چه دَ دهٔ چلونو ډیر اثر نهٔ شهٔ کولَي او هغهٔ له خپلو ملکرو نه زیات زورَور هم نهٔ وهٔ-او بیشکه یوه زورَوره بادشاهي وه-دَ دي ګذار به انګلستان په ناچارئ زغملَ وَي-دَ نتیجي نه دا ظاهره شوه چه دَ هرات اختلل دَ ایران په اختیار کښ نهٔ وُو.لیکن که چري هغهٔ هرات اخستيَ هم وَي نو دَ هغهٔ خلاصیدل څه ګران نهٔ وُو او ډیر حرځ پرِ هم نهٔ کیدهٔ-چه پیرنګیانو ته عقل راغيَ نو هم دغه چل ئ په ۱۸۵۶ء کښ وکړ-دَ ایران په بندر بانډ دَ حملي کولو نه سر دَ لاندِ راپریوت.که چري دَ دي حملي دباؤ ئ په ۱۸۳۷ء کښ ورکړي وَي نو دا دَ تسلَئ نتیجه به ترِ راختلي وه.هغه وخت دَ پښتنو له ډډي څه دومره ویرِه نهٔ وَه-دَ انګریزي هندوستان او افغانستان تر منځ پنجاب پروت وهٔ چه په هغي باندِ دَ جنګیالِي سکهانو قبضه وه او دوئ دَ پښتنو دَ پیرو راسي دښمنان وُو.هر کله چه دوست محمد سره دَ خفګانَ پیښور دَ سِکهانو نه خلاصولَ نهٔ شهٔ-نو دَ داسي کمزوري بادشاهيَ نه انګریزانو ته څه ضرر رسیدَي شهٔ-دا خبره داسي صافه وَه چه په لږه مُده کښ دَ دي فیصله مخپله کیدَي شوه-که چري دا نتولي خبري په یو لنډ نظر کتليَ شوي وَي نو تش دومره خبره وَه چه دَ کابل امیر له پیرنګیانو نه دَ پیښو دَ واپسئ درخواست کړي

وهٔ ـ پېښور دَ انګرېزانو مد دکارد لاندِ کړي وهٔ ـ مګر بیا هم هغوئ دَ واپسئ نه انکار وکړ ـ امیر هم دغه درخواست دَ روس دَ سفیر نه وکړ هغهٔ ورسره له زار نه دَ نغدو روپو مد د ـ دَ هرات دَ واپس اخستو او دَ سکهانو راجه سره دَ صُلح کولو لوظ وکړ ـ کوم وخت چه دَ خپل لوظ پُوره کولو دپاره ایراني فوځ دَ غور او هرات په لار باندِ روانیدهٔ انګرېزانو دَ خپلو وزیرانو راي دَ دي درنی مسئلي په باب چه په کښ دَ انګرېزي هندوستان ویره وَه واخسته ـ هغوئ دَ خپل نورَ پرېواتهٔ ملکونو دَ بهبودئ دپاره خپل اېجنټ ګورنر جنرل ته ولیکل چه دَ هندوستان دَ سنور پرېواتهٔ سرحد باندِ دَ انګرېزانو یو داسي دوست ضرور بکار دَي چه دَ دښمن حمله منعَ کولَی شي او هغه سرداران دِ لري کړَي شي چه دَ یوي مخالفي بادشاهئ دَ اثر دَ لاندِ وي ـ او هر وخت دَ خپلو ملکونو دَ زیاتولو په فکر کښ دِي ـ دَ دي مطلب حاصلولو دپاره چه هغو کوم تدبیر وتاړهٔ دَ هغي ښهٔ والئ او بدوالئ مشهور دَي ـ هغوئ دا فکر وکړ چه هغه سردار کُوزَول بکار دِي چه دَ سدوزو دَ خاندان په لري کید و هغهٔ ته میدان خالي شوَي دَي ـ او په ډېر ښهٔ انتظام سرهِ ئې بادشاهي جوړه کړي دَه ـ او دا خبره رښتیا دَه چه لکه دهٔ ته دَ بادشاهئ دبدبه حاصله وَه داسي بل هیڅ پښتون ته دَ فتح خان دَ مرګ نه پس نصیب شوي نهٔ وَه چه دَ ټولو خلقو پرِ پُوره پُوره اعتبار دهٔ ـ او دَ دهٔ په ځاي خو دَ سدوزو یو شهزاده بیا هم بارکزو په تخت کښیناوهٔ لیکن هغهٔ دَ خپل کم عقلتوب نه داسي نالایقَ کارونه وکړل چه له هغي نه

معلومه شوَه چه دۀ نۀ څه نوَي عقل زده کړَي دَي او نۀ يې
خپل زاړۀ عيبونه پرېښي دِي. ځکه دَ هغۀ بد بختي هم هغه
شان پاتي شوَه. دوه ځلي دَي په خپل زور مطلب ته ورسيد
خو دواړه ځلي واپس ووليستَي شۀ او يو ځل چه ورته دَ بل
ملک په فوځ کښته په لاس راتلونکي وَه نو دۀ دومره نامردتيا وکړه
چه ايله بيله يې تيښته نوُره وګڼله.

دَ انګلستان وزيران چه دَ هغو په مغزو کښ دا اسانه مسئله
دغه سي ترسره کيدَي شوَه دَ "لبرل پارټيَۍ" وُو. په اصل کښ
دَ "لبرل" وزارت دَ اصولو اصلي مُدعا دا نۀ وَه چه يو قوم نه دِ يو ښۀ
او عادل بادشاه دَ هغۀ دَ مرضَۍ نه برخلاف دَ تخت کُوز کړَي شِي
او دَ هغۀ په ځاي دِ يو نالايق او ظالم دَ هغۀ په اوږو کښينولَي شِي.
يو عقلمند سړَي دَ هغه بي شميره فايدو نه انکار نۀ شِي کولَي چه
دَ دي "لبرل" وزارت په برکت خلقو ته دَ آزادۍ او دَ ښۀ حکومت په
طفيل رسيدلي دِي. ليکن دَ انګلستان په تاريخ کښ داسي زماني
هم راغلي دِي چه دَ دي فرقي په عقل پردي راغلي دِي او ورته نامردي
پيښه شوي دَه. داسي معلوميږي چه لکه دَ يو پليت روح سورَي دَ
دوۍ په طبيعتونو بانـدِ شوَي وِي چه دَ هغي په وجه دوۍ خپل
اصول پرېښول او په يوه داسي مخالفه لار روان شول چه دَ هغو
دَ ملک مخالف فريق ته هم بالکل له عقل نه لري ښکاريده. مونږ دغسي
بي سره واکي په دي تير شوُ درِيو کالو کښ هم ليدلي دِي. هرځاي
کښ دَ خرابي نتيجي وجه هم دا بي فکري وَه. هره موقعه کښ "لبرل

پارټۍ" خپل لاس او ښې ترلې وُو او دَ حکومت واګې ئې یو متعصب سرِي ته حواله کړي وي. په ۱۸۳۸ کښې دَ لارډ پامسټرن له وېرې نه دَ دې وزارت نور هم وار خطا شهٔ او دَ ورېښې نه زیات ګمراه شهٔ په ۱۸۷۶ کښې دَ مسټر ګلیډسټون دَ عناد او دَ ویار خبرو پر داسې بد اثر وشهٔ چه لکه دَ راندهٔ ئې ګامې اوچتې کړې. هغهٔ ویلې وُو. "معلومیږي چه لبرل پارټيْ به په ۱۸۷۹ کښې هم په خود نهٔ شي".

ایرانیانو دَ هرات قلابندِي په ۲۳ نومبر ۱۸۳۷ کښې شروع کړې وَه. دَ هغو په فوځ کښې روسیان، فرانسیسیان او دَ اټلي افسران وُو. ټول کال قلابندِي جارِي وَه. دا ټول دَ یو انګریز افسر ایلډ ریډ پاټنجر دَ کوششونو نتیجه وَه چه دَ ښهر دَ قلا دننه ناست وهٔ. دَ ایرانیانو ټول کوششونه بیکاره شول. دا ایلډ ریډ پاټنجر وهٔ چه دَ قلاګانو مرمت ئې کړي وهٔ. او دَ قلابندیانو تسلي به ئې هر وخت کوله. دا هغه وهٔ چه شاه کامران او دَ هغهٔ وزیر یار محمد ئې به دښمن بانِدِ دَ حملې دپاره تیار کړي وُو. دا ایلډ ریډ پاټنجر وهٔ چه په ۲۴ جون ۱۸۳۸ کښې ئې دَ دښمن هغه حمله منع کړې وَه. چه دَ جرنیل بوروسکي په مخته‌ئې کښې شوې وَه. په دې حملې کښې دَ روس دَ رضاکارانو یوه پلټن هم شامله وَه. او په آخر کښې دا کار هم دَ ایلډ ریډ پاټنجر په برکت وشهٔ چه ایرانیانو په ۸ سټمبر ۱۸۳۸ شکست وخوړ. او ډېر ناامید او سپک واپس شول قلابندِي ئې پرېښوه او دَ خپل سرحد لار ئې ونیوَه. چه دَ هرات قلابندِي اوچته شوَه نو دَ انګریزانو دَپاره دَ افغانستان په معاملو کښې دَ لاس اچولو

بیا څه غنته وجه پاتي نهٔ شوه لیکن دَ دي خبر دَ رارسیدو نه ورښې
گورنرجنرل لارډ آکلینډ لاس اچولو ته تیار شوي وهٔ - دَ اکتوبر ۱۸۳۸ء
په ورښي تاریخ گورنرجنرل هغه اصول څرگند کړل چه په هغو باندِ دَ
"لبرل" وزارت دَ تجویز موافق دَي عمل کونکي وهٔ - په هغو کښې دا خبره
هم څرگنده وه چه دَ بارکزو حاکمان دَ خپلو جګړو او دَ خلقو دَ ناراضئ
په وجه په هیڅ شان دَ پیرنګیانو دوستان او دَ دوئ دَ مطلب دپاره فایده‌من
کیدَي نهٔ شي - څکه دا تجویز دَي چه دَ هغو په ځاي دِ دَ ایستلي
شوِي سدوزِي تبر یو سړي شاه شجاع الملک په گدئ باندِ کښینولَي
شِي - دهٔ دَ خپلي بادشاهئ په وخت دا اقرار کړي وهٔ چه دَ باهرَني
دښمن مقابله به په اتفاق سره کوُو - او دا لوظ پیرنګیانو په هغه زمانه
کښې ډیر ضرورِي گنړلَي وهٔ - پس څه وخت چه بادشاهي ترِ نه دي
او سنو بارکزو حاکمانو واخسته نو پیرنګیانو دَي په ډیر عزت سره ځان څنګه
کښیناوهٔ - په دي کښې لارډ آکلینډ دا خبره هم څرگنده کړه چه شاه شجاع
نه بیا تخت ورکولو کښې دَ پنجاب رنجیت سنګه هم دَ ملګیرتیا لوظ کړي
دَي او دَ دهٔ دَ موجوده ملکونو ذمه‌وارِي پیرنګیانو اخستي ده -

دَ دي خبري څرگندولو باندِ لا پنځهٔ جمي نهٔ وي تیري شوي
چه انګریزانو ته دا خبره معلومه شوه چه په کومه وجه چه دي کار ته
ملا ترلي شوي ده دَ هغي اوس هیڅ نښه نښانه پاتي نهٔ شوه - ایرانئ
نوځ سره دَ خپلو څلو ښتو زرو وطني ځوانانو دَ روس دَ پلټني
او دَ غیر ملک دَ افسرانو دَ خپل بادشاه په حکم له هرات نه واپس شهٔ :
دَ روس دَ ایران او دَ افغانستان تموله ملګیرتیا گډه وډه شوه - کوبي

خطري چه په اول ښکاريدي هغه اوس بالکل ورکي شوي او دَ
هغو هيڅ اثر پاتي نهٔ شهٔ۔ په مغربي ايشيا کښ دَ توپخاني يو لفټننټ
دَ ملک حالت پيرنګيانو دپاره داسي ښهٔ کړ لکه چه دَ برنز جرګي خراب
کړي وهٔ۔ څکه چه دَ دهٔ په عقلمندئ او ځوانمردئ دَ روس او دَ
ايران دَ فساد بړبوکۍ دَ امير صاحب او دَ هغهٔ دَ ورونړو دَ وړاندې
ماته شوه۔ اوس تش دومره پاتي وُو چه دَ بارکزي سردار په ځاي
يو سدوزي بادشاه کړي شي۔ يعني دَ يو لايق په ځاي يو نالائق۔
دَ يو عزت‌دار په ځاي يو بي‌عزتَ۔ دَ يو مرد په ځاي يو نامردَ
او دَ يو زمري په ځاي يو ګيدړ کښينولي شي۔ سره دَ دي چه دَ جنګ
څه معقوله وجه پاتي شوي نهٔ وه خو بيا هم دَ جنګ په تيارو کښ
څه کمي رانهٔغي۔ لنړه دا چه دَ لدهياني شاه‌شجاع يو ځل په تخت
کښينول ضرور وُو۔ او دا يوه داسي بوښته وه چه دَ دي نه په
۱۸۳۸ءکښ "لبرل" پارټي په ډيري خوارئ سره راوتي وه۔ ليکن
دَ روس او دَ ايرانيانو په واپس کيدو باندې سرکار په دي کښ دا
تبديلي وکړه چه دَ فوځ طاقت ئې څه قدر کم کړ۔ يوه بله تبديلي
هم شوي وه مګر هغه دَ سرکار کار نهٔ وهٔ۔ هغه دا وه چه اول دا
يقين وهٔ چه دَ فوځ مقابله به روس او ايران سره هم کيږي نو دَ
هندوستان کمانډرانچيف سرهنري فين ته په دي لام باندې دَ تلو
حکم شوي وهٔ۔ ليکن چه دَ روس او دَ ايران پلټني واپس شوي
نو سرهنري فين پخپله لام باندې تلل مناسب وُ نهٔ ګڼل۔
بيا سرجان کين دَ بمبئي کمانډرانچيف دَ دهٔ په ځاي مقرر شهٔ

کوم فوځ چه دَ افغانستان دَ حملي دپاره جمع شوَي وهٔ ـ دَ هغهٔ دري جُدا جُدا حصي وي ـ دَ بنګال فوځ چه په کښې (۷۵۰۰) ځوانان وُو دَ سر ویلوبي کاټن دَ لاندِ په فیروزپور کښې جمع شوَي وهٔ ـ دَ هندوستانیانو یو خاص فوځ چه په کښې شپږ زرځوانان وُو خاص دَ شاه شجاع په خاطر بهرتي شوَي وهٔ چه دَ هغي افسران انګریزان وُو ـ دا خلق دَ شکارپور نه روان شوَي وهٔ ـ دَ دریي حصي نوم "بمبئ کالم" وهٔ چه په کښې ۵۵۰۰ ځوانان وُو او دَ هغو کمان په ځان دَ سرجان کِین په ذمه وهٔ ـ دا فوځ به په سنده تیریدهٔ او په بولان دَره او خوجک کوتل باندِ به تهٔ ـ دَ فوځ یوه څلورمه حصه هم جوړه شوي وَه چه په هغي کښې ۲۵۰۰ ځوانان وُو ـ او دَ هغي مطلب دا وهٔ چه په سنده قبضه وکړي او دَ بمبئ علاقي سره دَ سوال ځواب لاره وساتي ـ پس دَ څلورو وارو حصو فوځ ۲۱۵۰۰ وهٔ ـ دا خبره یادَه لرل بکار دِي چه دا لام دَ رنجیت سنګه په رضا صلاح جوړ شوَي وهٔ ـ او دَ هغهٔ دَ علاقي حفاظت پیرنګیانو په خپله ذمه اخستيَ وهٔ ـ په داسي صورت کښې دا خیال کیدَي شي چه رنجیت سنګه به دَ پیرنګیانو فوځ په خپله علاقه کښې تیریدو ته پرینښيَ وِي خو دا خبره داسي نهٔ وَه هغهٔ خپله دوستي وُنهٔ بالله ـ او نتیجه يُ دا شوه چه دَ بنګال کالم په پنجاب او خیبر باندِ کابل ته لا نهٔ رهٔ ـ بلکه دَ ستلج سیند په غاړه غاړه ترهغي ځایه لاړ کوم ځاي چه اباسیند ورسره یو ځاي کیږي ـ او بیا دغسي په رَوړي پوريوَت ـ او دا له نقشي کتو نه معلومیږي چه دَ حمله کوونکي فوځ جنګي موقعه څومره خرابه او په ویره کښې وَه ـ په یو غیر ملک یعني افغانستان باندِ دَ حملي کولو دپاره

یه بل غیر ملک (سنده) بانْدِ تلل وُو - او لا دریم غیر ملک پنجاب
يُ هم ترَخ کښې رانوتيَ وهُ - پخپله دَ انګریزانو دَ فوځ وجود دَ سنده
دَ امیرانو او دَ پنجاب دَ راجه په رضامندئيُ موقوف وهُ - دَ سنده دَ
امیرانو وفادارِي خو دَ پیرنګیانو په اختیار کښې وَه مګر دَ پنجاب یه
راجه يُ دومرهِ لاس نهُ چلیدهٔ - دي کښې شک نِشته چه پیرنګیان
افغانستان ته دَ رنجیت سنګه په اجازت ننوتِي وُو چه اوس یوِ زورِ
تپ او کم همتَ سړي وهُ - دَي په جون ۱۸۳۹ئ کښې مړ شهٔ - دَ
دهٔ له مرګَ پس دَ انګریزانو فوځ دَ دهٔ دَ وارثانو په اجازت پـه
افغانستان کښې داخل شهٔ چه دَ خیرَ دَ لویو زړونو خاوندان نهُ
وُو -

---

# لَسم بابْ (۱۰)

## په افغانستان بانْدِ دَ پیرنګیانو ورمبَي لام

ما خپل کتاب په یوِ داسي طرز روان کړَي دَي چه دَ هغي په
وجه زهُ "په افغانستان بانْدِ دَ پیرنګیانو دَ حملي او دَ هغي دَ نتیجي" نـه
غیر څه زیاتِي حال لیکليَ نهَ شم - دَ سر هنري هیولاک یوِ دړوکيَ غونډِ
او دَ سرجان یوِ لوي تاریخ په درَي جلدونو کښې دَي او زهُ تمول
حال په یوَ باب کښې لیکم - بیا هم ضروري تاریخي واقعي به نهَ پریږدم
اګرکه دَ جنګونو څه حالات رانه پاتيَ شي - ځکه چه هغو سره دَ تـاریخ

شوقیان ډېره مینه نه کوي.

د دسمبر ۱۸۳۸ء په اول ورځو کښې شاه شجاع د خپلو شپږو زرو ځوانانو سره له فیروزپور نه شکارپور ته په ستلج او اباسیند باندې پورېوت. هغه سره د بنګال د فوځ یو افسر مسټر میکناټن وه چه د کمپني په خیال کښې د هغه د دلبار سفیر مقرر شوی وه. یوه جمعه پس په لسم دسمبر د بنګال کالم چه د سر ولوبي کاټن د لاندې وه په هغه لاره هم هغه ځای ته ورسید. لیکن سرجان کین په سنده کښې د اباسیند په جاړي خوله د میاشتي په اولو ورځو کښې د بمبۍ یو خاص فوځ سره داخل شه او دکر نوم ځای باندې ئې تنبوان لګ کړل. زه د بنګال او د شاه شجاع فوځ دلته پرېږدم او د سرجان کین حال د اباسیند له خولي نه تر کندهار پورې لیکم. دا یو ډېر سخت لام وه. دلته سرجان کین ته معلومه شوه چه ماسره اوښان لږ او راسن ډېر کم دي.

د سنده امیرانو بې اندازې دارمدار او ملګیرتیا ښکاره کړه خو سرکاري فوځ ته ئې په تلو راتلو کښې ښه تکلیف ورکړ. ډېري ورځي او هفتي په کښې تیري شوي خو فوځ د مخکښې تلو نه ناچاره وه. د سرجان کین طبیعت هسي هم تند وه او چه بیا دا اړو پېس ورسره وشه نو نور هم په قهر شه. د سنده امیرانو به د هري خبري لوظ کاوه خو لوظ به ئې پوره کاوه نه. آخر په ډېر کوشش سرجان کین خپل فوځ تر ټهټهي ورساوه چه له حیدرآباد نه ۸۴ میل دي. اوس امیرانو خپله کارروائي بدله کړه او د عزو ځو په

ځاي يُ اوس په جار مخالفت راواخست. لیکن سر جان کِین هم په مخکښې تهٔ. هغوئ دَ راسن سامان لُوټ کړ. دَ سوال جواب په لاره کښې يُ خرڅ واچاوهٔ. سرکارِي ډاک يُ بند کړ او مزدورکار خلق يُ قید کړل. دا خبري دَ يو انګریز جرنیل په طبیعت باندِ سختي ولګید ي. اوس هغهٔ ته دا معلومه شوه چه څه کول پکار دِي. دهٔ يو جواب سر ولوټِلي کاټن ته دَ مدد دپاره ولیږهٔ چه هغه وخت په روړِي کښې وهٔ. هغهٔ په جنوري ۱۸۳۹ء کښې دَ سنده په ګډ يُ دَ حملي کولو نیت وکړ. امیرانو چه دا حال ولید نو طاعت يُ ومانهٔ. او پولیټکل ایجنټ سره يُ لوظ وکړ چه مونږ هغه ټولو شرطونو باندِ رضا يُو کوم چه له مونږ نه انګریزي حکومت غواړِي دا وخت ټولي ګراني آساني شوي او په ۱۰ فروري ۱۸۳۹ء کښې سرجان کِین قطب ډډي نه کُوچ شروع کړ. په ۲۳ فروري دَ بنګال کالم يو برګیډ په بولان دَره باندِ تیر شهٔ او په ۵ مارچ کوټي ته ورسید هلته یوه میاشت پس کماندرانچیف او شاه شجاع سره يو ځاي شهٔ. دَ بمبي فوځ په بولان دَري کښې په ۹ او ۱۱ اپریل ننوت او هم هغه ټیکاوُنړي ته وراندِ لاړ. په ۷ اپریل سرجان کِین په خوجک کوتل دره دَ تلو دپاره له کوټي نه مخکښې شهٔ. دَ دي دري په اکثرو ځایونو کښې لوړي ژوري او تنګي چري دِي چه په هغو باندِ دَ بارکرو ځاروو تیریدل ګران دِي. دي جرنیل ته دا خبره نهٔ وَه معلومه چه دلته يوه بله آسانه لار هم شته. دَ دښمن يو څو سوارهٔ ببشکه ښکاره شوي وُو خو دَ هغو دَ تار په تار کولو

دپاره یو څو کولۍ بس وي - دَ دي ځاي نه تر قندهار پوري یو بیخم کوچ وشهٔ - فوځ دي ښهر ته مخانخ په ۲۵ اپریل ورسید او سمدستي ورننوت - یو معتبر سپاهي لیکي چه دَ قندهار حاکم دا حال ولید نو ایران ته وتښتید او هیڅ مقابله يُ وُ نهٔ کړه - دَ ښهر خلقو دَ بدي ورځي دَ بودا بادشاه حکم ومانهٔ - چه بي دستورَ دَ یو غیر ملک دَ بادشاه دَ توري په زور په تخت بانډِ کښیناست - دا فوځ تر هغي قندهار کښې وهٔ ، چه دَ فوځ بله حصه رارسیدلي نهٔ وَه - یعني ۱۷ جون پوري چه دغه ورځ رنجیت سنګه دَ پنجاب بادشاه مړ شوَي وهٔ - سرجان کین دَ قندهار دَ حفاظت دپاره یو زوروَر فوځ پرېښود او دَ تارناک په غونډَيُ غزنِي ډډي ته لاړ - دا يُ یو داسي غلط کار وکړ چه دَ دي نه یوه ډیره بده نتیجه پیدا شوَه -

په ۲۱ جون غزنِي ته ورسید - په انګریزي فوځ کښې اتهٔ زرَ څوانان وُو - او څلوېښت توپي وي - دويُ ولیدل چه په قلا کښې دَ شهزاده حیدر واک اختیار دَي - چه دَ ابیر زوي وهٔ او ورسره دري نیم زرَ څوانان دَ څوکۍُ دپاره تیار وُو -

دَ دي کتاب په ورښتَيُ حصه کښې ما دَ غزني لږ غونډِ حال لیکلَي دَي - دا یو محکم ځاي وهٔ - دَ دهٔ انتظام ښهٔ وهٔ لیکن دَ قلابندَيُ منعَ کولو طاقت په کښې نهٔ وهٔ - دَ قلابندَيُ دپاره سرجان کِین سره دَ توپو او دَ وخت کمَي وهٔ لیکن دَ دهٔ فوځ ښهٔ لولیدلَي وهٔ او لایق انجینیران هـم ورسره وُو څکه يُ په ۲۳ جون جنګ شروع کړ او کامیاب شهٔ -

له ټولو نه مرښَي انجینیر لفټنټ هنري ډیورنډ وهٔ چه دَ کابلَيُ

دروازي لري کولو بانډِ مقرر شوي وُه. دا په ټولو دروازو کښې دَ قلا کمزوري دروازه وَه. دَ حملي ځوانانو دَ دارو سکي نه کار واخست دا حکمت وچلیدهٔ او غزني فتح شهٔ کورنزي ئي قید کړ. دَ غزني په داسي زر فتح کید و بارکزي اوتر شول. سرجان کین دَ دي انتظام کولو دپاره سمدستي دَ کندئي ځاي ته په ۳۰ جولائي بانډِ روان شهٔ او بي جنګ جدال په ۷ اکست کابل ته ورسید. هم په دغه ماښام دَ شاه شجاع مراد حاصل شهٔ. دَ کندئي ښهر یعني کابل ته ورننوت او بالاحصار ته لاړ. او هم هغلته ئي آستوګنه اختیار کړه. خداي خبر چه امیر دوست محمدخان چرته وُه او څه ئي کول.

دَ پیرنګیانو دَ چپاوُ ورښې خبر چه هغهٔ واوریده نو دَ هغهٔ لاسو ښپو نه ساه وُوته. هغهٔ دَ پیرنګیانو سره دښمني نهٔ کوله. هغهٔ دَ روس او دَ ایران په ملکرتیا ډیر افسوس کاوهٔ چه دَ دهٔ دَ قندهار و ورونړو په صلاح سره شوي وَه. دَي ټجیله په دي ملکیرتیا راضي نهٔ وُهٔ او انګریزانو سره ئي بدي نهٔ غوښته. خو دَ حملي منځ کولو دپاره وله آخر څه بکار وُو. هغهٔ خو دَ پیرنګیانو سفیر سره ښهٔ دارمدار کړي وُه او هم دغسي دوستي به ئي دَ هندوستان دَ حکومت هر سړي سره شرله. لیکن انګریزانو یوه خبره نیولي وَه چه په هغې هغه راضي کیدَي نهٔ شهٔ. دوئ دَ افغانستان بادشاهي ځان دپاره نهٔ لانډِ کوله بلکه دَ هغه سړي دپاره ئي اخستله چه دَ هغهٔ په حکم دَ دهٔ پلار اول ړوند کړي شوي وُه او بیا قتل شهٔ.

او دا وخت قلابندي خو تش دَ هغهٔ دَ تاج دَ اخستو دپاره وَه.

د حملې د منع کولو دپاره يې چه بله هيڅ لار بيا موندې نه شوه نو د بارکزو په بهادرۍ باندې مقابلې ته تيار شوي وه. ځکه يې د بالاحصار د قلا مرمت کړي وه. د غزنې قلاګانې يې محکمې کړې وې او خپل زوي حيدر يې د غزنې حفاظت دپاره ليږلې وه او بل ځوي افضل يې د غزنې خواوشا کښې د دې دپاره مقرر کړې وه چه حيدر د دوي په ورستو کړې نو ته يې بيا ښه ضرر واخله. اکبرخان زوي يې د خيبر د درې په حفاظت باندې مقرر کړې وه. او دې بجمله د غزنې او د کابل تر مينځ د مناسب انتظام کولو دپاره تيار وه. موږ ته معلومه شوي ده چه اکثر کارونه د هغه د اميد برخلاف وشول. غزنې په آسانه فتح شه. افضل د غزنې د قلا په بايللو باندې وارخطا شه. خپل هاتي او د کيمپ لوي سامان يې پريښود کابل ته وتښتيد. اوس امير عاجز څه کولې شو؟

بيا هم هغه په خپلو تدبيرونو کښې څه کمې و نه کړ. خپل سرداران يې جمع کړل او هغو ته يې خپل نيت ښکند کړ چه هغو په ډيره خوشحالۍ خوښ کړ. بيا هغه خپل ورور جبارخان د پيرنګيانو کيمپ ته راوليږه او د شاه شجاع دپاره د تاج او تخت پرېښو ته تيار شه چه بادشاه دې د وزيرۍ په عهده واخلې. دا عهده د دوي د ټبر دپاره د شجاع غر نيکه احمدشاه ميراث کړې وه. او بيا جبارخان خو هميشه د شجاع په طرف وه. په دې خبره د امير اميد وه چه روغه به ښه وشي.

ليکن دلته د دې تجويز نه انکار وشه او ډيرې بتوفي خندا

درپوري وشوي- او په جواب کښې ئې ورته وُوِ چه په لُدهيانه کښې
به درته ښهٔ دَ عزت ځاي درکړُو کوم ځاي نه چه شجاع راغلیَ دَي-

امير دا جواب خوښ نهٔ کړ او يو آخر کوشش ئې هم دَ خپل قِسمت
دَ آزمېښت دپاره وکړ- دَ هغهٔ دَ کټي څه امېد نهٔ وهٔ او پوهېدهٔ چه
څما ښيه ښوېدلي دَه ليکن هغهٔ په خپل حق باندِ ځان وژل ښهٔ
خوښول- مګر دَ هغهٔ دا مراد هم تر سره نهٔ شهٔ- دَ تيرو شوو حديثو
په وجه دَ نورو قامونو زړونه هم دَ افضل خان په شان پريوتِي وُو
شجاع سره خو به هغوئ کتلي وُو خو په انګريزانو دَ هغو زور نهٔ
چليدهٔ- دَ پښتنو سردارانو له خبرو نه دا صافه معلومېدَه چه دَ
هغو باطن مراوِي دِي او له جنګَ ورنَيي ئې بيعلاد کړي دَي-
امير هغو ته ډيره زړهٔ ورتيا ورکړهٔ او دَ معاملو اصليت ئې ورته ښکاره
کړ- او دا ئې ورته وُوِ چه پيرنګيان له تاسو نه زيات تکړهٔ نهٔ دِي او
نهٔ دومرهٔ بهادران دِي- او که تاسو په جنګ کښې مړهٔ شئ نو دَ
دي نه به ښهٔ وِي چه دَ يو غير قام کښېنولي بادشاه حکومت
ومنئ- او ډير ئې پوه کړل چه کوم ځايونه چه په ميدان کښې مونږ
لاندِ کړِي دِي دَ هغو مضبوطيا په هيڅ حکمت نهٔ کمزوري کيږي- مګر
دَ ملک محبت په دوئ کښې مړ شوَي وهٔ ځکه دَ دهٔ زړهٔ ورتيا څه اثر
وُ نهٔ کړ- دوئ دَ دښمن په لاس کښې دَ خپل ځان ورکولو نه تيښته
غوره کړه-

چه ټول سرداران داسي بيوفا شول او دهٔ سره تش دده زرَ
نوکران پاتي شول نو په آس سور شهٔ او باميان پلَو ته روان شهٔ

لس دولس کیټي پس شاه شجاع او دَ هغهٔ مددګار هلته ورسیدل کوم ځای نه چه امیر روان شوی وهٔ۔ هغه وخت بې وفا نمک حرامو وُو چه امیر وتښتید۔ په انګریزي فوځ کښ کپتان جیمس او ټرم چه دَ هغهٔ کارونه ځلیدلي وُو۔ په خوشحالئ دَ هغه فوځ کمانیر شهٔ چه کوم دَ امیر دَ راښوو دپاره مقرر شوي وهٔ۔ لس دولس نور افسران هم ورسره ملګري شول۔ که دَ دي جرنیل په اختیار کښ انګریزي رساله دَي نو امیر به يې ضرور نیولئ وهٔ۔ لیکن دَ بدقسمتئ نه دَ پښتنو رساله دونهٔ چه دَ هغي کمانیر حاجي خان ککړ وهٔ۔ دَي دَ سټ وزو له ټبر یو نمک حرام وهٔ۔ اګرکه دَ سټ وزو لجنت دا وخت زورور وهٔ خو دَ هغهٔ په مغزو کښ دا خبره نهٔ راتله چه دَ بارکزو سردار ونسي او خواه مخواه دَ دي ټبر دښمني واخلي۔ دَ دوست محمد دَ راښوو خدمت يې ځکه واخست چه هغه له راښوو نه بچ کړي لکه چه هم دغسي يې وکړل۔ دَ ملک له لارو او له ږوږنو نه هغه ښهٔ خبر وهٔ لیکن انګریزان بالکل نابلدَ وُو۔ چه دَ هغهٔ ښهٔ یقین راغئ چه اوس به امیر له بامیان نه هم دیرش میلَ وړاندِ تلئ وِي نو هله يې دوئ بامیان ته ورسول۔ او ټرم ته له بامیان نه دَ وړاندِ تلو حکم نهٔ وهٔ ځکه امیر په آسانه بخارا ته وتښتید۔

ما اول دَ هغه ټولو افسرانو او فوځونو ذکر کړي دَي کوم چه امیر دَ انګریزانو دَ حملي منع کولو دپاره مقرر کړي وُو۔ دَ هغو نه یو اکبرخان وهٔ چه دَ یو دوه زره سره دَ خیبر دَري ته لیږلئ شوي وهٔ او هغلته هغه بالکل نکره ولاړ وهٔ۔

دا ورښئ فيصله شوي وه چه دي دري ملګرو کښې دوه ملګري يعني انګريزان او شاه شجاع چه څه وخت په بولان دره افغانستان ته ننوزي او حمله وکړي نو دا دريم ملګري يعني سکهه دِ تيمورشاه سره چه دَ شجاع زوي دَي دَ خيبر په دره رانوزي - رنجيت سنګه چه کوم خاص فوج ليږلئ وه په هغې کښې پنځه زره پښتانه وُو - کپتان ويډ دَ پولټيکل ايجنټ په حيثيت ورسره وه او هندوستاني فوج هم لږ غونډِ ورسره وه - ليکن دَ دي ټول فوج لوي افسر تيمور مرزا وه - دَ رنجيت سنګه دَ ناجوړتيا او دَ مرګ او دَ بي انتظامئ په وجه دا فوج څه موده په پېښور کښې ايسار شهٔ او په ډېرو خوارو دَ جولائي په آخره جمعه کښې روان شهٔ - سره دَ دي چه دَ سکهو شهزاده ورسره وه بيا هم ټول انتظام دَ پيرنګي افسر کپتان ويډ په لاس وه -

په خيبر چه ننوتل نو ډېر په احتياط علي مسجد ته ورسيدل - هلته دوي سره مقابله وشوه خو څه نتيجه تر نه راوُنه خته - په پنځمه ورځ ۲۶ جولائي ۱۸۰ ځوانان مړهٔ شول - پس له هغې نه په قلا قبضه وشوه - دي وخت کښې اکبرخان دَ خيبر په هغه سر ډَکه کښې وه - دَي دَ علي مسجد مدد ته ولي رانهٔ غئ؟ او دَ علي مسجد دَ فتح کيدو نه پس ئې بي جنګ کابل ته ولي مخه وکړه؟ دا داسي سوالونه دي چه دَ دي جواب دَ ډير فکر کولو نه پس ورکولئ شي -

غزنئ په ۲۴ جولائي فتح شوي وه او ناکاره خبر ډير زر رسي - ممکن دي چه دا خبر اکبرخان ته هم لکه دَ نورو سردارانو رسيدلئ وي او په هغهٔ ئې څه اثر کړي وي - او څله دهٔ دَ مستر ويډ په وړاندِ تلو بانډِ

څه لاس او ښه نهٔ وِي خوځوَلي - کپتان وئيلي چه په دي شان دَ تيمور او دَ فوځ سره په ۸ ستمبر کابل ته ورسيد - دَ لاس اصلي مطلب دا وخت پوره شوي وهٔ - پيرنګيانو خپله غاره خلاصه کړي وَه او هغه امير ئي له افغانستان نه وشړهٔ چه دوئي په کښې خپله فايده نهٔ ليدَه - او هغه بادشاه ئي په تخت کښيناوهٔ چه دَ دوئي په فايده کښې ئي نظر وه - دا هر څه وشول خو دَ پروګرام دويمه حصه لا نهٔ وَه پوره شوي -

دَ اکتوبر ۱۸۳۸ء په ورستي تاريخ چه لارډ آکلينډ کومه خبره کړي وَه په هغي کښې ئي دا لوظ کړي وهٔ چه يو ځل شاه شجاع دَ خپل اختيار مالک شي او دَ افغانستان خوداختياري او سلامتيا قايمه شي نو هغه وخت به انګريزي فوځ راواپس کيږي -

اوس دَ دي لوظ پوره کولو وخت رانژدي شوي وهٔ - دوست محمد او دَ هغهٔ دوه زامن افضل او اکبر بخارا ته تښتيدلي وُو او هلته هغوئي داسي وُو لکه نظربند - دَ قامونو وفاداري دَ شجاع په باب کښې بالکل رښتيا ښکاريدَه - په داسي حال کښې دا دويم شرط ولي بيکاره پاتي شهٔ - دَ شجاع خاص فوځ چه په کښې دري قسمه ځوانان وُو دَ ښهر حفاظت کولي شهٔ - او که شجاع دَ سردارانو دَ خوشحالولو دپاره هغو سره دارمدار کړي وَي او دَ هغو په رضا ئي څه لويي لويي عهدي هغو له ورکړي وَي نو بيا به دَ هغو په وفادارئي کښې هڅه شک نهٔ وهٔ پاتي شوي - دَ هغهٔ دَ مرادمندئي نغاره يو څو مياشتي کښې دَ امن قايمولو دپاره ډيره وَه - که هغه سرداران ئي سمدستي دَ ملک په دننه انتظام باندِ لګيا کړي وَي او دَ انګريزانو دَ وعدي مطابق واپس

شوي وَي نو دَ انگریزانو ایمانداري به هم ښه معلومه شوي وَه-او پو ښهٔ اثر به پیدا شوي وهٔ (خو متل دَي چه دَ پیښی نه تیښته نشته) دا دَ شجاع دَ امتحان دپاره هم یوه ښه موقعه وَه-دَ دي نه به معلوم شوي وُو چه دَ سدوزو تبر له خپل دښمن نه دَ جګړو په فیصلو کښی او دَ یو بیوفا رعیت په راټینګولو کښی زیات لیاقت لري.

دَ دي لوظ پُوره کول لارډ آکلینډ مسټر میکناټن او سرجان کین ته پرېښي وُو چه دا به دوئ په یو مناسب وخت باندِ پُوره کړِي-ګورنر جنرل پرِ دا یو معقول شرط ایښَي وهٔ چه که چري فوځ هلته پاتي شِي نو دَ هغي شمیر دِ لږ نهٔ وِي-څکه فیصله دَ مسټر میکناټن په راي باندِ پرېښي شوَه-دي لایق سفیر کښی هغه درونډ خوي نهٔ وهٔ چه دَ هغي په وجه دَ دهٔ په شان افسران په جګړو فسادونو باندِ بَرِي بیاموِي-او دَ هغه خلقو په شان چه په نوکرَۍ کښی ئ رو رو ترقي موندلي وِي-هغه له ذمه وارَۍ نه ویریدهٔ-هغه یو ډیر لایق سړي وهٔ مګر خپل لیاقت ئ په وخت نهٔ ښکاره کاوهٔ او خپل خیالات به ئ بیا بیا په خپل زړهٔ کښی ګرداڼول هله به ئ یوه محکمه راي قایمه وله-داسي خلق همیشه دنیا کښی ډیر وِي.

مسټر میکناټن په خپله هوښیارتیا دا خبره معلومه کړي وَه چه دَ شجاع هیڅ عزت او برکت په خپل رعیت کښی نشته-مګر سره دَ دي که چري انګریزي افسران دَ کابل دَ ریاست په لویو عهدو باندِ مقرر کړَي شِي نو رعیت به دا خیال وکړِي چه ملک جوړ دوئ لاندِ کړ-څکه ئ دا فیصله وکړه چه ایمانداري

دا ده چه شجاع دِ دَ رعیت سنبالولو ته پرېښوي شِي. نوري هم داسې ډېري وجهې وي چه هغو دَي دَ خپلې غاړي خلاصولو ته ولمسوهٔ. ولې چه په کابل دَ انګرېزي فوځونو پاتې کېدل چه په مینځ ایشیا کښ دَ انګلستان زورزور طاقت ورته ویلی شِي او دَ روس دَ سازشونو دفع کول. دا داسې خبري وي چه دَي يَ دَ ګورنر جنرل دَ حکم نه برخلاف عمل کولو ته تیاروهٔ. دَ دې نه علاوه پخپله شاه شجاع مکناټن ته په پرده کښ ویلي وُو. چه هسې نَه چه انګرېزي فوځونه لاړ شِي او دوست محمد بیا دَ واپس راتلو زړهٔ ورتیا وکړِي. څه وخت چه دا ټولي خبري دهٔ خپلې راي سره یو ځای کړې نو دَ مسټر مکناټن په دې بانډ صلاح راغله چه ټول فوځ دِ واپس شِي څو یوه حِصه دِ پاتې شِي.

دَ بخارا امیر دې زمانه کښ کرنل سټوارټ دَ انګرېزي فوځ یو افسر قید کښ ساتلَي وهٔ. دا افسر په سنه ۱۸۳۸ء کښ له طهران نه بخارا ته دَ دې دپاره لیږلَي شوَي وهٔ چه هغه روسیان راخلاص کړِي چه دې ښهر کښ نیولي شوِي دِي. دا خبره هم مشهوره شوَه چه دَ روس هغه فوځ چه دَ خیوا دپاره خاص شوَي وهٔ آرنبرګ بانډ جمع کېږي. دَ دې نه علاوَه دا خبر هم ګرم وهٔ چه دَ دوست محمد ورور جبارخان چه کولوم کښ دَ امیر ټبر سره وهٔ نافراره دَي او دَ دهٔ دا نافرارَي دَ شجاع دپاره ښهٔ نهٔ وهٔ. دې ټولو قِسمو خلقو بانډ دَ یو زورزور دباؤ غورزولو دپاره سفیر لږ غونډ فوځ چه په کښ ګورکها پلټن او دَ آسونو توپ خانه وَه. دَ کولوم لو عراق په درو

بامیان ته ولیږه - ډاکټر پرسیوال لارډ دَ پولټیکل ایجنټ په حیثیت ولیږلئ شهٔ - دا ډاکټر اګرکه ډیر لایق طبیب وهٔ لیکن ډیر بې زړهٔ وهٔ - څه وخت چه دا فوځ په دغه دَرو تیر شهٔ نو ډاکټر ته وُویلئ شُو چه ستا په کومه لار خوښه وِي نو په هغې لار شه - دي درولکي غوښٔ او سخت سفر باندِ پوره پوه میاشت تیره شوي وَه او ډاکټر ورپسې ورسته وررروان شهٔ - له کابل نه په ۲۶ میلَ لا نهٔ وهٔ تلئ چه وارخطا واپس راغئ او دا خبر یُي راوړ چه په ټول ملک کښ یعني دَ کابل ښنه څلوېښت میلَ دننه په جار خلق یاغي شوي دَي - دوست محمد له بخارا نه راتښتیدلئ دَي په قندهار کښ ناست دَي او له ګیر چاپیر نه سرداران او رعیت ورسره جمع کیږي - دا خبر چه وګرزید نو عقلونه وتښتیدل او دَ مسټر مکناټن دَ زړهٔ مراد پوره شهٔ - هغهٔ سمدستي سرجان کین ته ولیکل چه نیم فوځ ولیږه او باقي دِ دغلته وي - څو ورځي پس ډاکټر لارډ ته دَ هغهٔ پښتني بدرګي تیر ورکړ - داسي چه په څه بل چل یُي له مخکښ تلو نه نهٔ شهٔ منعَ کولئ نو دَ خلقو دَ یاغي توب او دَ دوست محمد دَ فراري توب خبره یُي ګډه کړه او وهې ډاکټر پرِ اعتبار وکړ او خبر ورکولو نه واپس راغئ - لیکن دي خبري ورپسې ډیر تاثیر کړي وهٔ - او سفیر ډیر خان سَرجان کین ته پرښیئ وهٔ او سرجان کین او په خان ګورنر جنرل دَ فوځ په واپس کیدو تیار نهٔ وُو - له دي وجهي نه نیم فوځ دَ سرجان کین په ماتحتئ کښ هندوستان ته واپس راغئ - چه په لاره کښ یُي دَ قلات خان ته ډیر قلا باندِ دَ حملي کولو په بدله کښ ښه سزا ورکړه - لیکن دَ خان دا کار دَ ډیرې ایمانداریُ دَ وجهي

نه وه - او نیم فوج د سرجان ولولي کاټن په ماتحتۍ کښې هلته پاتي شه.

شجاع سفیر سره د خپل حال مضبوطولو مصلحت نه وه کړي - هغه د ګنړو ګنړو قامونو له سردارانو نه هر وخت ویریده - د هغو د طاقت او د بیرحمۍ او د ناروا کارونو ویره ورسره وه - د سنه ۱۸۱۲ء له تخت کوزیدل ورته یاد وو - هغه ځوانۍ ټولي نقشي ئې مغزو کښې کرزیدلي یواځې ده د هغو هیڅ نه شو کولی لیکن د برټش ګورنمنټ په مدد ئې هغوئي خاوري کولی شول - ځکه ئې مسټر میکناټن ته درخواست کړي وه - چه د څه مودي پورې دِ ټول فوج کابل کښې وي - لیکن د ده ځینېله دا حال وه چه ټول عمونو وهلی وه - خدای دِ داسي هیڅوک نه کړي - ځکه چه هغه د یو آزاد سړي آدم په شان ځري هم په خیال کښې نه شوي راوړي - هغه بس یو بي اختیار بادشاه وه چه په مدد کښې ئې د یو بل ملک فوج پروت وه - لیکن د سفیر حال هم د شجاع نه څه ښه نه وه د غیر ملک په افرئ کابل کښې د دویمې درجې حاکم وه چه هر سړي تر نه کرکه کوله - حاکم په خپل خیال ځان ته بیل خفه وه او رعیت ئې په دي ځره خفه وه چه د سفیر په مدد هغه بادشاه ته بیا بادشاهي ورکړې شوه چه په خفګان له تخت کوز کړي شوي وه - دي دباره فساد پیدا کیدل یقیني وو او څه وخت ئې مقرر نه وه - د سفیر خپل فوج په ښه ځای باندِ مقرر وه - انجینیر ورته مصلحت ورکړي وه چه د بالاحصار قلا دیره ښه ده او په کابل کښې یو مضبوط ځای دی - خو په دي شجاع شبه وکړه او د هغه شبه اول منکناټن قبوله کړه - لیکن چه انجینیر

سخت ضرورت ښکاره کړ نو دي معامله کښې بیا شجاع سره خبري وشوي او هغه په خوارو لږ عوندِ راضي شهٔ. لیکن برټش فوځ به کښې نوت او خپله کارروائي ئې مضبوطه کړه نو شجاع به داسي زور خپل اعتراضونه پیش کړل چه میکناټن خواه مخواه ومنل. نامردي ډیر ناکاره شَي دَي چه په چا کښې مړانه نهٔ وِي نو هغه په خپل طبیعت بانډِ غلبه کیدَي نهٔ شِي. لنډه دا چه دَ کابل مصیبت چه په ۱۸۴۱ء کښې راغلیَ وهٔ دَ هغي خاصه وجه دا وَه چه میکناټن دَ شجاع خبره منلي وَه. څو ورځو دپاره په بالاحصار کښې یو څو کمري دَ فوځ دپاره ورکړَي شوي وي مګر بیا دَ شجاع په وینا چه بادشاهي حرم دپاره دَ دي ضرورت دَي هغه هم خالي کړَي شوي.

ما ورښَي وېلي دِي چه شجاع انګریزِي افسران دَ پښتنو سردارانو دَ غوښېدو تادَولو دپاره پاتي کړِي وُو. کني هغهٔ دوئ خوشحالول نه او له بد قِسمتيُ نه میکناټن هم په دي چل کښې دَ هغهٔ په پره شوَي وهٔ. دهٔ اول انګریزِي افسران دَ شجاع په لاس کښې ورکړِي وُو چه دَ عزِونو خلقو ته ئې قواعد ونه ښوول. دا فوځونه په ظاهر دَ شجاع طرفدار معلومېدل. دوئ جُدا جُدا قلاګانو بانډِ قبضي کړِي وِي. مالیي به ئې راټولولي او اکثر دَ قومِي سردارانو حکمونه به ئې نهٔ منل. دا کار به هیڅ شان ښهٔ نهٔ وهٔ. په دي کښې یو لوي نقصان دا وهٔ چه سرداران ئې خفه کړل او عزِسه کوهستانیان ئې هم نیکخواه نهٔ کړل چه شجاع نهٔ ئې تنخواه اخسته. پښتانهٔ خلق دَ روپو په طمعَ هرڅه کوِي خو له تعلیم او زدکړي نه ئې ساه خېژِي. او بي له جنګِي ضرورت نه دَ بل مذهب دَ افسر

حکم منل ورته سخت وِي۔

دي پورتني انتظام نه به دا خبره معلومه شوي وِي چه دَ افسرانو او دَ فوځ په مينځ کښ داسي ګډون نهٔ وهٔ لکه چه دَ هندوستان دَ سپاهيانو او دَ افسرانو په مينځ کښ وِي او که څه تعلق يې وهٔ نو هغه هم دومره کمزورَي وهٔ چه که چرته به فوځ ته څه خبره دَ خپل مطلب دپاره فايده منده ښکاريده نو شليوان به يې تر کوَي شهٔ۔

دا صورت به يوه بله وجه هم ښهٔ نهٔ وهٔ۔ ما په پورتنيو شوِي باب کښ يو تدبير واضح ليکلَي دَي چه به هغي باندِ احمدشاه عمل کړي وهٔ۔ او دَ دهٔ ميراث خوَرو دغه تدبير دَ قومِي فوځ په بهرتي کولو او دَ هغهٔ دَ خرځ په زغملو کښ جارِي ساتلَي وهٔ۔ هغه يو قسم انتظام دَ جاګير بخښلو وهٔ۔ او هر چرِي چه به يو لوي حاکم ته څه ضرورت پيښ شهٔ نو سرداران به يې خبرول او دَ هغو نوځونه به دَ ستړکو رپ کښ يو ځاي راجمع کيدل۔ ليکن دَ يورپين افسرانو به ماتحتيُ کښ چه کوم انتظام شوَي وهٔ به هغي کښ دَ مياشتني تنخواهګانو ورکول ضرورِي وُو۔ او دي دپاره نوَي محصول زياتول پکار وُو۔ او په محصول زياتولو کښ زور ظلم خواه مخواه کيدهٔ۔ اګر که ميکناټن دَ شجاع دواره خبري دَ خپل طبيعت له کمزورتيا نه منلي وي خو بيا هم دَ حکومت په انتظام کښ هغهٔ له خپلي ملامتيا نه خلاصيدَي نهٔ شهٔ۔ دي سفير په حقيقت کښ دَ حکومت ټول اختيار په خپل لاس کښ اخستل غوښتل۔ او دَ شجاع نه يې يو دَ ختو بُت جوړ کړي وهٔ۔ او خپل دا مطلب يې به يو داسي

خاص حکمت حاصل کړي وَهٔ چه دیواني او نوجداري انتظام یُ
دَ شجاع په لاس کښې ورکړي وَهٔ او دَ حکومت بهر تعلقات یُ
خپل موټي کښې نیولي وُو. هغهٔ آزاد او سرکښه قامونو ته
لاس نهٔ شهٔ اچولیَ. که له چا نه به خوشحالیدهٔ نو انعام اکرام به
یُ ورکولي شهٔ او که چرته به یُ ېي له فوځ دَ چا په مال لاس بر
کیدهٔ نو اېله به یُ ېر نهٔ کوله. لیکن په خپل اختیار یُ یو نوَي
فوځ نهٔ شهٔ مقرر َولیَ. ځکه په دي صورت کښې دَ شجاع له لاسه
ډېر ناکاره کارونه کیدَي شول او ملامته دَ میکناټن په سر وَه.
چه په خپل خیال به یُ لامونه لیږل، دَ فوځ ټولي به یُ برابرول
کمانیر به یُ پوهوَهٔ او کوم مطلب چه به یُ کاوهٔ دَ هغهٔ چل به یُ
ورته ښیهٔ.

لنډه دا چه ما په کوتاه لفظونو کښې دَ فوځي او جنګي انتظام
ذکر وکړ چه دَ شاه شجاع په فکر جاري وَهٔ. دَ دي حکمت هغه
ملکي تدبیر سره څه تعلق نهٔ وَهٔ چه بیا ورستو مقرر شهٔ. چه "دَ
انګریزانو کارداران دِ دَ پښتنو په ټولو لویو ځایونو کښې مقرر کړي
شي. مګر دي کاردارانو ته دِ دا اختیار نهٔ وِي چه دَ حکومت په انتظام
کښې څه دخل ورکړي". دَ ۱۸۳۹ء سنه حکمت عملي یو داسي شَي وَهٔ چه
دَ هغي په وجه په هر چا او هر څیز کښې دخل ورکړي شهٔ. دَ دي
په وجه دَ هر قسم مقامي حکومت او مقامي دستور لري کړي شهٔ.
اوس زهٔ په څو الفاظو کښې دَ دي حکمتِ عملي نتیجي لیکم:-

ما په یو تیر شوي باب کښې دا بیان کړي دَي چه ورښي په

ټولو زمانو کښې د غزونو او د درو قامونو خپله خوداختيارۍ او آزادي قايمه ساتلې وه. اکبر بادشاه هم د دوی د تابع کولو دپاره ډیر عبث کوشش کړې وه مګر ورستو بادشاهانو د زړو په زور هغوی تابع کړل. سدوزي خاندان هم دغه دستور قايم کړې وه. چه د هغه شمير د کال د اتياو زرو روپو نه کم نه وه.

ليکن په سنه ۱۸۱۸ کښې چه محمودشاه وويستې شه نو د خيبريانو سره تعلقات بدل شول. د ډيرې مودې پورې افغانستان کښې څوک بادشاه نه وه او بيا چه دوست محمدخان امير شه نو هغه دا رقم دولس[۱۲] زر کړ اګرکه ورستو ی شلو[۲۰] زرو ته ورساوه خو بيا هم د قامونو له اميد نه ډير لږ وه. په دې موده کښې او د محمودشاه له ويستو نه ورښې د درو دا ټول قامونه د شجاع په ډډه وو. د ده دپاره هغو جنګونه کړي وو. دې ی ښه کړي وه. بيا ی روغ موټ ويستلې وه. پس چه شاه شجاع د انګريزانو په مدد په تخت کښيناست نو د ده هغه خدمتونه ياد وو او د خپل زوی تيمور په خوله ی سوال جواب ورنه وکړ چه د قامونو ټول پخواني حقونه به په ځاې کړې شي. او چه د ده زوی کابل ته په خير راورسيد نو ده دا لوظ په دې شرط پوره کاوه چه درې به د انګريزي فوځ د تلو راتلو دپاره آزادې وي. مګر شجاع دا لوظ بې د انګريزي سفير له مصلحت نه کړې وه. چه ميکناټن خبر شه نو هغه غوښتل چه دا معامله د خپلې حکمت عملې سره موافقه کړي. هغه د قامونو دپاره د دوست محمدخان د وظيفې نه څه زياته وظيفه مقرره کړه. ليکن شجاع

چه کوم لوظ کړي وُه دَ هغې نه ډيره کمه وَه - او دي وظيفې سره يُ
څه داسي شرطونه ولګول چه هغه دَ مغلو دَ بادشاهانو او دَ نادرشاه
او احمدشاه په خيال کښې هم چري نهٔ وُو راغلي - دَ هغو شرطونو
مطلب دا وهٔ چه له دي قامونو نه خپل ميراثي حکومتونه واخلي
نتيجه يُ دا وختَه چه قامونو له وظيفو اخستو نه انکار وکړ - او دَ
خپل حکومت دَ تللو په وجه يُ دَ څوانمردۍ وينه په جوش کښې
راغله - او دَ خپل زړهٔ دَ بخار دَ ويستو دپاره ورته سمدستي موقعه
هم لاس ته ورغله. سرجان کين خپل نيم فوځ سره خيبر ته واپس
راغلې وُه ليکن دَ تنګي نه روان شوَي لا نهٔ وُه چه خيبريان لـه
علي مسجد نه تاؤ شول - او اکرکه جرنيل په خپل حکمت سره ډير
دارُو سکه او راسن په قلا کښې ننيستي وُه ليکن خيبريانو دَ
بمبيانو پلټن او څلور پيخځهٔ سوه اوښان له هغه پارټيّ نه جُدا
کړل چه پيښور ته واپس تله. بيا هغو سره په څه حکمت څه
چل ول وشهٔ چه څه شَه نتيجه تر راوخيژي - دلته نوري تولي
خبري ليکل عبث دي - تش دومره وينا کافي دَه چه خيبريانو
دَ انګريزي حاکم له مال اسباب نه دَ هغه وظيفې اتيا زر روپۍ
پُوره کړي چه دَ شاه شجاع په لوظ دوۍ قبولي کړي وي - او په
اقرارنامه باندې له دستخط کيدو نه پس دوۍ خپل زور دَ غسي
وښيهٔ - چه دَ سرجان کين يو تولۍ يُ چه بيرته راتهٔ بي لوټلو
پري نه ښود - ميکناټن دَ خيبريانو په بغاوت ويريدلې وُه ليکن
دَ روغي دَ شرطونو په پُوره کيدو دَ دهٔ تسلي غونډې وشوَه - دا

وخت په رښتیا یا دَ دهٔ په ګمان ټول معاملات دَ دهٔ په قابو کښې وُو. یو ایجنټ ډاکټر پرسیوال لارډ بامیان ته رسیدلی وهٔ. هغهٔ دَ انګریزانو دَ رسوخ په قایمولو کښې لګیا وهٔ. او خپل درکونه ئې تر جیحون سینده پورې بلکه له هغې نه څه وړاندې رسولي وُو. بل ایجنټ کپتان ټاډ چه هرات ته لېږلی شوی وهٔ هغهٔ تش په هرات کښې خپل رسوخ پیدا کړی نهٔ وهٔ بلکه یو افسر کپتان ایبټ نوم ئې خیوا ته دَ دې دپاره لېږلی وهٔ چه دَ خیوا خان هغه خلق له قیده پرېږدي چه دَ هغو توتیې په مینځ ایشیا کښې دَ میکناټن دپاره دَ اوتږیدو سبب وي. او هغه قیدیان روسیان وُو.

ډاکټر پرسیوال چه دَ انګریزي فوځ په زور دَ قطب غاړې دَ هندوکش دَ سردارانو په معاملو کښې لاس واچاوهٔ نو له هغې نه دَ بد امنۍ ویره دَ جیحون له سینده نه سهیل ته په ټوله علاقه کښې پیدا شوه. او تر بخارا پورې ورسیده. په دې وخت کښې درې قیدیان دَ بخارا دَ امیر نه وتښتیدل چه دَ هغهٔ شک او ویره ئې نوره هم ډېره زیاته کړه. دا درې کسَ دوست محمد خان او دَ هغهٔ دوهٔ زامن افضل خان او اکبر خان وُو. په هرات کښې هم دَ ټاډ صاحب په اوسیدو باندې هم دَ ویرې ګنګوسه ولګیده. دې کښې شک نشته چه ټاډ یو بهادر او تکړه سپاهي وهٔ او هر چا ته ئې خپلې ذمه وارۍ په غاړه کړې وې. دَ هغهٔ دَ زړهٔ په لوي والي او صفائي کښې څه شک نهٔ وهٔ او دا هم یوه صحیح خبره ده چه جیمس ایبټ یو ښهٔ او بې غرضه سړی وهٔ. رښتیا دا دي چه ټاډ دَ هرات په خلقو ډېرې روپۍ لګولي وې او هغوی ئې له

لوړي او قحط نه ﭺ کړي وُو او دَ بد نام کامران تخت ئي سلامت ساتلئ وُه.لیکن هغهٔ ته دَ دي په بدله کښ چه څه انعام ورکړي شهٔ هغه دا وُه چه دَ ایران په ځاي دَ انګریزانو ته ویره پیدا شوه.

په سنه ۱۸۳۹ کښ چه شجاع دَ پیرنګیانو په برکت بیا بادشاه شهٔ نو کامران ورته ولیکل چه زهٔ له بدي ورځي دَ انګریزانو سفیر سره ګذران کوم.په حقیقت کښ څما ټول امیدونه تا سره غوټه دِي.

دَ جیمس ایبټ "مشن" (جرګه) چه له نیک نیتیٔ نه منظوره شوي وَه.دَ دي خبري قابله دَه چه په غور ورته وکتيَ شِي.ما دَ هغه کار اصلیت ورښيي ظاهر کړي دَي چه کوم هغهٔ ته حواله شوَي وَهٔ.دا یو داسي کار وُهٔ چه دَ یو بي صبرَ ارتاوک او هردم خیال سړي له لاس نهٔ شهٔ پوره کیدَي.لیکن هغهٔ سره دَ ډیرو تکلیفونو سَر ته ورساوهٔ.او له هغهٔ نه پس کپتان شکسپیر هم دَ هغهٔ په قدم قدم کیښود.دا مرادمندِي له اول نه تر آخره دَ منلو دَه چه پیرنګیانو په خپل وَچ زور بانډِ یو داسي بادشاه دَ رعیت په څټ کښینولئ وُه چه له هغهٔ نه هغو ډیره کرکه کوله.مونږ دَ هغه جرګي په اصلي کارونو بانډِ یو پُوره بیان لیکلئ دَي.چه په هغي بانډِ میکناټن ډیر غاوره وُهٔ خو دَ هغي دَ کمزورِي مونږ نه خبر نهٔ وُهٔ.

بیا هغه په ډیري خوشحالئ او یقین سره دَ زړِي تیرَولو دپاره شجاع سره جلال آباد ته راغئ او دلته ئي دَ خپل غلط خیال نور هم مثالونه ښکاره کړل چه دَ دهٔ کارونو سره ئي څه تعلق نهٔ وُهٔ بلکه دَ افغانستان دَ بادشاه کارونه وُو.

دَ خیبریانو سره دَ جګړي جوړولو نه دَ میکناټن دَ انتظام اندازه لګي
دَ انګریزي فوځ په مدد دهٔ دا نیت کړي وهٔ چه دَ توري په زور حکومت
وکړي او ټول رعیت په زور تابع کړي - موږ ه ورښې لیدلي دي چه دَ
دهٔ دَ کارونو نتیجه خیبریانو سره څنګه ناکاره ووَته - او دغسي به مخلښ
ګورُو چه دَ دهٔ دَ نالایقو تدبیرونو نتیجي به په نورو موقعو کښ هم
ډیري ضرري خیژي - دَ پیرنګیانو فوځ چه افغانستان ته ننوتی وهٔ نو
دَ هغي قوت او دبدبي او دَ غزني ناڅاپه فتح کیدو به ټول ملک کښ یو
زوَر کله کړي وهٔ - دوست محمد خان او دَ هغهٔ زامن ورښې تښتیدلي
دُو - دَ کومو سردارانو خود اختیاري چه لا پاتي وَه هغوئ طاعت منلو ته
تیارُوُو - یو دَ کوټز سردار مخالف وهٔ - میکناټن چه دَ خپل حکمت په
قاعده باندِ څان محکم کړ نو دَ کوټز سردار ته ئې له کدئې دَ کوزدلو
نیت وکړ او دَ هغهٔ په ځاي ئې غوښتل چه یو بل سړي کښېنوي - یو
انګریزي فوځ ئې دَ هغهٔ دَ برباداولو دپاره ولیږهٔ - لیکن وطني سرداران دَ
خپل پلار نیکهٔ دَ کدئې نه په کوزیدو باندِ ډیر سخت په غصه کیږي
هم غسي دَ کوټز سردار ته غصه راغله - او هغهٔ پیرنګیان په ورستو
ډِیکه کړل - او دَ خپل دښمن ئې ډیره ښه مقابله وکړه - دَ باجوړ سردار
هم دَ هغهٔ په قدم قدم کیښو - او دَ هغهٔ په مقابله کښ دَ حمله کونکو نه
له بدي ورځي یوه توبه هم پاتي شوَه - مګر یواځي دا مصیبتونه نهٔ دُو
چه راپیښ شول - غلزي هغه قوم وهٔ چه پخوا زمانه کښ ئې ډیر بادشاهان
له خپلو سرو نه جوړ کړي وُو او نن پرون دَ هغو حال بالکل دَ خیبریانو
په شان وهٔ - او دَ دوئې په خود اختیارئ باندِ غیرت ورغلي وهٔ دَ لاري

په محصول او لوټ بانډ یې کنډاره کوله - د داسې خلقو دپاره سرټوب په حقیقت کښې مرګ وي او بیا داسې سرټوب چه د بدرګو لاریې د هغو له شوکو نه پاکوله - هغوی خیال وکړ چه د بل ملک بې دینان چه څومره دپاره یې څه انتظام نهٔ دي کړي څومره نه دا سرټوب غوارې چه لاري مهٔ شوکوي - ځکه هغو په خپل قانون عمل راواخست - او د دي بیدینانو بدرګو او کاروانو سره یې د جنګ نیت وکړ - د دوي دا خشکي دومره زیاته شوه چه کرنل ناټ یو فوځ د ایندرسن په کمان کښې د هغو سزا دپاره ورولیږهٔ - ایندرسن غلزیانو ته شکست ځو ورکړ ولې دا ورته معلومه شوه چه کوم تمام سره څلویښت زر جنګیان وې هغو سره یو بل حکمت پکار دي - دا حکمت د مال طمع وه چه میکناټن ومنله - او د هغو د کال وظیفه یې دیرش زر روپۍ مقرره کړه -

په بلوچستان کښې د انګریزي افسرانو یوه لویه غلطي چه ګناه ورته ولې شي دا شوې وه چه د قلات اصیل او نیکخویه خان باندې یې حمله کړې وه او مړ کړې یې وهٔ - او د هغهٔ زوي یې له میراث نه محروم کړي وهٔ - په دې وجه د فساد خیالات په بلوچستان کښې پیدا او د دې نتیجه د پیرنګیانو په باب کښې ډیره ناکاره وخته - پیرنګیانو د خپلې ګناه سزا دا بیاموندهٔ چه څه انتظام دوي کړي وهٔ هغه ټول تار په تار شهٔ - او د مړ سردار زوي یې هم خواه نخواه په ځاي کړ - دې نه علاوه د انګریزي ایجنټ د قتل او د فوځونو د شکست او د ډاک د بندیدو خبرې هم لا واوریدې - او دغه سې خوشو بلوچیانو د خپل زړهٔ بخار وویست او چه له قندهار نه ورپسې فوځ ولیږلې شهٔ نو

اِیله په خوارو قلار شول -

اوس موږ دَ ډاکټر لارډ بیان بیا شروع کوُو - دَ سنه ۱۸۴۲ءُ دَ سپرلي نه ورښې دي اثر په ملک کښ دخل راخستې وه - په دي وجه له هزاره او نورو قامونو دَ لاسَ چه دَ لوي لر په قطب کښ اوسیږي پیرنګیانو ته لوي تکلیف ورسید - دَ کوهستانیانو دَ راضي کولو ټول چلونه هم عبث شول او دَ ډاکټر لارډ تکیه سوا دَ فوځ نه په بل هیڅ پاتي نهٔ شوه - که بل سړي وې نو دَ دي خلقو دَ طبیعت موافق به ئې په احتیاط سره ګذران کړي وهٔ - لیکن دَ ډاکټر لارډ دَ مخکښې تلو شوق وهٔ - چه دَ هغهٔ نتیجه دا شوه چه کومي ضلعي دَ دهٔ په حکومت کښ وې په هغو کښ دَ انګریزانو فاید و ته ډیر نقصان ورسید - هغه وخت چه دوست محمد خان او دَ هغهٔ دوارهٔ زامن بخارا ته تښتیدلي وُو نو دَ هغهٔ دریم زوي جبار خان دَ امیر تېر کلوم ته بوتلې وهٔ - دَ دي ځاي سردار دَ جبار خان دَ بدرګي میلمستیا کړي وَه دَ سفیر په حکم ډاکټر لارډ جبار خان سره یو بېټ مصلحت شروع کړې وهٔ - مطلب ئې دا وهٔ چه دَي ځنیله سره دَ تېرَ دَ پیرنګیانو له برکت نه فایدهٔ واخلي او زر دَ خپل مطلب دَ پُوره کولو دپاره ئې دَي خبر کړې وهٔ چه کلوم نه دَ پیرنګیانو فوځ له بامیان نه په آسانه رسیدې ي شي - او دَ خپلي خبري رښتیا کولو دپاره ئې لرې غوندِ فوځ قطب ته دي ته ولیږهٔ چه دَ دي ضلعي سردار خبر شهٔ چه په کلوم باندِ حمله کیدونکي دَه نو هغهٔ دَ انګریزانو دَ کاردار دَ خوشحالولو دپاره هغهٔ سره دَ باجګاه دَ وړي قلا دَ ورکولو لوظ وکړ - دا قلا دَ وطني خلقو په نظر کښ

ډیرہ معتبرہ وَہ او له کمنډ نه هغه پلو ته یه یوه تنګه دَرہ کښې پرته وَہ. که څوک هوښیار سړي وَي نو یه دي معامله کښې به یُ ضرور دا فکر کړَي وهُ چه زهٔ دَ لږ غونډِ فوځ یوه برخه یه یوه وړہ غونډِ ټلۍ کښې له فوځ نه دومرہ لرې ولې بند کړم. ولې چه یه داسې موقعه کښې وطني سردار دَ خپلو کارونو نه نهٔ شهٔ جاروتيَ. لیکن ډاکټر لارډ دَ خپل اختیار سړي نهٔ وهٔ. هغهٔ کابل ته یه دې باب کښې ولیکل او له سفیر نه یُ منظوري وغوښتَه نو دَ ګورکهاوُ ښځهٔ کمپنۍ یُ باجګاہ ته ننیستې او دوه یُ یه شالکان کښې پریښوي. او یوه کمپنۍ او دري سوه پښتانهٔ یُ بامیان کښې کښینول.

دَ دي آزمیښت نتیجه دَ ډاکټر لارډ او دَ میکناټن دَ زړهٔ سره موافقه راوختله. جبارخان خپل تمام قبیله بامیان ته راوسته. او طاعت یُ ومانهٔ. لیکن دَ سرحدي څوکۍ یه قبضه کیدو باندِ دَ ګیر چاپیر هر یو اُزبک سردار دښمن شوَي وهٔ. یه خان دَ کلوم سردار چه تر اوسه یُ له دوست محمدخان نه نفرت کاوهٔ اوس یُ دَ هغهٔ دپارہ دَ جنګ آواز اوچت کړ. سمدستي دا صورت پیښ شهٔ چه یه جولائي ۱۸۴۰ء کښې دوست محمدخان او دَ هغهُ دوہ زامن دَ بخارا دَ بادشاه په اشارت چه له انګریزانو نه ویریدلي وهٔ راخلاص شول. هغوُي له هغه ځاي نه رلوتښتیدل او دَ ډیرو ګرادونو نه پس کلوم ته راورسیدل هلته هغو دَ پیرنګیانو برخلاف دَ ګرکي بازار ګرم ولید. یه ټول ملک کښې یو شور اوچت شوَي وهُ چه دا بیدینَ کاپران دَ دي ملک نه وبستل پکار دي. ازبک خلق دَ دهٔ دَ جنډي لاندِ جمع شول او یه یو

ځو هفتو کښې امیر دَ پنځو زرو جنګي ځوانانو سردار شهٔ.

زهٔ دلته څه لږ عونډِ دَ جنګ حال بیانوَم. په ۳۰ اګست باندِ دَ ګورکهاوُ په یوه وَړه عونډِ دسته چه دَ سارجنټ وِکلس په کمان کښې له شاڅکان نه بامجګاه ته تلَه. افضل خان حمله وکړه. ګورکهاوُ دَ یو لایق افسر په کمان کښې ښهٔ جنګ وکړ خو له تباهيُ په دي وجه بچ شول چه لفټننټ ستریټ دَ ګورکهاوُ دوه کمپنو سره دَ دوي مدد ته ورسیدل. دَ دي جنګ نتیجه پښتنو خپله فتحَ وګنړله او دَ امیر په سردارئ کښې په بامجګاه باندِ قبضي کولو ته په دَو راغلل. هغه کمزوري قلا جنګي حملي ته چرته ټینګیدَي شوه. دَ انګریزانو دَ فوځ ځوانان شاڅکان کښې ډیر قتل شول. مګر څه وخت چه دَ انګریزي فوځ ځوانانو چه شاڅکان ته روان وُو بي وفائي وکړه او دوست محمد خان ته داورسیدل نو دَ پیرنګیانو باقي فوځ بامیان ته واپس شهٔ.

په دي کښې چه سفیر دَ بخارا نه دَ امیر دَ تښتیدلو خبري واوریدي نو دَ بامیان دَ قلابند فوځ دَ مدد دپاره يُ دَ دلیسي فوځ یوه پلټن دَ کرنل ډینيَ په کمان کښې ولیږله. ډینيَ چه دَ شاڅکان دَ مصیبت خبر واوریدل نو دَ امیر مقابلي ته چه دَ فتح په خوشحالئ کښې بامیان ته راتهٔ زر مخکښې شهٔ. دَ دوارو فوځونو مقابله په ۱۸ ستمبر وشوه. ډینيَ سره دوه توپي وي چه دَ فتح دپاره بس وي. دَ توپو دَ ګن ارونو او دَ سپاهیانو دَ زورَور جنګ په سبب دَ غرونو پښتانهٔ عاجزَ شول. او وتښتیدل. امیر او دَ هغهٔ دوارو زامن يُ ځان سره بوتلل. او دَ خپل جنګ سامان نغاري او دارُو سکه او یوه توپه يُ میدان کښې پرېښوَه.

دوست محمدخان په کوهستان کښې دَ نورو تکلیفونو بیا کولو
دپاره وتښتېدو - لکه چه مخکښې به معلوم شي. مګر په دې حال کښې
دَ هندوکش قطب علاقه په دې سبب چپ وَه چه دَ هغو پـه
پښتنو خوانانو څه اعتبار نهٔ وهٔ.

دَ پښتنو خوانانو په بیوفائیې دَ میکناټن هوښیار بدل ضروري
وُو. دا ورښتیې موقعه وَه چه دهٔ ته دَ انګریزانو دَ دبدبې کمزورتیا
معلومه شوه. هندوستان سره دَ هغهٔ تعلق تش دَ غرونو دَ قامونو
دَ وفادارئې په سبب پاتې شوی وهٔ. دَ هندوستان او دَ افغانستان
دَ سرحدونو تر مینځ دَ سِکهانو یو جنګیالی قام موجود وه. اګر کـه دَ
رنجیت سنګه زبردست لاس تر مینځ وتی وهٔ خو دا قام دباوړي او حمله
کونکې ضرور وهٔ. میکناټن په ډېل خطرناک حال بانډې بوه شوی وهٔ خو
دَ خرابې اصلیت ته ئې فکر نهٔ وهٔ رسیدلی. دا وخت چه دَ کومې خبري
دباؤ هغهٔ په لارډ آکلینډ وغورزاوهٔ دَ هغې نه صاف معلومیږي چه دې
په ډېل حال بالکل نهٔ وهٔ بوه شوی. دَ دهٔ حکمت عملې دا وَه چه یو
لوی فوځ دِ دَ سِکهانو سره دَ جنګ کولو دپاره راولیږلی شي. که په دې
حکمت عملئې بانډې عمل شوی وَی نو هندوستان به بالکل دَ انګریزانو
له لاسَ وتی وهٔ.

ریښتیا خبره دا دَه چه دا وخت دَ میکناټن دَ سلامت پاتې کیدو څه
امید نهٔ وهٔ. یو طرف ته دوست محمدخان په غرونو کښې ناست وهٔ. او دَ
غرونو سردارانو دَ دهٔ میلمستیا په ډیره مینه سره کړې وَه او دَ ډېل مدد
یقین ئې ورته ورکړی وهٔ. دَ کابل له ښهر نه هم ورته دَ خوشحالئې او دَ

مېني کاغذونه رسېدلي وو - دا ټولې معاملې له سفیر او له شجاع نه پټې نه وې - بل طرف ته سکهانو هم پېرنګیانو ته کتې نه شول. هغوی چه د پېرنګیانو له کمزورتیا نه خبر شول نو د دوی برخلاف ئې هغه ټوله علاقه چه د کابل او د پېښور تر مېنځ ده اوچته کړه - دېاره د دې چه انګرېزان تر نه مدد وانه خستې شي.

اوس به مېکناټن ته ډېره ښه معلومه شوې وې چه په شجاع باندې د رعیت خوشحالېدل یو غلط خیال وه - د ده هغه وخت ښه یقین وشه چه بېوا د فوځ نه په بل څه ټینګېدل مشکل دي - ځکه ئې ډېنې له بامیان واپس راوغوښت. او د سیل په کمان کښې ئې یو فوځ د دوست محمد خان او د هغه د شریرو مددګارانو د سزا دپاره کوهستان ته ولېږه. دوست محمد خان جنرل سیل په یوه ښېه ګډ کړ - د اکتوبر په ټوله میاشت کښې هغه یو ځای بل ځای په تېښته ګرزېده - کله به د غوربند غرونو کښې کله به بخارا ته ووت. او کله به د کابل خواوشا ته راغې - آخر په ۲ د نومبر د انګرېزي فوځ سره په پروان دره کښې د ده مقابله وشوه - سیل د هغه د نیوو ښه علاج وکړ او د تېښتې و ټول ړوونه ئې ورته بند کړل. چه جنګ شه نو د بنګال دویمي رسالې په داسې نازک وخت کښې د خپلو افسرانو صلاح و نه منله او امیر ته ئې یوه داسې فتح په لاس ورکړه چه سر الیګزنډر برنز چه هغه وخت په جنګ کښې موجود وه مېکناټن ته یوه چیټئ په دې مضمون ورولېږله چه د انګرېزي فوځ د بچ کېدو دپاره بېوا د کابل د تلو بل هېڅ صورت پاتې شوی نه دی - او دغلته د ټولو فوځونو جمع کېدل ضروري دي -

دا خبره چه که دوست محمد خان له خپلې فتح نه پوره کار اخستی وې نو میکناټن به څه کړي وو له هغه نازک وخت نه معلومېږي چه یو څو ورځې پس اکبر خان یو لوی لښکر ځان سره واخست او په کابل ئې حمله وکړه. هغه وخت میکناټن څه کړي وو؟ وبه ګورئ. دوست محمد خان چه له خپلې فتح نه یوه ورځ پس طاعت منلو ته تیار شۀ د هغې وجه هم په ښۀ شان معلومه نۀ ده. هر چا خپل خپل ګمان زغلاوۀ. د سر جان کېی خو دا ګمان دی چه هغۀ د خپل آخرې شکست په خیال د یو فاتح په حیثیت سلامي کېدل زیات مناسب وګڼل. دی د پښتنو په خوئ بوئ پوهېدۀ چه اګر که ملک کښې جوش ډېر دی خو لا بغاوت ته تیار نۀ دی. ځکه دۀ ته دا مناسب ښکاره شوه چه په بند کښې د هغې موقعې انتظار وکړي چه په ټول ملک کښې بغاوت وي او د دۀ د راخلاصېدو دپاره خلق زور لګوي. خیر وجه هر څه چه وي هغه به وي لیکن واقعات دا دي چه له جنګ نه یوه ورځ پس په وخت د ماښام چه مستر میکناټن له هوا خورئ نه واپس راتۀ نو یو پښتون ورته ناڅاپه دا خبر راوړ چه امیر بالکل کابل ته نزدې دی. میکناټن تر نه تپوس وکړ چه کوم امیر؟ هغه ووې چه دوست محمد خان. او یو لږ ساعت پس دوست محمد خان چه د جنګ له میدان نه راوتی وۀ سره د یو خاص ملګري د هغۀ په مخکښې ودرېد دا اطاعت کامل وۀ. دوست محمد خان سره ډېر دارمدار وشۀ. هغۀ خپلو زامنو ته ولیکل چه تاسو هم ځما په شان طاعت ومنئ او یوه هفته پس د یوې زورورې بدرګې سره هندوستان ته ډېر په عزت واستولی شۀ.

اوس د میکناټن امیدونه بیا آسمان ته ورسېدل. هغۀ ته بیا د

خپلې حکمت عملۍ دپاره میدان وزګار شهٔ - د سدّوزو شهزادهٔ ته بیا تخت پاتې شهٔ - او د بارکزو سردار له وطن ورک شهٔ. که چرې شجاع د خپل رعیت خوښ وې نو د انګریزې لوځ ته به په کابل کښې د پاتې کیدو هڅه ضرورت نهٔ وهٔ - د بدقسمتۍ نه د میکناټن انتظام ټول جاګیرداران او سرداران د شجاع د حکومت دښمنان کړې وُو - د دهٔ مدعا داوه چه د ملک ټول اختیارات څما په لاس کښې راشي - په ځان دُرانیان چه د شجاع خپلوان او د ټبرَ وُو په دې کارونو خفه وُو - د دې نه د هغو په اختیارونو او عزت کښې فرق راتهٔ او بیا په داسې حال کښې چه د هغو په برکت دا حکومت بې دینو کافرانو ته په لاس راغلې وهٔ - هم د دې خبرو دپاره څو دوې د احمد شاه په زمانه کښې د خپلې آزادۍ کوشش کړې وهٔ - هم د دې مطلب دپاره هغوې د زمان شاه سترګې ویستلې وې او محمود ئې له تخت کوز کړې وهٔ - او بیا د بې واکَ شجاع په زمانه کښې د بیدینو خلقو غلامان شول.

د دوست محمد خان طاعت منلو او له وطن نه په خارجولو باندې د اصلي خبرو پوره صفائې وُ نهٔ شوه - ځکه چه د دې پورتنو خبرو په وجه یو عام خفګان تر لرې لرې پورې خور شوې وهٔ - او د رعیت په زړونو کښې ئې ځاې نیولې وهٔ - میکناټن په دې موقعه بیا غلطي وکړه - دهٔ ته یکار وُو چه د دوست محمد خان سره له افغانستان نه راوایس شوې وې او په حیا عزت سره ئې دغه د راتلو وخت وهٔ.

د ملک په امن کښې د خرنج اچولو ورښتې خبره د دوست محمد خان خارجیدل وُو او هم له دې وجهې نه د اختر خان په مانجمتۍ کښې

زمینداور کښې شر پیدا شهٔ او شجاع هم د انګریزانو له تابعدارۍ نه د غازي غرولو دپاره رنګ بدل کړ - د زمینداور شر په هغه انګریزي فوځ دفع کړې شهٔ چه له قندهار نه ورسپي لیږلې شوي وهٔ -

د خداي کارونه وُو چه په قندهار کښې یو سړي وهٔ چه د هغهٔ لیاقت او لري نظر لګیدهٔ - هغهٔ د انګریزانو په موجوده حال باندې خبر کړي وهٔ - دا سړي کپتان رالنسن وهٔ - هغهٔ ته خپلو حواله شوو خدمتونو دا تسلي ورکړي وه چه د انګریزانو حال کمزوري دي - څکه چه یو معتبر شهادت د هغهٔ په لاس کښې دا راغلې وهٔ چه په دي شر فساد کښې د شجاع هم لسُون شته - هغهٔ خپل خیالات او دغه شهادت میکناټن ته راولیږهٔ - او میکناټن شجاع ته هغه وښودهٔ - شجاع ډیره یوزه وچونړله او میکناټن ته ئې ځان په غصه کړ او هغه ئې تیرویستهٔ - خو د ډیرو اَنو بانو او بجنونو نه پس دا فیصله وشوه چه یو څو سرکاري ملازمان دِ د ووېستي شي او شجاع دِ مني کښې بځنپله قندهار ته لاړ شي -

د ۱۸۴۱ سنه کال له اول نه د انګریزانو دپاره سیرهٔ وهٔ - خیبریان بڅوانې ګله مند وُو - غلزیانو هم د کافرو له حکومت نه د ویزاره کیدو نښې څرګندې کړي وې - کرنل شیلټن د خیبریانو دپاره یو لام تیار کړ - او میکناټن ټولو حالاتو ته په ربړو ربړو کتل خو د زړهٔ سترګې ئې ړندې وې او د سر په سترګو ئې د بڼیو مینځ کښې کتل - د دي ثبوت دا دي چه په فرورۍ ۱۸۴۱ سنه کښې هغهٔ دا عبارت لیکلې وهٔ "چه سړي ټولو خبرو ته فکر وکړي نو حاضر ساعت په ملک کښې داسي

امن امان دی چه سړي ورته حیرانیږي.“

اوس د دې حیران کونکي امن ثبوت دا وه چه شیلټن د تازیان کندي شر فساد دفع کړ لیکن د غلزو هله ګله نوره هم زیاته شوه- د یو انګریزي افسر په سیکاوي د قلات او غزنین نه دوه میله لري یوه وړه غونډۍ قلا واخستي شوه او چه د هغه ځاي یو سردار او ۱۵ نوکران قتل شول نو په دې غلزیانو اتفاق وکړ او بغاوت ته تیار شول او د کرنل واټیر په کمان کښې چه کوم فوځ لیږلې شوي وه په هغې بانډې ئې حمله وکړه او د سخت جنګ نه پس لس لچي د ښیي ئې ایله لار ورکړه او بیا هم دوي طاعت منلو ته تیار نه وو- ځکه چه اختر خان د زمین دوار ورښتي یاغي سردار د شیرو زرو سرو سره د غرشک خواوشا بیا بغاوت پورته کولو ته تیار وه- مګر د جنرل ناټ او د هغه د لفټنانو په لیاقت دواړه بغاوتونه دفع شول- او په ۲ ر اګست میکناټن په خوشحالۍ او ډیر په کلکه دا راي ولیکله چه ”د انګریزانو امید ونه ډیر د زړه خوږیدو دي او د جنګ کوم سامان چه موږ سره دي په هغې د ټول ملک انتظام ښه کیدي شي.“ په دې راي کښې د هغه یو څو ماتحتان هم شریک وو- لیکن هغه انګریزان ئې چه د ځا لري نظر لګیدو مخالف وو- راولنسن خو پر صفا شبه کړي وه- ناټ هم د دې کچه والي پیش کړي وه- تاهم ته چه معلومه شوه چه انګریزي دبدبي ته د ایران نه زیاته د هرات د حاکمانو ویره پیک شوي ده نو خپل سفارت ئې له هرات نه راواپس کړ- هغه ته هغه لوي رقم چه د داسي حرو دپاره غوښتي شي چه د ګورنمنټ له منشاء

نه مخالفي وې ورکول عبث بېکاره شول.

دَ میکناټن په خپلو ټولو امیدونو زړهٔ خوږېدهٔ خو بیا هم دومره پوهېدهٔ چه په افغانستان غوندې ملک کښې چه په کښې نیم وحشي پښتانهٔ اوسیږي یوه وړه غوندې خبره هم دَ بې تمیزۍ لوی طوفان پیدا کولی شي. کوم حالات چه په سنه ۱۸۳۹ سنه ۱۸۴۰ کښې دَ درو دَ قامونو وُو هغه ئې ټول هیر کړل او دَ سنه ۱۸۴۱ په منې کښې دَ انګلستان او دَ هندوستان دوارو حکومتونو په منشاء سره دهٔ دَ خپل خرڅ او دَ درو دَ خلقو دَ وظیفو کمولو نیت وکړ. دَ دې مدعا دپاره دهٔ دَ دې قامونو سرداران کابل ته راوغوښتل او ورته ئې صاف وُوې چه دَ بعضو ضرورتونو په سبب زهٔ له ناچارۍ نه ستاسو وظیفه کموم. سردارانو چه دا واورېدل نو مخامخ خو ئې څهٔ وُ نهٔ وېل مګر یوه شول چه مونږ سره کوم قسم قرآن شوې دې هغه دغسې ماتوې څکه هغوئې په خپلو علاقو کښې دنډوره وغږوله چه دَ هندوستان دَ تلو راتلو لارې ټولې بندې کړئ.

دَ داسې خرڅ کمولو نه څهٔ فایده چه آخر ته تر نقصان وخیژي دې، آر، کې ټاډ دَ پولټیکل له عهدې نه ووېستې شهٔ. څکه چه هغهٔ بدنام کامران ته هغه روپئې نهٔ ورکولې چه په هغو تش دَ پیرنګیانو دښمنانو ته مدد رسیدهٔ. خرڅ کمول بېکار وُو خو عقلمندي داوَه چه هغه روپئې چه به کال په کال دَ ملک خاوند ته ورکیدې شوې هغهَ بندې شوې وَې. نهٔ دا چه دَ ډاک تلهٔ راتلهٔ دِ په یوې داسې زمانه کښې بند شي چه په هغې کښې دَ پیرنګیانو دیډه به په افغانستان کښې

نش دَ نوري په زور پاتي شوي وَه.

څه وخت چه دَ دَرو قاموته خفه شوي وُو هم هغه وخت دَ افغانستان دَ قطب په حصه کښ يوه هله ګُله پيدا شوي وَه. په انګريزِي سرحد باندِ اکبرخان موجود وَه- دَ زورمت په کوهستان او په خان کابل کښ مخالف خيالونه پيدا کيدل- او په داسي حال کښ دَ کابل په سيند دَ غلزيو جمع کيدل دَ دَه دپاره يوه بله سخته کړوړه وَه- دَ يوي حديثي په نيريدو به سفير او دَ هغهٔ مددګارانو هغه بدع ورخ ضرور ليدلي وي کومه چه دوئ په خان ټچپله راوستني وَه او چه دا حديثه تر نه يوه مياشت وړنښيُ تيره شوي وَه. په ۳ اکتوبر سنه ۱۸۴۱ئ برنز ته دا معلومه شوَه چه دَ غزنو ټولي درَي بندي شوي دِي يو افسر کپتان ګرَي ته يُ چه يوي وړي غونډِ دستي سره هندوستان ته راتهٔ وليکل او صلاح يُ ورکړه چه يو سردار غلور سوَ سرو سره لغمان ته ځي هغهٔ سره دَ لاري ملګيرتيا وکړه- ګرَي سردار محمدعزين سره کوچ وکړ او دَ هغهٔ په بهادرَي او ملګيرتيا دَ دهٔ سفر په خير تر سرَ شهٔ- محمدعزين ګرَي او دَ هغهٔ دسته ضرور بچ کړه ليکن دَ صفا زړهٔ خاوند خپل انګريز دوست ته وُو چه ټول افغانستان دَ پيرنګيانو له تابعداريُ نه خ اړولو ته تيار دَي- او په ټول ملک کښ يو لوي شور پيدا شوَي دَي- ګرَي دا خبر برنز ته وليږهٔ او هغهٔ ته ورسيد- اوس هم معاملي په هغه شان کيدَي لکه چه پيرنګيان بالکل په حفاظت کښ وِي تر دي پوري چه دَ دي هلي ګُلي جوړيدو خبر هم ورنه راغيَ- دَ ۹

اکتوبر په شپه په پنځه دیرشمي دیسي پلټني باندِ چه دَ کرنل
مآنیټهه په کمان کښې وَه او بُټخاک کښې له کابل نه ۹, میلَ لري
پرته وَه یوه حمله وشوَه. دا حمله دفع کړي شوَه. سیل له کابل نه
ورغیَ او دَري يې صافي کړي. دا پلټن له کیمپ نه جُلا پرته وَه.
ځکه پرِ باندِ دوباره حمله وشوَه او په ۱۷, اکتوبر باندِ دښمن بیا په
ورستو کړي شهٔ. سیل هغه وخت په خپله غلطئ پوه شهٔ چه دا
پلټن جُلا ساتل بکار نهٔ وُو ځکه په ۲۰, تاریخ هغهٔ دا په خپل بزکیه
کښې شامله کړه او دَ تازین کندي پلَو ته يې کوچ کړ. په ۲۲, اکتوبر
دي کنده کښې دَ ننوتو په وخت غلزیانو سره لرِ غوندِ جنګ وشهٔ.
چه دَ هغهٔ انتظام انګریزي جرنیل په ښهٔ شان وُ نهٔ کړي شهٔ ځکه چه
دَ یو زخم په وجه معذورَ وهٔ. اوس پښتنو سردارانو ته دَ دښمن دَ
قوت حال معلوم شهٔ او په دي وجه يې دَ سخت جنګ خیال پرېښود
او هغه پولټیکل افسر ته يې په خپلي حکمت عملئ سره دهوکه ورکړه چه
دَ سیل فوځ سره وهٔ. ځکه کپتان میک ګرنګر جرنیل ولساوهٔ چه
هغه دَ دوئ طاعت په دي شرط ومنِي چه دَ دوئ قلا به دوئ ته
پرېښوَي شي. او هم په دا رنګي تجویز پولټیکل افسر دښمن ته دَ یو سخت
ضرر رسولو موقعه برباده کړه او چه دا موقعه بیا لاس ته راغله نو
بیا کمانیر خطا کړه.

سیل یو بهادر او ځوان مردَ سړي وهٔ لیکن نظر يې لريِ نهٔ
تګیدهٔ. له تازین نه تر کندمک پوري په کوچ کولو کښې هغهٔ نهٔ یره
داسي موقعه په لاس ورغلي وه چه هغهٔ غلزیان داسي وهليَ شول

چه بيا به يې چري دَ سر اوچتولو خيال نهٔ وهٔ کړي. ليکن هغهٔ ټولي فايده منديي موقعي بربادي کړي. دَ دي وجه دَ هغهٔ سنتيا نهٔ وَه بلکه ناپوهي وَه. او په ۳۰ اکتوبر کندمک ته ورسيدن.

دَ نومبر په دويم تاريخ په ميکناټن او په ټولو پيرنګيانو دَ بي تميزۍ يو زورور طوفان راغئ. ليکن زهٔ دَ دي ټول حال نهٔ شم ليکلئ. ټول مړهٔ شوي سري دي خبري ته تيار نهٔ وُو. دَ دي وجه داوَه چه سفير له کابل نه ځيل بهادر فوځ وبيستلئ وهٔ.

دَ باقي فوځونو کمان دَ يو کمزوري او بي زړهٔ افسر په لاس کښ وهٔ مونږ ورښي ويلي دِي چه څومرهِ دا سفير لايق وهٔ هغه همرهِ دَ دهٔ دا کمان وهٔ چه کومي خبري ته زهٔ صحيح وايم هغه دِ صحيح وِي. دَ پښتنو دَ بيوفايئ يو معتبر شهادت ورته په لاس ورغلئ وهٔ مګر بيا هم هغهٔ پښتانهٔ وفادار ګنړل. نو دَ دي قدرتي نتيجه دا ووته چه هر ځاي کښ بي اتفاقي وَه او دَ اتفاق چرته نوم نښانه نهٔ وَه. او هيچرته څه لوی کار کيدَي نهٔ شهٔ. په اصل کښ دَ فوځ څوک کمانير نهٔ وهٔ. کوم تجويز چه به يو ځل پاس کيدهٔ هغه به يوه ګينټه پس ردِي کيدهٔ. او چه به ځان دَ جرنيل په تنبو کښ بي اتفاقي وَه نو دَ هغي اثر به په افسرانو او سپاهيانو څنګه نهٔ کيدهٔ. دا ناپوهي تر آخرَ وختَ پوري وَه. دَ پښتنو دَ مخالفت زورَوري نښي هم انګريزانو په وفادارئ نيولي وي. او څه وخت چه په ښهر کښ دننه برنز قتل شهٔ يا دَ اکبرخان سرهِ دَ مصلحت په وخت کښ سفير ووژلئ شهٔ نو هم په دي يقين کښ څه فرق رانهٔ غئ. سرهِ دَ داسي زورَورو ثبوتونو او دَ جار دَ مخالفت دَ انګريزي فوځ

افسرانو دَ خپلو ځوانانو په بهادرۍ باندِ څه تکیه وُ نهٔ کړه او دهوکې ئې خوړلې- دَ پښتنو دروغو لوظونو باندِ ئې باور کاوهٔ- یو انګریزي ځلمي ډیر لیاقت ښکاره کړَي وهٔ چه دَ هغهٔ نه بیا ورستو ډیري فایده مني نتیجي وختي- سَر هنرِي هیولاک هم په هغه افسرانو کښ وهٔ چه دَ سَیل سره کندمک ته تلِي وُو- هغه وائِي چه ټولو پیرنګیانو دَ سردارانو لوظونه په رښتیا ګنړل او دَ اکبرخان په ژبه یا دَ هغهٔ په اشارت به تلل- کومي موقعي چه به هغهٔ ښوولي هغو ته به ئِ في‌الحال لاس اچاوهٔ- ځکه چه کوم پښتانهٔ ځوانان دَ دوئ دَ تباه کولو دپاره مقرر شوِي وُو په هغو باندِ ګذار کولو کښ هم ډیل وشهٔ- لنډه دا چه دَ سازش او دَ ټګۍ په فریب کښ راغلل- او چه له بخښئ، له لوړي او له ستومانتیا نه تنګ شول نو دَ یوي داسي بلا خولي ته ننوتل چه ورته دَ نورخانهٔ دَ غلزو عزونه ویلِیَ شي. دَ سنهٔ ۱۸۴۲ء په ورښئ میاشت کښ په ټول انګریزِي فوځ کښ تش قیدیان او یو څو انګریزان پاتي شوِي وُو چه هغوئ هم اکبرخان په بوته کښ سااتلِي وُو- له هغو نه علاوه یو انګریز ډاکټر براَئیډن نوم جلال‌آباد ته راتښتیدلِیَ وهٔ-

په دي شان دَ انګریزِي حکومت هغه ټول کوششونه عبث شول چه دَ یَو خوداختیارَ او آزادخیال رعیت په اوږو باندِ ئِ یو داسي بادشاه کښینوهٔ چه هغه ورښئ رد شوَي وهٔ او چه دَ هغهٔ دَ ززغوښد و دپاره انګریزِي کارداران مقرر شوِي وُو او دَ تخت دَ مضبوطیا دپارهِ ئِ انګریزِي فوځ لیږلِیَ شوَي وهٔ-

دا رښتیا دِي چه ټول ملک دَ پیرنګیانو له قبضي نه نهٔ وهٔ وتِیَ-

هغوی جلال آباد او کشمیر د پښتنو د ټولو فوځونو په مقابله کښې ټینګ کړي وه. یو څو میاشتي پس بیا په کابل قبضه وشوه. او د ناټ او د پالک فوځونو خپل ټول قیدیان او د یرغمال بندیان راخلاص کړل.
زه د جنګونو ټولي خبري بیکاره ګڼړم او پریږدم یې. په دوباره قبضه کښې فوځونو ته څه کړاو پیښ نه شه او څه وخت چه انګریزانو خپله ورښتۍ دبدبه بیا په ښه شان قایمه کړه او د هغو د طاقت نژهه په خلقو کښیناسته نو بیا زر له کابل نه ووتل.
بد نصیب شاه شجاع د خپلو دوستانو د تباه کیدو نه پس څه ډیره موده ژوندي پاتي نه شه. هم د دي شر فساد په ورځو کښې فرنیبیانو سردارانو په ۴ ر اپریل په ټکې له قلا نه باهر وویست چه لري یې بوت نو په کوئي یې وویشت.
تر ۱۵ ستمبر پوري یعني چه د پالک فوځونو په کابل قبضه وکړه هغلته یوه داسي بې انتظامي ښوره شوي وه چه د حکومت ښبي ښاني یې ورانې کړي وي.
د جنرل پالک فوځونو سره د شجاع دویم زوي فتح جنګ وه. دا غلې د خپل پلار په قتلیدو له کابل نه راتښتیدلې وه او د ستمبر په ورښي تاریخ انګریزي فوځ ته په ډیر بد حال رارسیدلې وه. دا بدنصیب شهزاده پیرنګیانو د کابل په تخت کښینوه. او ښه یې خبر کړ چه له پیرنګیانو نه د روپو او د فوځ او د وسلي څه طمع مه لره. دا ټولي خبري ده ومنلي د پلار په تخت کښیناست خو څه لږه موده پس دي هم ووژلې شه.
په دي کښې دوست محمدخان د دوه لکهو روپو آمدنې ورکړه ځان

ئې خلاص کړ. دهٔ دَ انګریزانو توپخانې، جهازونه، کارخانې، عدالتونه، او فوځونه په خپلو سترګو لیدلي وُو، په ټول هندوستان کښې ئې دَ رعیت خوشحالي، انتظام او دَ بادشاهۍ چل لیدلی وهٔ. اول دې په کلکته کښې ساتلې شوی وهٔ. هلته ناجوړه شهٔ نو بیا دَ مسوري غرهٔ ته راوستې شهٔ. په ۲۵ دَ اکتوبر لارډ النبرا په حکم واپس راوغوښت او ورته ئې وُو چه دَ پالک او دَ ناټ دَ فوځونو په ابآسینډ دَ راپورټو پوري تهٔ خپل وطن ته واپس شه. په واپسئ کښې دَ لاهور راجه شیرسنګه دَ هغهٔ ډیر دارمدار وکړ. چه کابل ته ورسید نو هلته غلي عوندِ په تخت کښیناست. دَ هغهٔ په غیر حاضرئ کښې هیچا دَ تخت کوشش نهٔ وهٔ کړې. تخت دَ هغهٔ دپاره خالي پروت وهٔ. او دَ رعیت په زړه کښې هم دغه خوښ کړې شوي بادشاه وهٔ. ټول دَ هغهٔ په طاعت بانډِ دَ زړهٔ له اخلاص ولاړ وُو.

په افغانستان بانډِ دَ پیرنګیانو ورښې کوشش دَ بې انتظامئ په وجه ټول عبث شهٔ. او دا نامرادي ضروري وه. څکه چه یو خو دوئ دَ پښتنو په خټ داسې بادشاه کښیناوهٔ چه له هغهٔ نه هغوئ ډیر خفه وُو. بل انګریزي کارداران چه دَ بادشاه سره وُو هغو دَ بادشاهۍ ټول اختیار په خپل موټئ کښې نیولی وهٔ. او دَ بادشاه نه ئې دَ خلقو په نظر کښې یو خوشې سړې جوړ کړې وهٔ. دریم دَ کوبې خطرې په وجه چه دا لام ترلې شوي وهٔ دَ هغې چرته پته هم نهٔ وه. اوس دَ هغه خطرناکې زمانې رنګ بدل شوي دې. دَ پیرنګیانو په کونسل کښې ډیر په احتیاط کار کیږي. کومه ویره چه پخوا

نهٔ معلومیدهٔ او ډیره لري ګنړلي شوه نن پرون دَ سړکو دَ ورانې
ښکاري او دَ دي په دفعَ کولو باندي ټول ممبران اتفاق کوي -

زهٔ رښتیا وایم چه ۱۸۴۲ سنه کښ پېښکیانو ته یوه داسي تجربه
حاصله شوه چه دَ هغي په سبب دوئ نن پښتانهٔ دَ خپلو دوستانو
دوستان او دَ خپلو دښمنانو دښمنان جوړولي شي -

# یولسم باب (۱۱)

## تاریخ

## دَ ۱۸۴۲ سنه نه تر ۱۸۶۹ سنه پوري

دَ افغانستان په تاریخ کښ دَ ۱۸۴۲ سنه نه دَ ۱۸۴۹ سنه پوري
دَ امیر دَ واپس کیدو نه پس اوهٔ کالَ څه غټه واقعه پیښه نهٔ
شوه - ورونړه ئي په قندهار کښ حاکمان وُو - دَ هغهٔ دَ پلار
موذي قاتل کامران چه دَ هرات حاکم وهٔ دَ خپل موذي وزیر
یارمحمد دَ لاسَ قتل شوي وهٔ - کومو علاقو ته چه اوس افغاني
ترکستان او بدخشان وائي هغه په رښتیا خودمختاري وي - امیر
په کوم حال کښ چه بادشاهي پرېښي وه هم هغه سي پاتي وه -
یعني کابل تر هندوکش غرهٔ پوري او غزنین دَ هغهٔ په بادشاهيُ کښ
شامل وُو - دَ قندهار او دَ هرات دَ حاکمانو زړهٔ هم هغسي لا دَ
ایران دَ بادشاه سره ګډ یدهٔ -

چه پیرنګیانو په سنه ۱۸۴۳ کښې سنده واخست او خپل سرحد ئې د بارکزو کوهندل خان ته د قندهار تر سرحده ورساوه نو د هغه سازشونه بالکل ختم شول او چه په سنه ۱۸۴۹ کښې پنجاب هم د انګریزانو قبضه کښې راغئ نو د هغه خیالات بالکل مړه شول.

لیکن دوست محمد خان تر خپله وسه پنجاب د انګریزانو قبضې ته نه پرېښود. چه د پیرنګیانو او سِکهانو په سنه ۱۸۴۹ کښې د کتهي او د بایلات جنګ وه نو دې پخپله د یو فوځ سره د خیبر په دره کښې راغئ ودرېد او د پېښور په علاقه ئې قبضه وکړه. دوه زره سواره ئې د خپل زوي د کمان د لاندې د سِکه سردارانو د مدد د پاره ولیږل. د چلیانوالي په سخت جنګ کښې چه د کتهي بایلات څه فیصله شوي نه وه څکه د سِکهانو د بري طمع لا قطع شوي نه وه دا سواره په ګجرات کښې وجنګېدل. دوئ په انګریزي طریقه باندې جنګ کاوه خو د پیرنګیانو د رسالې په مخکښې د دوئ هیڅ وس نه چلېده. په دې کار کښې پیرنګیان د هغو استاذان وو. د سنده رسالې دوئ له میدان نه وویستل. سر والټر ګلبرټ ورپسې بېړې پورته کړې او داسې ئې وزغلول چه په جمرود کښې ئې هم سپه و نه نیوه او په ډېرې وارخطائئ او بدحالئ سره خیبر ته ورسېدل هلته امیر ورته تیار ناست وه مګر په دوئ کښې څه ساه پاتې شوې نه وه. امیر خو وس ښه وکړ خو پنجاب په انګریزي علاقه کښې شامل شه. امیر ولیدل چه پیرنګیانو سکهان تباه کړل مګر بیا هم د هغه خیرې و نه وت. سکهانو امیر سره څه پټ پاللې وه څکه

دَ دهٔ زړهٔ ورته صفا وهٔ -او دَ هغوئ په مدد ئې خپل ټول
کوهستاني قامُونه دَ پیرنګیانو دَ نقصان دپاره پارولي وُو.
امیر دَ پنجاب له معاملي نه مخي کال کښي په هغه صوبه کښي
دَ پښتنو دَ حکومت قایمولو دپاره په هندوکش ورتیر شهٔ کومي چه
دَ جیحون سیند په سهیل کښي وي. په دي جنګ کښي هغهٔ ښه
کټه وکړه او له دي وخت نه ئې افغاني ترکستان او بدخشان دَ
خپلي بادشاهئ یوه حصه وګڼله. مګر هرات او قندهار ورته تر اوسه
آزار رسولهٔ. ایران همیشه کوشش کاوهٔ چه په څه چل هرات ستر
لاس کړي. دا ټول چلونه دَ هغه ایرانو په وسیله کیدل چه دَ دي
مطلب دپاره هلته پراته وُو. یار محمد دَ کامران قاتل ووژلي شهٔ او دَ
دهٔ زوي سید محمد دَ دهٔ په ځاي کښیناست خو دي لیوني شهٔ او
دَ دهٔ په ځاي محمد یوسف کښیناست خو هغه دَ خپل وزیر عیسي خان
په چالاکئ له تخت کوز کړي شهٔ او دَ تخت خاوند عیسي خان شهٔ.
دَ دي سرِي په زمانه کښي به دَ ایران حکم منلي شوي وهٔ خو دَ پیرنګیانو
په بار بار هوښیارولو سره دا کار وُنه شهٔ. بیا هم په هرات او په
قندهار کښي دَ ایران سازشونه هغسي جاري وُو. دَ دي کارونو
اثر په دوست محمد خان دومره وشهٔ چه دَ پیرنګیانو هغه ټوله دښمني
ئې هیره کړه او په ۱۸۵۴ء کښي ئې روغې ته غاړه کیښوه او دَ دي
مطلب دپاره ئې خپل زوي غلام حیدر خان پېښور ته راولیږهٔ. په
پېښور کښي دَ دي روغې دپاره دَ انګریزانو دَ طرف نه دَ پنجاب ورنټي
چیف کمشنر لارډ لارنس مقرر شهٔ. دَ دي روغې تش دري شرطه وُو.

۱ٔ دا چه دَ کابل دَ امیر او دَ هغهٔ دَ وارثانو او دَ ایسټ انډیا کمپني به همیشه په خپلو کښ دوستي وي۔

۲ٔ دا چه کمپني به همیشه دَ افغانستان لحاظ کوي او په هغهٔ کښ به هیڅ دخل نهٔ کوي۔

۳ٔ دَ کمپنۍ دَ علاقي په باب کښ دَ امیر نه هم دغسي اقرار واخستې شهٔ۔ او دا شرط دَ امیر په اقرارنامه کښ زیاتي وهٔ چه "دَي به دَ کمپنۍ دَ دوستانو دوست او دَ دښمنانو دښمن وي"۔

په دي اقرارنامه دَ امیر دَ زړهٔ نه ټخواني خبري ووت۔ معلومیږي چه هغهٔ ته اوس دَ کابل دَ نورو بادشاهانو په شان دا پته ښه ولګیده چه دَ افغانستان او دَ هندوستان یو بل ته ډیر حاجت دَي۔

لږ څو ورځي پس افغانستان ته مدد پکار شهٔ ځکه چه یو کاونډي تر نه غلي غوندِ دَ کوهستان یوه ښه علاقه لاندِ کړه۔ په اول کښ دَ امیر دا امید وهٔ چه دَ انګریزانو په دوستۍ به دَ ایران دَ دښمنۍ نه خلاص شي لیکن داسي وُ نهٔ شوه۔ دَ ایران سازشونه برابر جاري وُو۔ چه ایراني فوځ په هرات حمله وکړه نو دا سازشونه نور هم زیات شول۔ لنډه دا چه دا ښهر په ۱۸۵۲ء کښ ایران ته حواله شهٔ۔

لیکن دَ انګریزانو دوستي عبث لا نهٔ رَه او دَ نومبر په ورنبني تاریخ پیرنګیانو ایران ته دَ جنګ خبر ورکړ او یو لوي فوځ ئې خلیج فارس ته ولیږهٔ۔ زهٔ دَ جنګ قصي پریږدم تش دومره وایم چه پیرنګیانو کټه وکړه۔ او ایرانیانو چه په خپله علاقه کښ شکست وخوړ نو سر ئې ټیټ کړ او په ۴م مارچ ۱۸۵۷ء کښ یوه اقرارنامه وشوه

چه دَ هغې په موجب دَ ایران بادشاه له هرات او افغانستان نه خپله دعوې اوچته کړه۔

لا اقرارنامه کامله شوې نهٔ وه تش دَ جنګ نتیجه معلومه شوې وه چه هغه وخت سرجان لارنس او کرنل هربرټ ایډورډس ۰ امیر دوست محمد خان سره په پېښور کښې ملاقات وکړ او دَ دوستئ دَ مضبوطیا دپاره ئې ورسره خبرې وکړې۔ په اول کښې خو امیر په دې خبره ډیر اعتراض وکړ چه یو انګریز افسر دِ کابل ته په سفارت راونهٔ لیږلَې شي۔ لیکن دَ اقرارنامې په ځلورم شرط امیر دا خبره ومنله چه انګریز افسر به سره دَ ډیرو هندوستاني نوکرانو کابل، قندهار یا بلخ ته یا چرته چه دَ پښتنو فوځ دَ ایرانیانو جنګ ته ځي هلته به لیږلَې شي دَ ځلورم شرط الفاظ دادي "دَ دې سفارت به دا کتل فرض وي چه کوم امداد امیر ته ورکیدَې شي هغه په فوځي خرڅونو کښې لګي چه دَ کومو دپاره هغه مقرر شوې دې او انګریزي حکومت به له ټولو معاملو نه خبردار ساتي۔ دَ انګریزانو به دَ فوځ دَ تنخواه یا دَ کابل حکومت ته دَ څه مصلحت ورکولو سره هیڅ تعلق نهٔ وي او نهٔ به دَ افغانستان په دننه انتظام کښې څه دخل ورکوي۔ تر کومه چه دا خلق دَ دهٔ په ملک کښې وي امیر به دَ دوئ دَ حفاظت او دَ ښهٔ روزګار ذمه وار وي او دَ جنګ په باب کښې به ئې دَ ټولو جنګي او پولټیکلي معاملو نه هم خبرَ وي"۔

بل په دې اقرارنامه کښې ۱۳ شرطونه وُو دَ ورپښي شرط مضمون دا وهٔ چه "دَ ایران بادشاه دَ انګریزانو دَ اقرارنامې نه برخلاف هرات اخستئ دَې

او دَ کابل دَ امیر نورو ملکونو ته هم لاس اچول غواړي - دَ دي وجهي نه دَ انګریزي حکومت دا اراده ده چه دَ ایران سره جنګ وکړي او دَ امیر دَ ملکونو په ساتنه کښي امیر له مدد ورکړي او دَ دي مطلب دپاره لس زر اشرفۍ دَ میاشتي هغه له وظیفه مقرره کړي"

په دویم او دریم شرط کښي څه داسي غټه خبره نه وه - دَ پنځم شرط مطلب دا وه چه "امیر دِ په پېښور کښي یو خپل وکیل مقرر کړي".

دَ شپږم او دَ اووم شرط مدعا دا وه چه "دغه وظیفه که چري دَ امیر سره جنګ شي یا چري دَ انګریزي ګورنمنټ خوښه وي نو موقوفیدَي شي - او څه وخت چه دا وظیفه بنده شي نو انګریزي افسر به له افغانستان نه واپس راوغوښتي شي. مګر یو دیسي وکیل به دَ انګریزي افسر په ځاي ضرور هلته وي"

دَ اقرارنامي دَ څلورم شرط په موجب یو سفارت چه په هغي کښي دري افسران وُو دَ ۱۸۵۷ء په اول اول کښي قندهار ته ولیږلي شُه - قندهار ته دَ هندوستان دَ غدر خبر رسیدلي وُه - هغه وخت غلام حیدرخان دَ ښهر حاکم وُه - هغهٔ امیر ته خبر ولیږهٔ چه سپه هندوستان کښي دَ ټولو پیرنګیانو دَ مرګ خبر راغلي دَي مناسب دِي چه دَ دي دري وارو فیرنګیانو هم فیصله وشي - امیر ورته جواب ورکړ چه هندوستان ته دَ خارجیدو ما ته ډیره فایده رسیدلي ده ستا خیال بالکل عبث دَي - زهٔ پیرنګیان ډیر ښهٔ پیژنم - که دَ هندوستان ټول پیرنګیان مړهٔ شوي وِي نو دَ ولایت نه به نور په تکونو راشي او

هندوستان به بیا واخلي. دَ دي دري وارو ډیرنګیانو ډیر حفاظت یکاردَي پس له هغي هغو سره نیک سلوک وشهٔ.

دَ ایران له جنګ پس دَ هرات ښهر او ضلع دَ امیر وراره احمد خان ته ورکړي شوَه چه هسي په نوم خوداختیار وهٔ. لیکن ایران له ځپیرو خوړلو نه پس هم له چلي شیطانئ نه وانهٔ وړیي. احمد خان له امیر نه ځان رانغښتهٔ او دَ ایران دَ بادشاهي منلو ته يُ زړهٔ کیدهٔ. امیر بانڼ دا خبره ډیره بده ولګیده. ځچله يُ یو فوځ واخست او دَ هرات فیصلي ته لاړ په هغهٔ يُ قبضه وکړه. او دَ نوَر پرلواتهٔ او سهیل افغانستان يُ سره یوځاي کړل. دَ هرات دَ فتح کیدو په نهٔمه ورځ په ۹ جون سنه ۱۸۶۳ کښ امیر مړ شهٔ.

له دوست محمد خان نه پس دَ هغهٔ په پاتي شوَو زامنو کښ افضل خان او عظیم خان له یوي موره وُو. شیرعلي خان. شریف خان او امین خان له بلي موره وُو. غلام حیدر چه دَ امیر وارث منلَي شوَي وهٔ په سنه ۱۸۵۸ کښ مړ شوَي وهٔ او امیر هغه وخت دَ هندوستان حکومت ته اشتهار ورکړَي وهٔ چه ما شیرعلي خان دَ خپلي ګدَيُ دپاره نومړي دَي. دا خبره لارډ کیننګ ومنله.

دَ افضل او عظیم نه دَ شیرعلي دَ خوښیدو وجه ښرګنده وَه. دوست محمد خان دَ دهٔ لیاقت دَ غزني دَ فتح راسي ښهٔ معلوم کړي وهٔ عظیم خان دَ دهٔ په فکر کښ سم نهٔ وهٔ. دَ دهٔ بدخوئي په ټول افغانستان کښ مشهوره وَه. په دوارو کښ داسي لیاقت نهٔ وهٔ چه په پښتنو بانڼ يُ حکومت کړي وَي. شیرعلي اګرکه دَ اکبرخان یا غلام حیدر برابر نهٔ وهٔ

مګر بیا هم په نورو زامنو کښ له ټولو نه لایق وه - اګرکه بیرحم، ناشکر، او مطلبي وه مګر بیا هم یو دروند والی په کښ ضرور وه حشکه د دوست محمد په ګدي شیرعلي پکار وه -

شیرعلي د خپل تخت کښیناستو خبر پیرنګیانو ته ورکړ او ورته ئي ولیکل چه زه به هم د خپل پلار په قدم ځم - او کومه دوستي چه څمونږ انګریزانو سره ده هغه به نوره هم مضبوطوم - په هغه زمانه کښ لارډ ایلجن ګورنر جنرل وه - د دي خبر نه پس دا آوازه ګډه شوه چه مخالف ورونړه ئي د خپل حق دعوي ته تیار شوي دي - دا افواه اګرکه دروغ وه خو بیا هم ایلجن ته یو قسم فکر پیدا شه - ده د شیرعلي سره د مرستي کولو نه ورپښي د بل خبر تر راتلو پوري صبر وکړ -

چه دي ته وکتلی شي چه شیرعلي حقدار وارث وه او څه قسم فساد هم شوي نه وه - او که څه فساد شوي هم وي نو هغه به بغاوت وه او د شیرعلي سوال جواب هم د دوستي وه نو د هندوستان د حکومت چپ کیدل سراسر د افسوس خبره وه - د پیرنګیانو بدګماني دوست محمد خان رو رو لري کړي وه او دوارو حکومتونو کښ د اخلاص ملګیرتیا پیدا شوي وه لیکن د هغه وارث ته په ورپښي لاس ورکولو کښ سستي وشوه - د لارډ ایلجن په چپ والي باند شیرعلي دا خیال وکړ چه پیرنګیان جوړ ما سره هغه دوستي نه شړي چه د کومي لوظ ئي ځما پلار سره کړي وه -

په سنه ۱۸۶۳ع کښ لارډ ایلجن مړ شه او د هغه په ځاي یو څو ورځو دپاره سر ولیم ډینیس مقرر شه - په دي موده کښ افغانستان کښ

څه داسې فساد پیدا نه شه چه بغاوت ورته ویلې شي نو سر ولیم ډنیس د شیرعلي د خوږ او دوستانه خط ځواب شپږ میاشتې پس دا ورکړ. "د شیرعلي هغه خط د دوستۍ او د ملګیرتیا په الفاظو کښې نه وه لیکلې شوی بلکه له هغې نه بې پرواهي او ځان رانغښتل معلومیدل"

چه جواب ورورسید نو امیر بیا د دوستۍ خبره راواچوله. وایسرائ ته ئې له ډیرې مینې نه ولیکل چه ما ته شپږ زره توپکونه راکړئ ډیر ضرور م پکار دي. او بل ئې دا خبره هم غوښتې وه چه څما مشر زوی محمدعلي دې په سرکاري کاغذونو کښې ولیعهد ولیکلې شي او د کابل د دربار د معتمد د ورور د پاره ئې د معافۍ درخواست کړې وه چه د غلا د مال د اخستو په ګناه کښې د اوؤ میاشتو د پاره له وطن نه د خارجیدو حکم پرې شوی وه.

کومه زمانه کښې چه دا درخواستونه راغلل هغه وخت سر جان لارنس وایسرای وه. هغه د ګناهګار ورور معافي منظوره کړه. او محمدعلي ئې ولیعهد ومنه. لیکن د توپکونو ورکولو نه ئې انکار وکړ.

چه درې میاشتې پس په اپریل ۱۸۶۷ سنه کښې دواړه ورونړه افضل خان او عظیم خان یاغي شول نو د هندوستان ګورنمنټ دا فساد یوه کورنۍ جګړه وګڼله او دا ورته مناسب ښکاره شوه چه ورونړه دې په کورنۍ کښې مینځله فیصله وکړي. او دا ئې خیال وکړ چه کوم ورور په زور تخت واخلي هغه دې د افغانستان بادشاه ومنلې شي. د دې حکمت عملۍ نوم هغو "د سر نه غونډنه اړول" کیښود

په دي خبره دَ لارنس دَ وزیرانو هم دا صلاح وه. که دا معامله دَ افغانستان او دَ انګلستان دَ دوستۍ په نظر وکتي شي نو دَ انګریزانو دا لري نظر لګیدل څه دومره نامناسبه خبره نهٔ وه لیکن شیرعلي په دي بانډِ دَ انګریزانو دَ خود غرضۍ او دَ دوستۍ دَ ماتولو ګمان وکړ ځکه چه پیرنګیان دَ زورزور ملګري وُو او حق ناحق ته يې نهٔ کتل. اوس دا سوال پیدا کیږي چه انګریزانو ته څه کول پکار وُو دَ دي خبري څو هڅو بحث نهٔ دَي پکار چه انګریزانو له په کښي دَ فوځ دخل ورکول پکار وُو. ځکه چه دَ شیرعلي په بري دَ هغو یقین نهٔ وهٔ نو دَ هغهٔ مدد کول دَ نورو ورونړو دښمني اخستل وُو. مګر سوال دا دَي له چري دَ هغهٔ ورونړو کته کړي وَي نو بیا به څهٔ وُو؟ دَ دي خبرو خالي دا جواب کیدَي شهٔ چه شیرعلي له يې اخلاقي مدد ورکړي وَي. پیرنګیانو هغه بادشاه منلي وهٔ او دَ هغهٔ دعوهٔ بانډِ يې "هو" کړي وُو. او دَ هغهٔ تولي داسي خبري يې منلي وَي چه دوئ پرِ دَ چا په دښمنۍ اوریدَي نه. او نر هغي پوري يې دَ هغهٔ دَ حریفانو دَ دعوهٔ نه څ اړولَي وَي څو پوري چه شیرعلي دَ منځ بالکل وتلَي نهٔ وَي.

دَ انګریزانو حکمت عملي په لنډو الفاظو کښي دا وهٔ. دَ اپریل سنه ۱۸۶۷ دَ بغاوت نه پس تر ښځو کالو پوري چه په کښي جنګونه او فسادونه وُو شیرعلي دَ دوستۍ ډیر کوشش وکړ. مګر دَ هندوستان حکومت پرِ څه توجه وُنهٔ کړه. او دَ هغهٔ ورونړهٔ يې چه په کابل او کیر چاپیر علاقو بانډِ څو ورځو دپاره قابضان شوِي وُو پرله پسي دَ هغه علاقي

امیران تسلیم کړل.

د دي بغاوت ټول حال لنډ دا دي چه د امیر دوست محمد خان د مرګ په وخت افضل خان په بلخ کښي د افغاني ترکستان حاکم وه، د هغه ورور اعظم په کورمه کښي وه او د خوست او د کرمي د ضلعو حاکم وه چه د انګریزي سرحد سره ګډي وي. شریف خان د شیرعلي سکه ورور وه. هغه د فرا او د غرشک حاکم وه. په داسي حال کښي چه د شیرعلي ځورم سکه ورور د قندهار حاکم وه اول اول څو به دي ځورو ورونړو د پلار په وصیت چا شبه و نه کړه. لیکن د اګست سنه ۱۸۶۳ په آخر کښي امیر واوریدل چه د کورمي معاملي درستي نه دي نو ژر پخپله هلته ورسید. او اعظم خان ته ئي په زور د وفادارئ قسم ورکړ. بیا کال وسر په ټول ملک کښي څه فساد و نه شه. مګر مخي کال ته د اپریل په میاشت کښي افضل او اعظم دواړه یاغي شول. امیر په بهادرئ د هغو مقابله وکړه او د خپل جرنیل محمد رفیق په مدد ئي د اعظم بغاوت دفع کړ چه هغه له بدي ورځي د انګریزانو علاقي ته راوتښتید او بیا په هندوکش واوړید او په افضل ئي حمله وکړه. د امیر فوځ د افضل فوځ سره په باجګاه باندي مخامخ شه. دا ځاي په سنه ۱۸۴۷ کښي ډیر مشهور شوي وه. دوه ورځي پس د افضل جرنیل امیر سره سازش وکړ او افضل په ناچارئ روغي ته تیار شه. د امیر طبیعت ډیر زړه سواندي وه د افضل ګناه ئي وبخښله او په خپل حکومت ئي بیا په ځاي کړ. مګر کوم ورځو کښي چه امیر افغاني ترکستان

کښې د افضل سره په ځنډ خوشحالۍ وخت تیروه دا خبر ورته راورسید چه د افضل زوی عبدالرحمان چه تا دلبار ته راتللی وه په جیحون سیند پوریوت او بخارا ته وتښتید د هغه په تښتید و امیر بدګمان شه. افضل ئې ونیو او جیلخانې ته ئې ورساوه او د هغه په ځای ئې خپل ورارهٔ فتح محمد د جیحون د سهیل په ضلعو حاکم کړ.

دا وخت خو امیر په ظاهره ګټه وکړه لیکن عبدالرحمان د خپل پلار په نیوو ډیر خفه شه او د بخارا امیرئې د ځان په ډډه کړ. د ۱۸۶۴-۶۵ع سنه د واورو وېلې کېدو نه ورستې شیرعلي پوه شه چه دا سیرلې به په خیر نه تیریږي. اول سر کښې شریف خان قندهار کښې بغاوت وکړ او د کرمې قامونو ته هم په هغه وخت کښې اعظم خان لسون وکړ چه د سازش کونکو په مصلحت انګریزي سرحد باندې راپوریوتې وو. دا ځل هم امیر په بهادرئ مقابله وکړه. محمد رفیق کرمه صافه کړه او قندهار ته روان شه. باغیان خلق د شریف خان او امین خان په سردارئ کښې کجباز باندې د قلات غزنین سره نزدې امیر سره مخامخ شول. دا جنګ په ډیر زور او جوش سره وشه. په تود جنګ کښې د امیر مشر زوی محمدعلي د خپل تره امین الله خان له لاس مړ شه او یو لږ ساعت پس د هغه تره هم د هغه په بدل کښې ووژلی شه. بیا باغیان تار په تار شول او وتښتیدل.

دا ګټه اګرکه د فیصلې وه او لویه وه بیا هم امیر د خپل زوی په قتل دومره خفه شه چه ټولې خوشحالۍ ئې هیرې شوې او

ليوني غوندِ شهٔ. ډيري مياشتي ئي دَ بادشاهۍ په کار زړهٔ نهٔ لګيدهٔ. په هغه زمانه کښ دَي په قندهار کښ وهٔ ليکن دَ دنيا له حالَ هيڅ خبر نهٔ وهٔ. تر دي پوري چه دا خبر ورته راورسيد چه ياغيان خلق دَ ترکستان او دَ بخارا په تازه کومک تکړه شوي دَي او کابل باندِ حمله کوِي. بيا هم بادشاه څه پرواه وُ نهٔ کړه سره دَ دي چه دَ ملکرو دَ جُدا کيدو خبر هم پرِ وشهٔ. آخر دا بي پرواهي يو داسي ليونتوب ته ورسيده چه کابل هم ترِ لاړِ نو هاله ويښ شهٔ او مقابلي ته تيار شهٔ.

اوس دا واورئي چه دا ياغيان څوک وُو. دَ کج باز فتحَ دَ شر دفعَ کولو دپاره ډيره وَه. بله ورځ شريف خان معافي وغوښته او اعظم خان دَ انګريزانو علاقي ته بيا راوتښتيد. دَ يو نوي بغاوت په فکر کښ شهٔ.

دَ امير طبيعت دَ خپل زوي په غم کښ نور هم نرم شوي وهٔ څکه ئي دَ ياغيانو ګناه معاف کړه.

ليکن دَ دهٔ دَ بي پرواهۍ په زمانه کښ مفرور عبدالرحمان په بخارا کښ ډير چالاک او بلد شوي وهٔ. دَ بخارا دَ امير په مدد ئي فوځ جمع کړ په جيحون سيند باندِ راپوريوت په افغاني ترکستان کښ ئي دَ شيرعلي حاکمانو ته څه بدي ورکړي او دَ خان په دده ئي کړل. دَ امير لايق جرنيل محمد رفيق هم دَ هغهٔ مددګار شهٔ. دَ پيرنګيانو ملک ته راورسيد او اعظم ئي هم خان سره ملګري کړ او بيا په يو لوي شان شوکت په ۲ مارچ ۱۸۶۵ سنه کښ کابل ته ننوت.

دَ دي خبر په اوريدو دَ امير هوش والوت او ټول ليونتوب ترِ نه وُوَت. هغه وخت ۱۴ زر څوانان ئي خان سره واخستل چه

په کښې پينځهٔ زرَ سوارهٔ وُو او ۲۵ توپي وي او له غزني نه کابل ته روان شهٔ او په ورمئي یاغیانو سره مخامخ شهٔ چه په شیخ آباد کښې په آرام ناست وُو.

یاغیان په ډیرو ځبرو کښې زورور وُو-اول دَ هغو شمیر ډیر وهٔ-دویم ښه موقعه يَې په لاس کښې وَه-دریم په تیارو مورچو کښې جنګیدل-شیرعلي ورپښې ګډار فایده مند ګنړهٔ په ډیري بهادرۍ يَې خپل فوځونه مورچو ته مخامخ کړل-دري حملي رادرستو شهٔ-لیکن په ځلورم ځل هغهٔ یوه داسي زورورهٔ حمله وکړه چه دَ هغي په وجه یوه ښه موقعه ورته په زور لاس ته راغله مګر په دي نازک وخت کښې هغه کوم فوځونه چه يَې له قندهار نه ځان سره راوستي وُو هغويَ دَ یاغیانو سره ملګري شول-دَ هغو په بیوفائيَ امیر ماتي وکړه او دَ جنګ له میدان نه تښ ۵۰۰ سوَرو سره وتښتید.

تر دي وخت پوري دَ دهٔ میرنیَ ورور افضل دَ غزنین په قلا کښې قید وهٔ-دَ غزنین دَ قلا حاکم راوُوبیست او عبدالرحمان ته يَې حواله کړ-دغه وخت افضل خان دَ مرادمند و یاغیانو سردار جوړ شهٔ. او دَ امیر په تخت او تاج يَې قبضه وکړه-څو ورځي پس دَ پیرنګیانو منشي ته چه په کابل کښې وهٔ دا حکم وشهٔ چه ته افضل خان ته مبارکي ورکړه

شیرعلي خپل ملګري له غزنین نه څه قدرِ لري راټول کړل او ورته يَې وُوِ چه که ما په خپل کوشش تخت واخست نو بیا به تاسو ته اجازت درکړم چه کوم ځوا موزرهٔ وِي نو هغه ځوا لار شئ-بیا

ترکستان نه لاړ بل فوځ يې جمع کړ او هغه سره په کابل راوخوت۔ هلته ورته عبدالرحمان دَ مقابلې دپاره مخکښ شهٔ۔ دې سردار په داسې لياقت سره هغهٔ نه يو جنګي تير ورکړ چه دَ هغهٔ دَ فوځ دَ هغو دوارو برخو په مينځ کښ راننوت چه امير جوړې کړې وې۔ او دَ کوم برخې کمان چه دَ امير په خپل لاس کښ نهٔ وهٔ په هغې يې دَ الله داد دَ قلا مخه حمله وکړه او په ۱۳ ستمبر ۱۸۶۶ء يې شکست ورکړ۔ دَ امير په دې واقعه زړهٔ مات شهٔ او لاړ۔

له دې جنګ نه درې هفتې پس هغه غاصب چه دَ هغهٔ دپاره دا ټول کوششونه شوي وُو مړ شهٔ۔ له مرګ نه ورښې پيرنګيانو هغه خبر کړې وهٔ چه څو پورې ستهٔ بعضو صوبو لکه هرات او قندهار بادشاه نهٔ يې منلې نو مونږ تا دوست کولې نهٔ شو۔ که تهٔ دا صوبې په خپلې هوښيارتيا لاس ته راولې نو مونږ به دِ دوست وګنړو۔ افضل ته چه کومه چيټئ برټش ګورنمنټ ليکلې وه دَ هغې آخرې الفاظ دا دي:۔

"څما دوست! دَ پيرنګيانو دَ حکومت ټول تعلقات دَ افغانستان اصلې بادشاه سره دي۔ که چرې تهٔ خپله بادشاهي په افغانستان کښ پوره پوره مضبوطه کړې او دَ زړهٔ له اخلاص دَ پيرنګيانو دوست او مددګار کيږې نو زهٔ به دِ په خوشحالئ دَ داسې لوې مرتبې لايق وګنړم۔ ليکن زهٔ اوس لا دَ شير علي خان سره اقرارنامه نهٔ شم ماتولې او تر اوسه پورې يې دَ افغانستان دَ هغه ټوټې بادشاه منم چه په هغې دَ هغهٔ حکومت دَی۔ دا درته په ايماندارئ صاف صاف وايم"

دَ افضل خان په ځاي اعظم خان کښیناست. دَي هم پېرنګیانو امیر ومانهٔ لیکن دَ دهٔ زمانه زر تیره شوه ۱۸۶۶ء کښ شیر علي خان له ترکستان نه هرات ته راروان شهٔ او دَ جون په میاشت کښ قندهار ته راغئ. هلته دَ دهٔ عزت دَ بادشاه په شان وشهٔ. دَ هغهٔ جرنیلانو په کابل حمله وکړه. بالاحصار ئي دَ توپو په زور واخست او ټپیله هم ورسپي زر ورغئ. اعظم خان غاصب له بدي ورځي بیا دَ پېرنګیانو ملک ته راورسیده. په جنوري ۱۸۶۹ء کښ عبد الرحمان سخت شکست وخوړ او ټوله علاقه دَ شیر علي په لاس راغله. امیر دا آخره کته دَ درېئ کسو په برکت کړي وه یو دَ هغهٔ زوئ یعقوب خان. بل ئي ورور اسلم خان او دریم ئي وراره اسمٰعیلخان دَ امین خان زوي وهٔ.

دغسي بي دَ بهر له مدد نه سره دَ دي چه پېرنګیان هم دَ هغو داکي مارو دَ یوځو ورځو په کته باندِ دَ هغو پلو ته کاږهٔ شوي وُو. امیر شیر علي خان دَ خپل پلار وصیت په ځاي کړ او آخرئ دَ ټوري په زور هغه تخت واخست چه دَ افغانستان دَ امیرزادګانو حق دَي. په ۱۸۶۹ء کښ دَي دَ افغانستان یي اَریک شریک بادشاه وهٔ. داسي زورور بادشاه وهٔ چه دَ دهٔ له دښمنئ نه ویره او په دوستئ باندِ اعتبار کار وهٔ اوس شیر علي هغه شیر علي نهٔ وهٔ چه ۱۸۶۳ء کښ وهٔ.

دَ شیر علي دَ بدبختئ زمانه دَ ۱۸۶۸ء دَ کښتي په سبب خلاصه شوه. دَ دغکښ مضمون دَ پوهولو دپاره موږ په یو جُدا باب کښ دَ روس دَ هغي چالبازئ حال حوال لیکو. چه له ۱۸۴۵ء نه تر سن ورځي پوري په منځ دَ ایشیا کښ جاري دَه.

# دولسم باب (۱۲)

## دَ ایشیا په مېنځ کښې دَ روسیانو او دَ پېرنګیانو حکمت عملیٔ

دَ دي تاریخ په تېر شوي باب کښې ما بیان کړي دَي چه بس دَ روس دَ حملي له وېري په سنه ۱۸۳۹ع کښې پېرنګیانو کابل ته لاس ترلي وهٔ. دَ زار روس دَ خپلي نورخانهٔ دِ دي دَ بادشاهئ دَ اَرتولو دَپاره دَ هغه وخت نه ورسَبي هر څه خیال چه وهٔ لیکن دَ هغه سرحد لري وهٔ. او دَ نوځونو ئ به دومره لري منزل باندِ رارسیدل ګران وُو. نو ځکه دَ پېرنګیانو دَ لاس ترلو لا وخت نهٔ وهٔ. او په دي وجه دَ دوئ دي کار ته نیک نهٔ شي ویلیَ. دَ سنه ۱۸۳۸ع او سنه ۱۸۴۲ع دَ حکمت عمليَ په بیان کښې دا خبره یاده لرل پکار دِي چه افغانستان او هندوستان دَ دري زورَورو او خوداختیارَ ریاستونو په وجه دَ یو بل نه لري وُو چه پنجاب سنده او بلوچستان ئ ورته ویل. زهٔ په یقین سره دا ویليَ شم چه دَ مېنځ ایشیا اخستل دَ زار دپاره یوه ورانه مشوره وَه. ځکه هغهٔ دَ سمو او صافو کارونو نه دَ ده کوله هغهٔ دَ خپل مراد دَ حاصلولو دپاره دَ قسطنطنیي قبضه او دَ کوه قاف دَ سرحد ماتول ضروري ګنړل. زار په سنه ۱۸۵۴ع کښې په قسطنطنیه حمله وکړه خو نامرادَ شهٔ او یو څو ورځي پس مړ شهٔ. لیکن دَ هغهٔ خیالات مړهٔ نهٔ شول. دَ قسطنطنیي سړک دَ یو څو ورځو دپاره بند شهٔ. او له هغهٔ نه پس بل زار کوشش وکړ چه هغه بندیز دَ همیشه دپاره دَ مخي لري کړي چه دَي

يَ دَ منځ دَ ايشيا دَ ميدانونو، رِيګستانونو، دريابونو او ښهرونو ته منګ کړي وَه، ځکه هغهٔ په ۱۸۵۶ کښې دَ کوهِ قاف دَرو ته يو نيم لک فوځ ولېږهٔ او دَ هغه ځاي دَ حاکمانو نه يَ ملکونه واخستل. نتيجه يَ دا شوه چه هغه دَ پېرَس په روغه بلِلِ له لاسه تحط کيدو نه دري کالَ پس دَ کوهِ قافَ په قلاکانو حمله وکړه او دَ غرونو حاکمانو چه ډيره مُده يَ دَ روس غاښونه شميرلي وُو له ناچارَيَ خپلي قلاکاني پرېښوي او دَ سلطانِ روم ملک ته په شرونِي راغلل.

څه وخت چه روسيان دَ کوهِ قاف دَ غرونو دَ بندونو ماتولو کښې لګيا وُو هغه وخت يَ هم خپله آخره مدعا يادهٔ وَه. ځکه چه څو کالَ ورپښي هغو خپله لار په هغه کوزو ميدانونو کښې جوړه کړي وَه چه دَ الطان او دَ جيګزارتس دَ لرِ تر منځ پراتهٔ دِي. څه وخت چه کوهِ قاف کښې هغو ته امن حاصل شهٔ نو بيا يَ دَ خپل هغه مطلب دِپاره قدم مخکښې اوچت کړ چه له ډيري مُدي راسي دَ دوي په مغزو کښې وَه. تر ۱۸۶۳ پوري يَ دَ جيګزارتس سيند په کودرونو صبر کړي وَه لکر دَ دي کال په آخر کښې راوراندِ شهٔ. دَ کوه قند په ښتُون رياست بانډِ يَ ورپښي حمله وکړه. دَ سمرقند دَ مشهور ښهر دَ اخستو نه پس دَ بخارا دَ امير دَ فوځ سره مخامخ شهٔ. نتيجه دا شوه چه امير شکست وخوړ او ترکستان روسيانو ته په لاس ورغئَ.

دَ روسيانو په دي مخکښې کيدو دَ هندوستان او دَ انګلستان په حکومتونو کښې يو تردد پيدا شهٔ. او روس ته يَ په دي باب کښې يوه چيټيَ ولېږله. پرنس ګارس ښکارف چه کوم جواب ورکړ هغه رښتيا دَ

روسي توب وهٔ. دَ سمرقند او دَ ترکستان دَ اخستو ئې دا عذر وکړ
چه دَ روس په سرحد باندِ دَ دي دوارو ښهرونو کښ بانو شوکي کولي
ځکه له ناچارئ نه دا کار وشهٔ. پرنس په خپل عبارت کښ دومره
نور هم لیکلي وُو چه دَ کوم ضرورت دپاره چه روس اوس ښپه
اوږده کړي دَه هغه تر سره شهٔ. روس دَ پېرنګیانو دَ تسلئ دپاره
دَ جغرافيي په موجب یو حد مقرر کړ چه دَ هغه ځاي نه به وړاندِ
قدم نهٔ ږدي.

په دي دَ انګریزانو څه قدر تسلي وشوه. که دَ نومبر سنه ۱۸۶۴ع تاریخ
چا ته یاد وي او دا خبره هم ورته یاده وي چه څه وخت شیرعلي په
کورنو جګړو کښی لګیا وهٔ او دَ هغو په سبب څه مُدي پورې ئې بادشاهي
هم له لاسَ وتي وَه نو هغهٔ ته به دَدي خبري وجه معلومه شي چه
دَ برټش ګورنمنټ څه لږه ډیره تسلي دَ هغي چیټئ په جواب شوي وَه

لیکن دَ سر رالنسن دا خبره ډیره رښتیا دَه چه "دَ دي کاغذ
سیاهي لا وُچه شوي نهٔ وَه چه دَ روغي دَ لوظونو مخالفت شروع شهٔ"
روس دَ بخارا امیر سره ډیر په زور مخالفت راواخست او بهانه ئې دا
جوړه کړه چه یو څو روسیان بخارا ته دَ خبرو اترو دپاره لیږلي شوي
وُو هلته نظربند شوي دي او په دي بهانه په جون سنه ۱۸۶۵ع کښ ئې
تاشقند واخست. بیا ئې په سټمبر سنه ۱۸۶۵ع کښ دا دُوِ چه "دَ زار دَ
خپلي علاقي زیاتولو ته زړهٔ نهٔ دَي" لیکن سره دَ دي په سنه ۱۸۶۶ع کښ
ئې خجند واخست چه دَ جیګزارټس ګُنجي وَه. او په کوه‌قند باندِ ئې
حمله وکړه. نیمه صوبه ئې سمدستي لاندِ کړه. او نیمه ئې یو وطني

سردار خدایارخان ته په دي شرط پرېښوه چه داسي حکومت به کوي لکه چه دَ روس تابعدار وي - دَ نومبر سنه ۱۸۶۴ هغه کاغذ يې په قصد یا په هیره شا ته وغورزاوه او دا نوي ملکونه يې خپل ملک سره شامل کړل - او په جولائي سنه ۱۸۶۷ کښ چه شیرعلي دَ خپلي بادشاهيُ دَ واپس اخستو په فکر کښ وه. روس په دي زمانه کښ دَ بخارا سرحد ته بالکل نزدي شوي وه او دَ دي نورو ملکونو دَ حفاظت په بهانه دَ روس کمانیر جنرل کاف مین یوه مضبوطه څوکۍ سمرقند څخه نزدي اچولي وه - دا څوکۍ داسي دَ زړهٔ په سر ولاړه وه چه دَ بخارا دَ امیر په زړهٔ يې تیارهٔ کړي وه - دَ دي نه دَ هغهٔ خوداختیارئي ته نقصان رسیدهٔ - څکه هغه مقابلي ته تیار شهٔ خو شکست يې وخوړ - نتیجه يې دا شوه چه په سمرقند باندِ دَ روس فوځونو قبضه وکړه - په دي قبضي دَ بخارا او بهٔ بند یدي څکه دَ بخارا امیر له بدي ورځي دَ زارِ روس قلنګ ومانهٔ -

دا وخت دَ ۱۸ جنوري سنه ۱۸۶۹ پوري ما په منځ دَ ایشیا کښ دَ روسي کاردنو تولو تاریخي نقشه ترهغي وخت پیش کړي دَه کوم وخت چه دَ کابل امیر بي دَ باهر له مدد نه خپلو ټولو دښمنانو ته شکست ورکړي وه او بي دَ چا اړیک شریک نه يې دَ افغانستان بادشاهي اخستي وَه - دا څلور پنځهٔ کالَ هغهٔ دَ خپلو سرحدونو دننه بغاوت دفع کاوه او په دي مُده کښ روس دَ سنه ۱۸۳۵ چالبازي ربتیا کوله او خپل سرحد يې دَ جیحون سیند پوري راورسلوهٔ چه دَ امیر دَ علاقي په قطب پوله باندِ دَي -

چه په سنه ۱۸۶۹ء کښې د روس او د امیر علاقې نزدې شوې نو د هندوستان د انګریزي حکومت غوږونه بوس شول ځکه چه هم دې کال کښې لارډ کارنیډان د روس وزیرمال سره یو مصلحت وکړ چه د افغانستان ریاست به څومره تر مینځ یو بریډ وي - پرنس کارس شکاف دا خبره په خوشحالۍ ومنله او ووئي وِ چه څومره بادشاه افغانستان له هغه کړښې نه باهر ګنړې تر کومې پورې چه د روس د حکومت اثر دې" د ګورنمنټ آف انډیا هغه اعتراض بالکل د عقلمندۍ وه چه په یو داسې انتظام بانډ شوې وه چه د هغې په سبب افغانستان د انګریزانو له سورې نه بالکل باهر ووت - په دې خبره دوه کاله پورې تکرار کیده - د روس ګورنمنټ به د خپل وزیرمال په ذریعه مخالفت پیش کاوه - لیکن په داسې مزیدارې طریقه چه د روس اراده سهیل ته د وړاندې کیدو نه ده او په زیاتو ملکونو اخستو سره حکومت کمزورې کیږي - آخر روس په دې راضي شه چه پورتنې جیحون دِ د افغانستان سرحد مقرر شي -

لیکن کومه زمانه کښې چه روس داسې اعتراضونه او حجتونه پیش کول هغه پټ پټ په خیوا بانډ د لام ترلو تیارې کاوه - په خپل مطلب پیټولو کښې داسې چالاک وه چه د روس د وزیرمال دم په انګریزي سفیر بانډ وچلیده - لیکن اصلي خبره رو رو ښکاره شوه - په سنه ۱۸۷۳ء کښې لارډ اې لوفټس پیرنګیانو ته دا خبر ورکړ چه ما ته پخه معلومه شوې ده چه د خیوا د لام دپاره تیارې شوې دې او یو مناسب موسم او وخت ته ګورې - سره د دې پخپله روسي حکومت او د هغه د

لندن سفیر له دي خبري نه انکار کاوه. آخر په ناچارۍ ئې اقرار
وکړ چه یو وړوکي غوندِ لام ترلي شي چه تش ځلور نیمي پلټني
به په کښ وي. د دي دپاره چه د شوکمارو یوي ډلي ته سزا
ورکړي. خلقو ته ادب وښیي. د روس سفیر دا هم بیان وکړ چه
د زار روس په خیوا باندِ د قبضي کولو نیت نهٔ دي. بلکه د دي
خبري ئې سخت حکمونه هم جارِي کړي دِي. آخر د دي ټولو ټګو
تورو نتیجه دا شوه چه یو څو میاشتي پس په ۱۰ ارجون ۱۸۷۳ء
کښ ئې خیوا واخسته او د جیحون د سیند د ښي ډډي ټوله
علاقه د روس ملک سره شامله شوه. د روس شهنشاهي ومنلې
شوه او د خیوا له خان نه ئې د جنګ یو لوي تاوان واخست. دا څو
د روس د قسمونو او لوظونو حال دي.

دلته شیرعلي چه کوم وخت د روس دا غاصبانه کارروائي ولیدهٔ
نو وار پارئ خطا شهٔ او په خپل ملک وویریدهٔ. ځکه د هندوستان
وایسراي لارډ نارتهبروک سره ئې په ۱۸۷۳ء کښ د یوي خالصي
دوستۍ پیدا کولو خبري راواچولي.

په کوم ترکیب چه خیوا د خپلو قسمونو او وعدو برخلاف روس
واخسته هغه ډیره د حیرانتیا خبره ده ځکه چه د هغه وخت انګریزي
حکومت هیڅ هم و نه کړل. لارډ ګرینوال چه وزیر خارجه وهٔ په
دي انتظامونو باندِ څه ډیر غور و نه کړ. او د روس وزیر ته ئې
صرف دا قدر ولیکل چه په مینځ ایشیا کښ د دواړو حکومتونو
دبد به د لوظ قول سره موافقه یکار ده. د دي په جواب کښ پرنس

کارس شکاف د لارډ کرېنوال ښه تسلي وکړه خو خالي په انګرېږ دنګړه-
(زار دِ شم قربان دِ شم خوشکه دِ مه وَي)

د روس تتول چلونه او نکې تر ۱۸۷۳ پوري په ښه شان سره بیان شوي. اوس دا کتل بکار دي چه د هندوستان حکومت د روس د مخکښ تلو نه منځ کولو دپاره څه تدبیرونه اختیار کړل. زهٔ په دوهٔ وجهو ۱۸۷۳ نه سپیرهٔ کال وایم. یو له دي وجهي نه چه روس خیوا واخسته. بل ځکه چه د حکومت ملکري شیرعلي خان نه د خپل ریاست په باب ساک سیلي پوره-

په تیر شوي باب کښ د شیرعلي د تاریخ په آخر کښ ما دا خبره لیکلي ده چه په افغانستان کښ د امیر تصرف په ښه شان سره وشهٔ نو هغهٔ د پنجاب د ګورنر په وسیله د هندوستان وایسراي سره د دوستي د مزي مضبوطول وغوښتل. د دهٔ به لو یه تسلي شوي وه که وایسراي ورسره په پېښور یا سرحد بانډ ملاقات کولو ته راضي شوي وي.

لارډ لارنس ورسره ملاقات کولو ته راضي وهٔ خو کابل نه د دي جواب رسید و نه ورنبي د امیر تخت بیا د عبدالرحمان له حملي نه په ویره کښ شهٔ. ځکه امیر ورسره د ګورنو ضرورتونو په وجه ملاقات و نهٔ کړي شهٔ. سره د دي چه مخکله یي درخواست کړي وهٔ-

څه لږي غوندې مُدي دپاره عبدالرحمان د امیر له زور له جیحون سیند نه پوري وتښتید او به ۱۸۶۹ کښ هغه خبره په خوشحالي ومنله چه نوي وایسراي لارډ میو ورته په انباله کښ د ملاقات

کولو دپاره لیکلي وَه -

لارڈ مَیُو په هر شان دَ مَلِکي یو لایق نایب وُه - له خپل دروند خوَي او ثقه والي نه علاوَه یو داسي قابل انسان وُه چه چا سره به ئي خبري شوي نو په ځان به ئي مَین کړ- چه امیر سره ئي انباله کښ ولیدل نو اگرکه دَي دَ زړهٔ له اخلاصَ دَ هغه قسِم همدردَیُ ضامن کیدَي نهٔ شهٔ کومه چه دَ دي میلمه مطلب وَه بیا هم دَ هغهٔ ئي په ځان بانِدِ اعتقاد راوست او دَ خپلي نیک نیتيَ تسلِي ئي ورکړه -دا یوه بد نصیبي وَه چه لارڈ مَیُو لا هندوستان ته نهٔ وهٔ رارسیدلَي چه هغه وزارت چه دَي ئي رالیږلَي وهٔ له خپلي عهدي نه استعفا ورکړه -دَ دي وجهي نه اگرکه دَي دُ"قدامت پسند پارټيَ" سرَي وهٔ خو اوس دَ "لبرل پارټيَ" دَ یو کاردار په حیثیت کښ پاتي شهٔ -نتیجه ئي دا شوَه چه هغهٔ خپل پوره پوره کارونه او کوششونه وکړل مګر اصلِي نتیجي دَ امیر له امیدونو نه ډیري کمي راوختي-

دَ ۱۸۶۹ء کال چه وایسراي امیر شیرعلیخان دَ ملاقات دپاره رابللَي وهٔ دَ افغانستان په تاریخ کښ یو ضروري کال دَي -که پیرنګیانو نه دَ روس تیاري ورپتي معلوم وَي نو دا کال به یو دَ فیصلي کال وهٔ -ځکه چه اگرکه شیرعلي ته هر وخت هغه ناروا سلوک چه په دهٔ ئي شنهٔ ریلي وُو مخکښ مخکښ کیدهٔ نګر بیا ئي هم دَ پیرنګیانو سره بُغض نهٔ ساتهٔ- دَ دهٔ په زړهٔ کښ په معقولو وجهو سره ویره او امید قایم شوي وُو -او که دَ انګریزانو له ډډي نه

صفا صفا دَ هغهٔ تسلي شوَي وَي نو هغهٔ به نتول عمر په دوئ باندِ اعتبار کاوهٔ - که چرې په سنه ۱۸۶۹ء کښې هغه ذمه وارِي دوئ په ځېل سَر اخستې وَي په کومو چه بیا ورستو راضي شول نو دَ امیر په دلبار کښې به دَ دوئ دَ کامل رسوخ مدعا په ښهٔ شان سره حاصله شوي وَه -

که چرې په انباله کښې دَ امیر هغه شرطونه منظور شوِي وَي کوم چه بیا ورستو په پېښور کښې منظور شول نو دې کښې شک نِشته چه دَ کابل په ریاست کښې به دَ روس دَ رانوتو خبر هیچرې نهٔ وهٔ اوریدلې شوَي - انګریزي مدبرین دَ راي عامه په انتظار کښې ناست وُو او پخوانو قاعدو باندِ ولاړ وُو چه څومره دَ لاس اچولو ذمه وارِي دِ ډېره لږه وِي - او عام خیالات لا تر مراده نهٔ وُو رسیدلِي ځکه دَ انبالي جرګه اګرکه دَ ځنو خبرو له کبله ښه وَه ځکه چه شیرعلِي باندِ دَ رابلني ښهٔ اثر شوَي وهٔ - او کابل ته چه تلو نو دَ وائسراي یو دوست جوړ شوَي وهٔ - خو بیا هم دواړه طرف ته په ښهٔ شان سره تسلِي نهٔ وه شوي - برټش حکومت ته دَ دې خبري ښه تجربه شوي وَه چه پښتنو سره ډېره نِتیته پیته ګرانه دَه - او کومي خبري چه دَ دوئ په ملک کښې پېښیږِي دَ هغو پوره خبر نهٔ شِي راتللئ څو پورې چه دَ دوئ یو ځېل خاص افسر هلته نهٔ وِي -

دَ زماني په تیریدو کښې څه قدرې هوا بدله شوي وَه دوست محمد سره په سنه ۱۸۵۷ء کښې چه کومه اقرارنامه شوَي وَه دَ

هغې ځلورم شرط دا وُهٔ چه کابل، قندهار او بلخ کښې به انګریزي سفارت مقررېږي او په دي باب کښې دَ شیرعلي خاصو وزیرانو سره وینا هم شوې وَه - په دې شرط باندې عمل کول دَ زباني دوستۍ نه زیات ښهٔ وُو - مګر خاص په کابل کښې دَ امیر دَ منشاء سراسر برخلاف وُو. څه خاص لوظ قول وُ نهٔ شهٔ ځکه چه لارډ میو پوه وُهٔ چه داسې تدبیرونه به شیرعلي یا دَ دهٔ وزیران خوښ نهٔ کړي ځکه هغهٔ بحث ته څه ډیر زور وَرنهٔ کړ - دَ بل طرف نه شیرعلي هم په خپلو مطلبونو کښې څه ښهٔ مرادمند نهٔ شهٔ - دَې اتبالي ته ځکه راغلې وُهٔ چه پیرنګیانو سره په دې باب کښې ملګیرتیا ښه مضبوطه کړي چه دَ حملې کولو یا دَ حملې کېدو په وخت به انګریزان دَ دهٔ ښهٔ مدد کوي - دهٔ دَ دوهٔ خبرو تسلي غوښتله یو دَ روس دَ حملې او بل دَ کورنۍ جګړو - لیکن دا دواړه امېدونه ئې پوره نهٔ شول. دَ مدد تسلي ورته دَ شوندو په سر ورکړې شوَه چه معمولي ورته ویل بکار دي - اول ورته وُویلې شوُ چه ستا کورنو جګړو ته به برټش ګورنمنټ په بد نظر ګوري - او که له باهر نه حمله وشوَه نو وخت بېوخت به ستا مدد کیږي ځنګه چه مناسب وي - او که تا دَ مدد دپاره درخواست وکړ نو دَ عزت په سترګو به ورته کتې شي.

زهٔ دومره خبره نوره هم ظاهروم چه دَ انګلستان حکومت ته لا تر اوسه پورې دَ افغانستان دَ دوستۍ ضرورت نهٔ وُهٔ ښکاره شوې - ځکه چه لا په انباله کښې دا دوهٔ کُنۍ لوظ ورسره وشهٔ نو په دې هم انګلستان کښې پوزه وچونړلې شوَه - او وایسرائې ته حکم

راغیٔ چه د نوځي مدد طمع د شیرعلي غوښته کړه۔

که د لارډ میو اختیار وَي نو هغه وخت د شیرعلي نه ډیر مطلبونه حاصلیدَي شول۔ ما ورښې لیکلي دي چه دهٔ ته تخت بس د خپلو دریو دوستانو په مدد دوباره لاس ته راغلیٔ وهٔ چه په هغو کښې یَو د دهٔ زوي یعقوب خان وهٔ او بل یٔ وررور اسلم خان او دریم یٔ وراره اسمٰعیل خان د امین خان زوي وهٔ لیکن اوس چه په انګریزي علاقه کښې وهٔ نو شیرعلي ته به قِسم قِسم وهمونه او شکونه پیدا کیدل چه هم دا خلق خما په بادشاهي کښې خرنځ اچوي ............ د دهٔ په انباله کښې، پیښور کښې عن چه د خیبر تر دَري پوري دا یقین نهٔ وهٔ چه زهٔ به په خیر خپل وطن ته ورسم۔کوم شکونه چه د پیرنګیانو په ملک کښې ورته پیدا شوِي وُو هغه یٔ په کابل کښې په جارخرګند کړل۔اوس یٔ هغه دري دوستانو سره څه چل وکړ چه د هغو په برکت یٔ تخت احستیٔ وهٔ۔ یعقوب خان یٔ په قسم قرآن سره په هرات باندِ د حکومت کولو دپاره ولیږهٔ لیکن چه هلته ورسید نو جیلخانه کښې یٔ واچوهٔ۔ اسلم خان یٔ پهانسي کړ۔ اسمٰعیل یٔ له وطن ورک کړ،او لاهور ته یٔ وشاړهٔ چه هغلته هغه مړ شهٔ۔ د بل وررور حسین خان یٔ هم د اسلم خان غوندِ خبر واخست۔که چیري د ویسرا دا اختیار وَي چه د امیر او د هغهٔ د ټبر د پاره یٔ د تخت د مضبوطیا اقرار کولیٔ شوَي نو د امیر نه به دا ګناهونه نهٔ وُو شوِي چه هغهٔ تش د ځکښې د بند وبست دپاره کړي وُو۔ او بله دا خبره هم یقیني ده چه هغهٔ د خپل ریاست په باب کښې دومره تړدُد وهٔ نو د برتش حکومت

شاهنشاهۍ به ئې منلې وَه -

اگرکه دَ انبالې په کانفرنس کښې دَ دوارو مدعا حاصله نهٔ شوه - خو دومره وشوه چه دَ امیر له زړهٔ نه دَ غمونو درد کم شهٔ - انگریزي حکومت ته په دې خیال راڅرګند شهٔ چه بس دغه یو داسې قوت دې چه څما مطلب پرې کیدې شي - دا کار په ۱۸۷۳ کښې هغه وخت ثابت شوې وهٔ چه روسیانو څوا احتني وَه نو امیر په عقلمندې وایسراې ته څ راړولې وهٔ - چه که حمله وشوه نو مدد دې راکړې شي - لارډ نارتهٔ بروک دَ هندوستان لبرل وایسراې وهٔ چه دَ "لبرل" حکومت خدمت ئې کاوهٔ دَ دې دوارو په مینځ کښې چه کوم سوال جواب په تار کښې تلې راغلي وهٔ دَ هغې نه لږ شانه حال معلومیږي :-

تار دَ وایسراې له طرف نه په خدمت دَ سکرتري آف ستهیټ

دَ هندوستان - تاریخ ۲۶ جولائي ۱۸۷۳

"دَ کابل امیر صاحب دَ روس په راوړاندې کیدو وارخطا شوې دې او په خان ئې اعتبار نشته - دا درخواست ئې کړې دې چه که بیا دا حمله وشوه نو دې دَ انگریزانو دَ مدد څومره طمع لرلې شي ؟ زهٔ هغهٔ ته دا تسلي ورکول غوښتوم که دې چه څه مونږ وایو هغه مني او دَ باهر په تعلقاتو کښې څمونږ په مصلحت باندې عمل کوي نو مونږ به دَ روپو، دَ وسلې او دَ فوځ مدد ورکړو - که څرې بې لسون حمله دفع کول پیښ شي نو هم به دَ ضرورت پیژندل څمونږ کار وي"

تار د سکرټري آف سټیټ له طرف نه په خدمت د وایسرائي

د هندوستان- تاریخ ۲۶ جولائي ۱۸۷۳

"د وزیرانو د ټولي دا صلاح ده چه ته امیر صاحب ته خبر ورکړه چه مونږ ستا په ویره ترهه کښې بالکل شریک کیدی نه شُو- او نه د دي خبري څه ضرورت ښکاري- لیکن دومره تسلي ورته هرُومرُو ورکړه چه د افغانستان دپاره ښخواني حکمت بانډ به مونږ ولاړ یُو- په دي شرط چه د باهر په معاملو کښې څمونږ مصلحت قبول کړي"-

د ځپل مصیبت په وخت کښې امیر یو ځپل خاص سفیر وایسراي ته رالیږلي وُه- لارډ نارتهـ بروک ورنیي ځل په ۱۲ جولائي هغهٔ سره ولیدل او بیا په ۳۰ جولائي د دوارو ملاقاتونو نتیجه دا وخته چه امیر ته په یو کاغذ خبر ورکړي شهٔ چه "وایسراي ته ستا د ریاست په باب له باهر نه څه ویره نهٔ ښکاري لیکن که ضرورت پیښ شهٔ نو برټش ګورنمنټ به ستا د ګورنمنټ د مضبوطیا دپاره کوشش کوي چه تهٔ په عدل او انصاف سره حکومت وکړي- او کوم عزت چه نن ورځ ستا دي ستا د اولاد به هم دغه سي وي"- په دي کاغذ کښې ئي د امیر تسلي کړي وَه چه "روس ستا ریاست د ځپلي بادشاهي د سرحد نه بهر ګڼري"-

لارډ نارتهـ بروک په ځپل رپورټ کښې سکرټري آف سټیټ ته لیکلي وُو چه د امیر صاحب سفیر ته خبر ورکړي شهٔ که له باهر نه حمله وشوَه او د انګریزانو اقتدار کښې فرق راتهٔ او په روغه صلاح

څه نتیجه نهٔ ختَه نو هغه وخت ممکنه دَه چه برټش ګورنمنټ امیر ته دَ حملي دفع کولو دپاره مدد ورکړِي - لیکن دا مدد به په دي شرط وِي چه یو خو به امیر صاحب دَ انګریزانو په مدد کار کوِي او بل به پخپله په جګړه کښ نهٔ ورننَي کیږِي - هر کله چه دا مضمون ډیر ضروري دَي او دَ سفیر تسلي په ښهٔ شان سره نهٔ دَه شوي ځکه دَ دي صفائي څما په خیال بل وخت ته اتاول پکار دِي"

امیر به په یو داسي نازک وخت کښ چه څیوا روسیانو ته په لاس ورغلي وَه او دَي تردُود دَ شوَي وهٔ دَ داسي وِچي تسلَيُ څهٔ عزت کړي وِي - په دي خالِي لوظونو تسلِي څه چه دَ تسلَيُ ګمان هم نهٔ شِي کیدَي - دَ امیر په طبیعت بانِدِ دَ دي جواب کوم اثر چه وشهٔ دَ هغهٔ دَ ظاهرولو دپاره زهٔ دَ سرهنري رالنسن تحریر پیش کوم - دَي لیکِي چه "امیر صاحب ته په مینځ ایشیا کښ دَ روس او دَ انګلستان دَ مقابلي حال صفا صفا معلوم شهٔ ځکه هغهٔ په دي دواړو کښ ښهٔ او خراب دکوت او زورَوري ډدي ته يُ نخ ستُون کړ - دَ کوم مدد لوظ چه هغهٔ سره برټش ګورنمنټ کړي وهٔ هغه هغَه وخت څه پکار نهٔ راتهٔ ځکه چه دوي په اصل کښ څه معقول مدد منظور کړي نهٔ وهٔ او که داسي مدد شوَي هم وَي نو امیر به دَ هندوستان دَ راجاګانو په شان یو راجه شوَي وهٔ - او که روس سره يُ تعلق پیدا کړي وَي نو دَ انګلستان دَ حملي نه بیغمه کیدَي شهٔ او په دي کښ يُ خپله آزادِي ساتلَيُ شوَه بلکه دَ لُوټ په مال کښ يُ هم حصه اخستَي شوَه - امیر شیرعلِي خان به في الحال داسي نتیجي ته نهٔ وهٔ رسیدلَي او نهٔ به يُ

په دې خیال د آینده زمانې انتظام کړې وه - لیکن دا خرګنده خبره ده چه د شملې د مصلحت راسې چه د ده له ډېرې نه رانه قصداً سپور جوابونه راکړې شوې وُو دا د هغه تحریک نتیجه وه چه ده ته د جیحون د سیند د پورې غاړې نه ورکړې شوې وه (په داسې حال کښ چه هغه د انګلستان له مدد نه بالکل ناامید شوې وه) هم له دې وخت نه د دوستۍ کاغذونه او سوال جواب د تاشقند او کابل تر منځ شروع شه او بیا په داسې حال کښ چه په سینت پیټرسبرګ کښ مونږ ته ښځه ځلې دا تسلې راکړې شوې وه چه افغانستان د روس د بادشاهۍ له کرښې نه باهر دې - مګر څه موده پس د دې انو بهانو دا نتیجه وخته چه د روس یو سفارت د کابل په دلبار کښ قایم شه"۔

ما ۱۸۷۳ء نه سیږه ویلې وه - نوره د پښتنو د واقعو په وجه د ده سیږه وائې ثابتولې شم - ځکه چه هم دې کال کښ روس سره د قسمونو خیوا واخسته او پیرنګیانو هم د هغه بدنیتې په بنه شان ومنله او چه امیر د روس برخلاف د برطانیې له وزیرانو او د هندوستان له وایسراي نه د مدد درخواست وکړ نو هغه ته داسې سپور او سنخ جواب ورکړې شه چه په هغه هغه تعلق بالکل کمزورې شه په کوم چه امیر انګریزانو سره کلکلې شوې وه - او له دېرې بدې او بواځې ورځې هغه خپل دښمن ته نږدې شه چه په یو لوې داو کښ ورته ناست وه۔

ډیرو واقعو (لکه د انګریزانو مواجب په سپک نظر نامنظورول)

دا خبره صافه څرګنده کړه چه په سنه ۱۸۷۳ء کښې چه دَ شیرعلي سفیر نامرادَ
واپس تلی وَه نو هغهٔ دَ انګلستان ملګیرتیا بالکل ورانه شمیرلي وَه- مونږ
هغه ټولي قصي عبث ګڼړو چه امیر خپل دا خیال په خپلي خولي او په
خپل عمل هم ظاهر کړي وَه- هم دا خیال امیر لارډ نارتهبروک ته دَ سنه ۱۸۷۳ء
په کاغذ کښې صفا صفا ښکاره کړي وَه- کوم وخت چه دي لارډ امیر ته
لیکلي وُو چه زهٔ دَ لارډ لارنس او لارډ میو حکمت عملي قایم ساتل غواړم
نو امیر ورته په ځواب کښې وُوِ چه "دا حال وَه نو دَ سید نور محمد شاه
سره په شمله کښې خبري کول بالکل عبث وُو" په دوه بله موقعه کښې
امیر لیکلي وُو چه "څما دَ انګریزانو دَ خیرَ لوره توبه دَه"-

دَ سنه ۱۸۷۴ء په اول اول کښې دَ "توري" وزارت په لاس کښې حکومت
راغیَ- په دي دَور کښې امیر دَ روس ترخ ته خواه مخواه نږدي شهٔ- نوي
وزارت في الحال هغه نقصان پوره کاوهٔ کوم چه له ورنښي وزارت نه
شوَي وَهٔ- لیکن دَ هغو کوشش دَ هندوستان دَ حکومت مخالفت ته
تهینک نهٔ شهٔ- سره دَ دي چه دَ دي خبري تصدیق شوَي وَهٔ چه دَ
روسي ترکستان ګورنر او امیر ګرمي ګرمي چیټیَ یو بل ته لیږي- او
دا هم ښهٔ معلومه شوي وَه چه دَ افغانستان حیثیت هم له مخوا نه
بالکل بدل شوَي دَي- لیکن نارتهبروک او دَ هغهٔ کونسل دَ دقیانوس
دَ وختو انتظام نهٔ پریښود- پس روس له سنه ۱۸۷۳ء نه ۲ کالَ پس دَ
شیرعلي له زړهٔ نه ځیرَي لري کړ خپل کارَي شروع کړ او په دي
بهانه ئي یو اهم وتاړهٔ چه دَ جیحون سیند دَ مخوانِي تل په زمکه کښې
روس دَ کانونو تحقیقات کوِي- څکه کاسک فوځ هغه قامونه تابع

کړل چه دَ اطرق او شمبر په علاقه کښې اوسیدل.

دَ ۱۸۷۳ء په آخر کښې دَ لارډ نارتهه بروک په ځاي لارډ لیټن دَ هندوستان وایسراي شهٔ هم په دغه کال دَ فروري په میاشت کښې روس دَ کوه‌قند پلاتي شوي لوړه نیمه علاقه هم الحاق کړه. نښ ریاستِ فرانګین نیم غونډ خود اختیار وهٔ. هغه وخت دَ انګلستان حکومت ته دَ هغه ملک خیال پیدا شهٔ چه دَ هندوستان دَ قلا لویه دروازه ورته ویلي شي. هله لوړي وایسراي ته دا اختیار ورکړي شهٔ چه دَ شیرعلي سره دَ هغه رعایتونو او حفاظتونو اقرار وکړه چه ورښتي دهٔ له برټش حکومت نه غوښتي وُو.

دَ لارډ کرین بروک خط چه دَ لارډ لټن په نوم ئې په ۱۸ نومبر ۱۸۷۸ء کښې رالیږلې وهٔ. دَ هغهٔ لسم پرګراف دا دَي:

"کوم وخت چه تهٔ دَ ولایت نه هندوستان ته په وایسرایۍ باندې روانیدي نو دَ ملکي حکومت تا ته هدایت کړي وهٔ چه دَ شیرعلي حفاظت او رعایت دِ هغه شان وکړي شي لکه چه دهٔ ورښتي دَ هندوستان دَ حکومت نه غوښتي وهٔ. مګر په دي اقرار تر هغه پوري عمل نهٔ شي کیدَي تر څو پوري چه دَ امیر شیرعلي دَ قاید و دَ انګریزي حکومت دَ مفاد سره دَ یوځاي کیدو پوره یقین وُنهٔ شي. په دي وجه دَ ملکي دَ حکومت دَ طرف نه تا ته اختیار دَي چه دَ امیر دَ مالي مدد او دَ هغهٔ دَ خاندان دَ وراثت اقرار وکړه خو په یوه داسي طریقه چه دَ هغهٔ دا بدګماني پیدا نهٔ شي چه انګریزان دَ افغانستان دننه معاملو کښې خپل دخل

انګلستان دَ دوستانو دوست او دَ دښمنانو دښمن به وِي- وایسراي دَ دي بي لوظئ چه کوم جواب غوښتي وهٔ هغه بالکل روا وهٔ. هغهٔ له امیر نه تش دومره تپوس کړي وهٔ چه دَ زار سفیر کابل ته په عزت راننوزي نو دَ هندوستان سفیر نه ولي مخ اړولی شي دا ئي هم ورته خبر ورکړي وهٔ- که دَ دي کاغذ جواب رانهٔ غئ نو دا به مخالفت وګڼلی شي- امیر دَ ویسرا دَ دوستئ په دي کاغذ داسي سترګي پټي کړي چه دښمني تر څخیدهٔ- دَ وایسرا دَ کاغذ جواب ئي څه ورنهٔ کړ او دَ خیلي څوکئ کمانیر ته ئي حکم وکړ چه دَ پیرنګیانو سفیر راپرېنهٔږدي او که ضرورت وِي نو په زور ئي منع کړهٔ- دَ انګریزانو سفیر چه هغهٔ دَ خیبر په دره ننوتو ته پرېنهٔ ښود نو له ناچارئ نه هغه واپس راغئ-

بیا هم پیرنګیان په غصه نهٔ شول او ساه ئي په قلاره کړه سرهٔ دَ دي چه دوئ ښهٔ پوهیدل چه دا رنګ نرمي دَ مشرق په قامونو کښي دَ کمزورتیا علامت ګڼلي شي-دَ دي دپاره که امیر خپل خیالات بدل کړي او سم شي- وایسراي دَ انګلستان په حکمونو شیرعلي ته په ډیرو نرمو لفظونو کښي یو کاغذ ولیږهٔ- دَ هغي مطلب دا وهٔ چه دَ انګریزي حکومت کوم سپکاوَي چه خاص دَ هغهٔ په علاقه کښي شوَي دَي دَ هغي جواب راکړي- دا ئي هم خبر ورکړ چه که دَ شلم نومبر پوري بالکل صاف او دَ تسلئ جواب رانهٔ غئ نو ستا به مخالفت به یقین وشي او دَ انګریزي حکومت به دښمن وګڼلي شي-

امیر ته چه دَ جواب ورکولو دپاره کومه نیټه دَ ۲۰ نومبر ایښي شوي وَه په هغي کښې هغهٔ ته یوه هفته دَ فکر کولو دپاره په لاس ورتله - لیکن دا مُده يي تیره کړه او په ۱۹ دسمبرئ جواب ورکړ چه وایسراي ته څو ورځي پس ورسید - لیکن هغه صاف او دَ تسلۍ نهٔ وهٔ -

دَ افغانستان دَ دویم جنګ سبب هم دغه وهٔ چه بیان شهٔ - دَ یو داسي افغانستان سره یوه سخته بي لحاظي شوي وَه چه دَ هغهٔ په قطب او نورَ پریوانهٔ قطب خودَ اختیارَ قامونه آباد وُو - او بیا په داسي حال کښې چه دَ افغانستان خپل زړهٔ هم درزیدهٔ چه یو تنګ او ظالم سلطنت آزاد قامونه رو رو خان ته رانغاړي او دَ دنیا په امن امان کښې خرخ اچوي - او ډیر په خوږ زړهٔ يي دَ مدد درخواست کړي وهٔ چه دَ هغي څهٔ نتیجه وُنهٔ ختهَ - ځکه چه انګلستان کښې دَ لبرل وزارت حکومت وهٔ -

افغانستان دَ دوستۍ دپاره ځکه ډیر زور لګولۍ وهٔ چه دَ نور پریوانه او قطب سرحد خو دَ بلا یوه نورۍ شوي وَه او اوس يي دَ خان ویره وَه چه هغه بلا اوس په دازَه خولهٔ ما ته راروانه دَه - خو په هغه زمانه کښې په انګلستان او هندوستان کښې دَ داسي خلقو حکومت وهٔ چه دَ باهر دَ کارونو څه پرواه يي نهٔ لرله - ځکه خو يي دَ روس په لاس اچولو یقین نهٔ کادهٔ - او په دي خبره يي هډو غوږ نهٔ کریدهٔ چه روس سره دَ قسم خوړلو بیا هم په خیوا باندِ قبضه کړي وَه - ځکه هغو دَ افغانستان دَ منت زارۍ دا ځواب ورکړ چه موږ ستا درخواستونه نهٔ شُو

منلئ - او دَ روس تش دَ خولې لوظونه يې ورته وړاندې کړل - او بيا داسې لوظونه چه هغهٔ ډېر ځلې مات کړي وُو - چه له انګلستان نه يې طمع قطع شوه نو افغانستان دا فکر وکړ چه ځان ساتل دَ حمله کونکې په دوستئ کښې دي چه پیرنګیان تر نه هم وېرېږي - د دغه دوستئ پيدا کولو دپاره يې ورپسې دوست سره ورانه کړه - او دَ هندوستان دَ قلا لويه دروازه يې دښمن ته ورکړه - دې کښې شک نشته چه دَ دې دپاره هغهٔ سره غټ غټ عذرونه موجود وُو - او دې کښې هم شک نشته چه انګلستان هغه له ځان نه شړلئ وهٔ - او روس سره هغهٔ ځکه يارانه جوړه کړې وَه چه اوس به خواه مخواه انګلستان وُوېرېږي -

په ۱۸۷۶ع کښې چه انګلستان دَ خپلو لايقو وزيرانو سره مصلحت وکړ نو دَ هغه وړاندې دوستئ جوړولو ضرورت ورته بيا ښکاره شهٔ. ليکن اوس او بهٔ دَ ورخ تيرې شوې وې - او افغانستان ميدان ته دنګلې وُو.

اوس پیرنګيانو ته يو کار پاتې وهٔ چه هغه دَ لارډ بیکنفيلډ حکومت وکړ - انګلستان دَ روس په شپه راوېدولو دنيا ته دا خبره ښکاره کړه چه "مکر او فريب ته عقلمندې نهٔ شي وېلئ او هميشه دَ ښکئ مزې لنډ وي او دَ بادشاهئ له شان لرې وي" +

خـتـم

LIBRARY OF CONGRESS
00016903024